مورچل

پر افغانستان او عراق
نه توجیه کیدونکی یرغل!!

یووولسم کال دویمه، پرلپسې ۱۰۲مه گڼه، جمادی الأولی ۱۴۳۸هـ ق، فبروري ۲۰۱۷م

- پرلپسې ملکي فاجعې !؟
- د گډ وژنیم لپاره د امریکا دوه مخې رواني جګړه ...!!
- اسلامي امت دافرادي قوت پر لور !!
- منفوره او وحشت خپرونکې جګړه!
- داسرائیلو نوی اعلان او دآزاد فلسطیني دولت ....
- به یاد فاتح کندز شهید ملا عبدالسلام رحمه الله
- په ساړه فصل کې تاوده مورچلونه!
- سوم حوت حماسه‌ی جاودان !
- مزدوران استعمار و تهاجم فرهنگی !

شهید ملا عبد السلام
د سربندنې ، اخلاص او شهامت سمبول!

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتيني خپرونه

يوولسم کال دويمه، پرلپسې ۱۰۲مه ګڼه، جمادی الأولی ۱۴۳۸هـ ق فبروري ۲۰۱۷م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	پرلپسې ملکي فاجعې !؟	۴
۳	د کابل د وروستيو بريدونو پوځي پيغام	۵
۴	د ګلو رژيم لپاره د امريکا دوه مخي رواني جګړه	۸
۵	د جګړې عاملين طالبان دي که اشغالګر؟	۱۲
۶	طالب او عسکر	۱۵
۷	بيا هم امريکايي جنايت او بيا هم	۲۰
۸	شهيد ملا عبدالسلام د سربښندنې، اخلاص	۲۳
۹	اسلامي امت د افرادي قوت پر لور!!	۲۶
۱۰	منفوره او وحشت خپرونکي جګړه!	۳۰
۱۱	د اسرائيلو نوی اعلان او د آزاد فلسطين پروړاندې	۳۳
۱۲	اشرف غني او د شريعت د تعميل لاپې !	۳۷
۱۳	به ياد فاتح کندز شهيد ملا عبدالسلام	۳۹
۱۴	په ساړه فصل کې تاوده سنګرونه	۴۱
۱۵	د جهاد فقهي مسائل	۴۳
۱۶	د اسلام غزوات او سرايا	۴۶
۱۷	شهيد حافظ عبدالمتين (فهيم)	۵۳
۱۸	د شهيد ملا عبدالسلام څو يادښتونه!	۵۷
۱۹	سوم حوت حماسه ی جاودان	۶۰
۲۰	په برما کې د ظلم او وحشت نوې څپه	۶۴
۲۱	مزدوران استعمار و تهاجم فرهنګي	۶۷
۲۲	هغه نسل چې دنګو قصرونو او ښکلاوو پرې اغيز	۷۲
۲۳	ګوښې که ټولنيزژوند؟	۷۷
۲۴	د ننګرهار د زراعت او کانال مسئول مولوی عادل سره	۷۹
۲۵	جنګي جنايتونه	۸۱
۲۶	د مورچل وړمې	۸۴
۲۷	د فبروري مياشتې جهادي خبرونه	۸۶

د امتياز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خپل | ايـــوب صـــافی
حـــســن زوی | حکمت بغلانی
زبـير مـسافر | حافـظ سعـــيد

تخنيکي چارې

دفرهنګي کميسيون تخنيکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

پر افغانستان او عراق
نه توجیه کیدونکی یرغل!!

دې وروستیو کې دامریکا پخواني مشر (ډبلیو بش) له (NBC) ایـن بي سي امریکـایي تلویزیـون سره په یوه مرکه وویل: چې پر افغانستان او عراق دامریکایي عسکرو دیرغـل پـه پریکړه او امـر نـدی پښیمانه او پردې دوو اسلامي هیوادونویې دبرید پریکړه پرځای وه ،(بش)چې اوس پـه افغانسـتان او عراق کې دژوبل شویو زرګونو امریکایي عسکرو لپاره لـه خلکـو چنـدې راټولـوي او پخپلـو ټپـي شـویو عسکروپښیمانې او حسرت کـوي، خوداشـغالګرو لـه لاسـه دافغانسـتان او عـراق غونـدې اسـلامي هیوادونو په زرګونوشهیدو شویواو ټپي شویومسلمانانودحسرت او ندامت اوښکې نه تویوي اونـه ځـان ددې مجرمانه فیصلې په کولومسؤل بـولې ،پـدې دواړو اسـلامي اوخپلواکیـو هیوادونـود(بش)دیرغـل مفتضحانه فیصله ،چې دټولواسلامي او بین المللي وضعي قوانینوخلاف او کومه توجیه ورته ناشونې ده ،نه کومه نړیواله اسلامي محکمه اونـه هـم کومـه آزاده بـین المللـي محکمـه شـته، چـې دامریکـا ددې مجرم ولسمشر نه ددې بشریت وژونکې یرغل پوښتنه وکړي اودمحاکمې او عدالت میزتـه یـې راکـش کـړي ،کـه چیرتـه داسـې کومـه خپلواکـه محکمـه وی، نوشـک نـه و،چـې بیـا بـه نړیوالـوددې بشـري جنایتکارځرګنـده محکمـه کـتلای وی، خولـه بـده مرغـه چـې نـن سـبا دنـړی دمحـاکمواو وضـعي قوانینودتقنین او تسویدمراندې بالفعل یا بالقوه دامریکایانو په لاس کې دي، نوځکه دداسـې نړیوالـو مجرمینوآزادې محاکمې دځنډ وخنډښکار اومنصفانه قضاوت یې دهوسی په ښکر کې نښتی دی .

پـه (۲۰۰۱ ز)کـال داکتوبرپـه میاشـت کـې د(ډبلیـو بـش) پـه لارښـوونه امریکایـانو او ددوئ مؤتلفولویدیځوهیوادونوپه اصطلاح (دترهګرودشتون) په پلمـه پرخپلـواک افغانسـتان او پـه (۲۰۰۳ز)

دمارچ دمیاشتې په (۲۰)مه نیټه یې پرعراق دکیماوي وسلو په بهانه یرغل وکړ،چې نه یې دافغانستان په میشتوولسونو کې ترهګري ومونده او نه یې عراق کې کیماوي وسلې پیدا کړي، خو دیرغل ددې نا موجهو دلایلوسربیره بیا هم (ډبلیو بش)پر خپل یرغل اندیښمندندی اوبرعکس وایې ،چې ددې اشغال پریکړه یې پر ځای وه ،پداسې حال کې چې اوس هم افغانستان کې ددوئ داشغالګرو پرضد دولسي- جهاد سلسله په چټکۍ سره پر مخ روانه ده او هره ورځ تربلې پیچلې کیږي ،دوئ کله دخپلو عسکرو دانخلاءغولونکې خبرونه میډیاته ورکړي، چې هغه دیپلوماسي ناکامه شي، بیا دسلاکارانواو روزونکیوپه نامه نور پټ شوي خارجي عسکر دجنګ میدان ته راوباسي او په ولسي- وګړو خطرنک بمونو استعمال اوشپني عملیاتونه کوي ،چې دا تجربه یې هم دافغانستان په پنځه زره (۵۰۰۰)کلن لابرطوارکې ناکامه شي، نو بیاووایې چې مونږباید دافغانستان بې سره او بې پښو اردو!! تقویه تغذیه او مډرنو وسلوسنبال کړواو مونږ به یې ترشا ناست یو،اوچې کله یې دا تجربه دناکامیابیدو خواته روانه شي، نوووایې د(ډونالډټرمپ)داضافي عسکرو نوې فیصلې ته به انتظاریو او...او....

دې کې کوم شک نشته، چې نه یوازې دافغانستان او عراق دولسونوبلکې پخپله دامریکاولس هم ددې اشغال خلاف دي اودثبوت بیلګه یې د(بارک اوباما)ټاکنیزکمپاین اوبیا یې ټاکنه وه ،نوموړې به دانتخاباتي کمپاین په مهال ولسونو ته ددې ژمنه ورکوله، چې که زه ولسمشر- شوم امریکایان به له عراق او افغانستان نه راوباسم او د(ګوانتانامو)بدنام زندان به ختموم ،نوموړی که څه هم چې دخپلو ټاکنیزوژمنو په ډیروکمووعدو وفاوکړای شوه او کړي ژمنې یې پوره نکړای شوي ، خو په مجموع کې دده ټاکنه ددې څرګند ثبوت دی، چې امریکایان نور ددې یرغل نه ستومانه دي او داوږدې جګړې دتحمل وس نلري ،دې کې هم کومه شائبه نشته، چې دافغانستان جګړه دامریکادتاریخ ترټولواوږده او ستړې کوونکې جګړه ده او دامریکاپه تاریخ کې کومه داسې اوږده جګړه نده تیره شوي،دوئ چې اوس کومه جګړه افغانستان کې پر مخ بوځي، دا اوس داسې موږ باندې ولاړه ده، چې نه یې مخکې بوتللای شي اونه ترې له شرمه شاته کیدای شي ،اوس ددوئ پښې دسلیښو په ډنډکې ښبې دي ،خو دنجات کومه ژغورونکې لاره نه ګورې ،چې همداخبره دې وروستیوکې افغانستان کې امریکایي عسکرو(غوڅ ملاټر) قوماندان(جنرال نیکلسون) دامریکادسناجرګې دغړوپه استماعیه غونډه کې په ځغرده وکړه او ویې ویل: چې مونږامریکایان اوس دافغانستان په جګړه کې داسې نښتې یو، چې نه پکې مخکې تللای او نه

شاته راتللای شو،نوددې نه بله چاره نشته، چې نـوی ولسمشر-(ډونالډ ټرمـپ) مـو پـه ډيـرو نـورو امريکايي عسکرو ملاونه ټړي!.

هوکې !

اوس ددې وخت و،چې (ډبليو بش)په ډير صراحت سره دافغانستان او عراق په جګړه پښيماني ښودلی وی او په ډاګه يـې دې هيـواد کـې خپلـه مـاتې منلـی اولـه افغانـانو او عراقيـانو نـه يـې بخښـنه غوښتی وی ،نه داچې ددې ميړنيو ولسونوپه ټپونو نوره مالګه هم ورتويه اونوريې هم ټپ دناورين تـر پولې ورسوي .

که نه دده نه وروسته، دده ځای ناستې (بارک اوباما)دخپلې واکمنۍ په وروسـتيو ورځـو کـې ددې هيواد دفلوريډا ايالت په هـوايي ډګـر کـې دامريکـايي امنيتـي چارواکيوپـه يـوه غونـډه کـې دامريکـايي عسکروداعلی سرقوماندان په حيث داسلامي امارت دمجاهدينو په وړانـدې خپلـه مـاتي ومنلـه او دايـې تسليم کړه، چې امريکايان طالبان نشي ماتولای ،نوموړې چـې دتـاريخ پـه وړانـدې خپـل مسـؤليت لـه اوږوليږې اوځمکني حقايق يې خلکو ته څرګند کړل ،بوش هم بايد پـدې بـدنام يرغـل کـې دشـهيدو او ژوبلو ولسونونه معـافي غوښـتی وی او نـوې مشرتـه يـې دعسـکرو دچټـک ايسـتلو مشـوره ورکـړی وی ،ترڅو دا بشري ناورين نور پای ته رسيدلی اوخپلواک ولسـونه دخپلـې عقيـدې او آرمـانونو پـه رنـا کـې ديوه اسلامي حکومت جوړيدو ته تابيا نيولی وی ،نه داچې دبشر دحقوقـودا دعـوی دار اوس هـم خپـل بشري جنايت توجيه کړي او دده لـه لاسـه ځوريـدلې ولسـونه نـورهم دنـورو اوښـکو تويولـو تـه واداره کړي .

دپينټاګون جنرالان چې جنګي جنون اخستي ، دافغانستان په طويل المدت جګړه کـې خپلـې نـا مشروع ګټې وينې اواوږده جګړه يې منافع تضمينوي، نو ځکه د(ډنالډ ټرمپ)لـه اداري نـه هيـواد تـه د نويو اضافي عسکرو دليږلو غوښتنه لري ،خو زمونږپه نظر دافغانستان غونـدې يـوه غـرني او سرشـاره هيواد ته نورې عسکرې دستې ليږل، به دنورو جنازوپه ورليږلو اودنورو بشري جنايتونوله ارتکاب نه پـه غير بله کومه معنی ونه لري اونه به دا کشاله حل کړي، بلکې نوره به يې هم پسې پيچلې اوبالاخره به دوئ او عسکريې سرکوزې او خجالت ددې هيواده وتلو ته اړيستل شي ،که (ډبليو بش)ددې جګـړې نه خير وړی وي، نو (ټرمپ)به يې هم يوسي، که نه دافغانستان دکشالې دحل لاره همدا ده، چې دوئ نور له دې هيواده خپلې کډې بار او افغانان پريږدي چې خپل برخليک پخپله وټاکي !!

پرلپسې ملکي فاجعې !؟

خبیر احمد م

افغـــان ځوریـــدلی ولـــس شاهداواګاه دی چې په تیریوه شبانه روزکـــې دهیوادپـــه مختلفـــو ســـیمو اوولایتونوکې امریکایانو او لاسپوڅي رژیم لسګونو بـې دفـاع اوبـې اسرې افغانان دهوایي بمباریو اونوروناترسه بریدونو کې په ترڅ کې په خپلو پاکو وینـو سره اودرنـه مـرګ ژوبلـه یـې وروارولـه .

وحشي یرغلګرو اومزدورانو یې له وړمې ورځې راهیسې- دهیـواد پـه ګڼوبرخوکې عام ولس ترخپل وحشت اوبربریت لاندې نیولی د(B52) ډرون الوتکو اونورو درنووسلوپه زریعـه یـې دهغـوئ خـاورینې جـونګړې بمبـار او شاوخوا ۷۰ تنـه مظلـوم افغانـان چـې زیاتره یـې تنکـي ماشـومان ، ښځې اوسـپین روبي وو شـهیدان اوکلـک ټپیان کړل .

دراپورونولـه مخـې اشـغالګرو دغه ملکـي فـاجعې پـه زابـل، میـدان وردګ، تخـار او فـراه ولایتونـو کـې رامنځته کړې دي.

ویل کیږي چې یواځې د فراه ولایـت د فـراه رود ولسـوالۍ پـه ژړ اخنـدزاده، تپـه سـعادت، تودنـک، سپانزي او بازار ته څېرمه غټ کـلي کې د دښمن پـه هـوایي او تـوپچي بریدونو کې ۱۵ تنه ولسي هیوادوال شـهیدان شـوي او ۲۳ تنـه ټپیـان شوي دي.

دیادوسیموعاموخلکورسـینوته ویلي:امریکایانواوهمکـــــارانویې غوښـتل چـې دفـراه ولایـت پـه دغوسـیموکې عملیـات تـرسره کـړي ،په همدې نیت یـې زرګونـه پوځیـان اوبـې سـاری جنګـي قـوت دهـوایي ځواک پـه ملاتړراوسـتی وو، خـوچې کله طالبانوپرهغوئ متقابـل عملیـات شروع کـړل اشـغالګر لـه خپـل ټـول قـــوت او تجهیزاتـــوسره ســـخت شکست وخوړ نو دتیښـتې پـه وخـت کـې یـې عـام ولـس پـه کورونـو، کروندو، دوکـانونو او جومـاتو کې پـه ډیره بې رحمۍ هدف اونښه وګرځـاوه اوغچ یې له هغوئ څخه واخیست .

پـه ۲۴ سـاعتونوکې د ۷۰ تنـو ولسي هیوادوالو مرګ ژوبلې په ډاګـه کـړه اویوځـل بیـایې داحقیقـت پـه اثبـات ورسـاوه چـې دعامـوولسي- وګړوپـه قتـل عـام اوتلفـاتوکې څـوک دخیل اومعلوم الحاله عاملین یې کوم دي ؟

کلـه چـې دکـال دپـاي شـپې ورځـي نیـږدي شي نوبیـا دیونامـا اودبشـري حقوقونـوتش پـه نامـه مدافعین اودعویداران په خپلو کلیشه یی اویک رخه راپورونو باندي خـولي پرانیـزي اوپـه ډیـرې بـې شرمـی اوســپین ســترګی سره دملکـــي تلفاتوارقـام اسـلامي امـارت تـه منسبوي !!

مـونږ یونامـا اونـورو بشـري سازمانوته وایوچې دتیرو۲۴ ساعتونو پـه اوږدوکـې تـرسره شـوملکي تلفاتواوزیانونوته په کتو چې په فـراه ، تخـار ، زابـل اومیـدان وردګـو ولایتونـوکې امریکایانواوکابـل رژیـم ترسره کړل ،خپله قضاوت وکړي چې دملکي افغانانوقاتلین اووژونکي څوک دي؟

بشري سازمانونه که په رښتیا هم پـه حقـایقو اوواقعیتونـو بـاورلری اوخپلوشـــــعارونوته ژمـــــن وي نودورستیوملکي فاجعوعـاملین بائید پـــه څرګنـــدوټکومحکوم ، افغانـــانو اونړئ تـه ووایـي چـې دفـراه، زابـل، تخار اومیـدان وردګـو ۷۰ تنـه ولسي- افغانـان چاپـه ډیرقسـاوت لـه تیغـه تیراوله منځه یې یووړل ؟

د کابل د وروستیو بریدونو پوځي پیغام !

معین احمد

د روان هجـــري لمریزکـــال د کـــب د میاشتې ۱۱ نیټه د چار شنبې ورځ په کابل ښار کې د رژیم دري مهم پوځي اهدف د مجاهدینو تر ملاماتوونکو ګوزارونو لاندې ونیول شول.

دا پوځي اهداف عبارت و له :

۱ـ د شپږمې امنیتي حوزې ریاست

۲ـ د جلب اوجذب مرکز

۳ـ د کابل ښار د ۱۲ ناحې اړوند د استخباراتو مهم مرکز.

یاد استشهادي بریدونه چې د افغانستان د اسلامي امارت د نظامي کمیسیون د تکړه پوځي ماهرینو په ابتکار پلان شوي وو د ۷ تنو استهادي سرښندونکو لخوا په فوق العاده بریالۍ توګه سرته ورسیدل او له املـه یـې ۱۷۳ تنـه د رژیـم پـوځي عسـکر او استخباراتي چارواکي مړه او ژوبل شول.

د یادو بریدونو لپاره ډیر مناسب او مهم وخت ټاکل شوی و.

داسې وخت چې په هغه کې ټول پـوځي او اسـتخباراتي چـاروکي پـه خپلـو مرکزونـو کې حاضر وي.

دا تکتیکي بریدونـه د غرمې لـه دولـس نیمو بجو پیل او د همدې ورځې تـر ۶ بجـو پوري یې دوام درلود.

د بریدونو پوځي پیغام

پـه کابـل ښـار کـې د رژیـم پـر پـوځي اهـدافو دا مرګـونې بریدونـه پـه کنـدوز کې د اسلامي امارت د یـوه تکړه پـوځی مسؤل او دې ولایـت د والـي شـهید مـلا عبدالسـلام

بریالي تر شهادت یوه ورځ وروسته تر سره شول.

امریکایي یرغلګرو او د رژیم پوځي چارواکو په کندوز کې د مرحوم بریالي شهادت د مجاهدینو لپاره یو لوی ګذار وبالـه او په خپلو پوځي اعلامیو کې یې مجاهدینو ته وویل چې نور هغوی باید له مقاومت څخه په لاس اخیستو سره له رژیم سره د یوځای کیدو لاره غوره کړي.

خو مجاهدینو د یرغلګرو ځواکونو پوځي قومندان جنرال نیکلسن څرګندونو ته په عملي او مطبوعاتي بڼه ښکاره ځواب ورکړ.

ښکاره ځواب یې دا وه چې د کابل ښار په داخل کې یې د هغوي پوځي محصن مهم مرکزونه تراور لاندې ونیول ، د هغوي ټول امنیتي او کشفي اورګانونه یې وننګول ، تر ۶ ساعتونو پوري یې هلته میشت په سلګونو زره بهرني او داخلي ځواکونه مصروف وساتل او هغوي ته یې ملاماتوونکي ځاني او مالي تاوانونه وروړول.

او مطبوعاتي ځواب یې دا وه چې د اسلامي امارت ویاند د یوې رسمې اعلامیې په ترڅ کې جنرال جان نیکلسن ته وویل:

اسلامي امارت د افغان مجاهد ملت خصوصا د کندوز شهادت مین ولس په استازیتوب د جنرال نیکلسن په غبرګون کې وایي چې تاسو له مجاهدینو سره د مخاطبې او هغوی ته د چانس ورکولو وړتیا نه لرئ، ځکه تاسو یرغلګر یاستئ او په دې پوهیږئ چې افغان غیرتي ولس له یرغلګرو سره تل داسي چلند کړی چې یو وار یې د هغوی ماغزه سرته وروستي دي او بیا یې له خپل هیواد نه په ټیټ سر شړلي دي.

افغان مسلمان ولس تاسو امریکایانو ته د یرغلګرو انګریزانو او شورویانو په سترګه ګوري او هماغسي به مو د جهاد په زور او د الله په نصرت له خپل اسلامي ټاټوبې څخه شړي.

د ملا عبد السلام شهادت زمونږ لپاره ناکامي او د پیښیمانۍ وړ خبره نه ده؛ بلکې

ویـاړ او داسـې کامیـابي ده چې ستاسي په خـلاف یـې د کندوزي او په مجموع کې د ټـول افغـان ولـس د انتقـام جذبـه پـه جـوش راوسـتې، د مجاهــدینو حقانیــت یــې نـورهم څرګنـد کـړی، مـلا عبدالسـلام او دده ملګـري یـې پـه ټولنـه کـي نورهم درانه او محبوب ګر زولـي دي، تاسـو پـوه شئ چـي مـوږ هغـه قـوم یـو چې د الله تعالی په لاره کې شهادت دومره خوښوو لکه تاســوچې د فــاني دُنیــا نیمګــړی ژونــد خوښوئ.

دا مو تش جذبات او تخميني خبرې نـه ؛ بلکې هغه ملموس واقعیتونه دي چې هـره ورځ تاسو په افغانسـتان کې ورسـره مـخ او له امله یې ستاسي تر یونیم لک زیات مجهـز پوځ همدلته په ګونډو کړل شو.

د بریدونو پوځي دلالتونه

په کابل ښار کې چې پـه هـره لویشـت، لویشت ساحه یې امنیتي مرکزونه او مراقبتي کامرې ځـای پرځـای شـوې د داډول بریـالیو عملیاتو پلان ګذاري او پلي کل له محـاربوي لحاظه عادي خبره نه ده.

له اوونـو استشهادي مجاهدینو مرکـب ټیم او هغـوي تـه لـه چاودیـدونکو توکـو ډک موټر برابرول او د هـدف سـاحې تـه رسـول د کابل په امنیتي ترتیباتو کې له نظامي لحاظـه تقریبا ناشونی کار ګڼل کیږي.

خو داچې مجاهدین له دغو ټولو کلکـو امنیتي تـر تیباتوسـره تـوانیږي چې خپـل پـه نښـه شـوي هـدف تـه ځـان ورسـوي او هلتـه خپل عملیات په موفقانه توګـه تـر سـره کـړي له دې پرته چې یـو محـض جهـادي اعجـاز وبلل شي بل هیڅ تعبیر نه لري.

همدا بریدونه مجاهدینو ته په راتلونکي کې د لانورو تکتیکي بریدونو د ترسره کولـو مـورال ورکـوي او د زبـون دښـمن د مـاتې خوړلو افرادو پر لویدلې مورال لامنفي اغیـز کوي.

په ټول هیواد کې د جهادي فعـالیتونو د لابریا په هیله

د کې رژیم لپاره

د امریکا دوه مخې رواني جګړه ...!!

موسی فرهاد

د امریکا د وایټ هاؤس د مامورانو پخواني مشر بارک اوباما په ۲۰۱۰م کال کې د امریکا د ستراتیژۍ د بدلون اعلان وکړ، چې د افغانستان جګړه به نوره پای ته رسوي، د دوی په اند له دې امله چې له ۲۰۰۱م کال څخه راپیل شوي جګړې یې ښې پایلې لرلي وي.

د شاوخوا ۵ زره امریکایی عسکرو په وژلو او د میلیاردونو ډالرو په له لاسه ورکولو سره امریکایان په دې توانیدلی چې دوی خپل مقاصد ترلاسه کړي، القاعده او طالبان یې له منځه وړي، په کابل کې یې د خپلې خوښې ډیموکراټیک سیټ اپ را منځ ته کړی، یو مضبوط اردو او پولیسي نظام یې ورته جوړ کړي، بالاخره د غرب په دیموکراتیکو اصولو ولاړه انتخابي پارلماني ولسواکي یې را منځ ته کړه.

له دې سترو لاس ته راوړنو وروسته نو اوس امریکا ته دیوه شي اړتیا وه، چې باید ترسره یې کړي، هغه دا چې د دوی د لاسپوڅي رژیم لخوا ورسره درازمدته امنیتي تړون امضاء شي، ترڅو امریکایان په افغانستان کې د ډېر عمر لپاره داسې پخې اډې ولري لکه په خلیج کې چې یې لري، لګښتونه او مصارف یې هم تر ډېره د هغو خلیجي حکومتونو پرغاړه دي، دوی په آرامه سره د خپلو ستراتیژیکو پلانونو په عملي کولو باندې شپه او ورځ کار کوي.

امریکا په افغانستان کې هم همدا فکر درلود، له همدې ځایه وه چې د خپلو ځواکونو د کمولو او په څو محدودو بیسونو کې د ځای پرځای کیدلو لپاره یې د کابل له اداري وغوښتل چې د ستراتیژیک امنیتي تړون په نوم ورسره دا پانه لاسلیک کړي چې دوی به دلته په افغانستان کې په قانوني شکل د ډېر وخت لپاره پراته وي او د امنیت د لومړي کمربند چاري به یې هم د هغه ملي اردو او

پولیسو په غاړه وي چې دوی وربانديي په میلیاردونو ډالرلګولي دي.

خو د امریکا دا اټکل هغه مهال نیمګړی ثابت شو چې له ۲۰۱۰م کال وروسته طالبان د پخوا په پرتله ۳۵٪ فیصده قوي او منظم شول، یعني چې پخوا به یې په یوه ولایت کې د دښمن پرضد عملیات کول، اوس یې پنځه دیرش ولایتونو ته وغزول، په نظامي برخه کې یې دومره پیچلي عملیات ترسره کړل چې د ایساف په نوم د یرغلګرو نړیوال نظامي ځواک یې چیلنج او له شکست سره مخ کړ.

د مثال په توګه په کابل کې د ناټو پرمرکز برید، په خوست کې د امریکایانو پر اډه د ډبل جاسوس په نامه کامیابه حمله، په نورستان کې له امریکایانو څخه د ډپر ستراتیژیک بیس نیول، د کندهار په هوایی ډګر کې پر امریکایانو پیچلی تاکتیکي برید ترسره کول، په میدان وردګ کې د امریکایانو په جنګي الوتکه کې د ۳۵ امریکایي جنرالانو وژل کیدل، د هلمند د باسټن په نوم امریکایي بیس ته د ۱۶ مجاهدینو ننوتل او سخت ځپونکی ګذار وربانديي کول، په کابل کې د نارت ګیټ پر بهرني مرکز خونړی برید کول، او داسې نور... ډپر شمیر خطرناکو بریدونو ټول بهرني اشغالګر هک پک کړل.

له بلي خوا یې په افغان تربیت شده پوځ کې د طالبانو په وړاندي د مقاومت هیڅ وړتیا نه محسوسیده له.

طالبانو د نظامي وړتیا ترڅنګ په سیاسي ډګر کې هم په نړیواله ټولنه کې یو ډول سیاسي حیثیت خپل کړ، که څه هم په ښکاره د امریکا د استبدادي سیاستونو په وجه له طالبانو سره چا علناً اړیکي نه ټرګندولي خو د زميني حقایقو په درک کولو سره اکثره نړیوال په دې قانع شول چې طالبان د افغانستان د سیاسي راتلونکي اصلي ګټونکي دي.

له همدې ځایه وه چې د ۶ یا ۷ کالو په جریان کې ډپر کم داسې هیوادونه به وو چې له طالبانو سره پر اړیکو جوړولو او ساتلو ونه توانیدل. نورو اکثرو ورسره خپلي اړیکي غښتلي کړي.

له بلي خوا د امریکایانو د وتلو اعلان، د دوی د روزل شویو ګوډاګیانو لپاره سخت مورال بایلونکی ګذار ثابت شو، افغان عسکر ورو ورو په جوپو جوپو د طالبانو لیکو ته ورمات شول، روزمره به داسې خبر د رسنیو پر مخ راته چې د ملی اردو یا ملی

پوليسو يو قومندان سره له خپلې ټولې عسکرو طالبانو ته تسليم شول، چې دا لړۍ تراوسه پورې جريان لري.

بل پلو طالبانو د اردو او پوليسو په ليکو کې خپل نفوذي کسان داخل کړل چې وخت پر وخت يې خبرونه رائې چې پلانې ځای د اردو يا پوليس يو تن عسکر خپل لس يا زيات و کم ملګري ووژل، د هغوی وسلې او وسايط يې طالبانو ته په واک کې ورکړل.

دا داوړې سلسلې له ۲۰۱۴م کال وروسته خورا چټکې شوې دي. د احصائيو له مخې چې د طالبانو منابع يې دقيقې او کره ګڼي؛ د ۲۰۱۵م کال له اوايلو څخه د ۲۰۱۶م کال تر نيمايي پورې، ۲۳۰۰ تنه د ملي اردو او ملي پوليسو افسران او عسکر له طالبانو سره يوځای شوي دي.

دا راز په همدې يادې موده کې د طالبانو د نفوذي کسانو په بريدونو کې د افغان اردو شاوخوا ۱۴۰۰ تنه وژل شوي دي.

هغه چې د طالبانو د فدايي بريدونو او يا مخامخ جګړو په ترڅ کې وژل شوي او يا په زوره تسليم کړل شوي دي؛ د هغوی تعداد تر دې څو چنده زيات دی.

دغو حالاتو امريکايان او د کابل اداره مجبوره کړل چې يوازې پر محلي ټوپکوالو او بدنامه اربکي مليشو اتکاء وکړي، ځکه چې په اردو او پوليسو کې يې د مقاومت روحيه او مورال ختم شول، امريکايانو هم خپل ټول اکمالاتي توجه اربکيانو ته واړوله، هرځای به يې په متفرق او غير منظم ډول اربکيانو ته ډالرو رکول ترڅو يې د طالبانو په وړاندې وجنګوي، اربکيان که څه هم د امريکايانو د ډالرو په زور ځای ځای ښه کلک وجنګيدل؛ خو په ولس کې يې د کابل اداړې او امريکايانو په وړاندې سخته کرکه را وپاروله، ځکه چې اربکيانو په هرځای کې له ولسي خلکو سره سخت ناوړه چلند کاوه. خلک ډېر ځينې متنفر شول، او ملت د اربکيانو پر ضد د طالبانو سره هر ډول مرستې ته را ودانګل.

په کابل کې د ګډ سري ملي جلاوالي حکومت داخلي اختلافاتو او مالي فساداتو هم ولس له ځانه ليرې کړ، واک او سلطه يې هم په هرځای کې نژدې صفر ته را ورسيده، سيمې ورو ورو د دوی له کنتروله وتلې.

امريکايانو او په اشغال کې د هغوی بهرني ائتلافيانو چې يوځل يې له جګړې څخه د خپلو عسکرو لپاره بهانه موندلې وه؛ بل ځل نه غواړي چې په دې خطرناکه او نه ګټونکي جګړه کې ځانونه ښکيل کړي، نو دوی ته اوس يوازنی دا لاره پاتې ده چې

تبلیغاتي او رواني جګړې ته زور ورکړي ترڅو خپل ګوډاګیانو ته د مقاومت کاذبه روحیه ورکړي. کنه نو د یوي نیمي لسیزي ګران بیه خواري به یې ټولي په اوبو لاهو شي.

له همدې ځایه ده چې امریکایان وخت پر وخت نوي تبلیغاتي طرحې وړاندي کوي، د کابل له بي واکه سیټپ سره د نغدي مرستو ژمنې کوي، د وسلو ورکولو دروغجنې وعدې کوي، د عسکرو د صلاحیتونو د زیاتولو خبرې کوي، د هوایي بریدونو د ترسره کولو لاپی شاپی ورته وهي، د طالبانو د له منځه وړلو پاخه قولونه کوي.

د امریکایی عسکرو د عمومي قومندان جنرال نیکولسن وروستی خرګندوني یې ښه بیلګې دي، چې د افغانستان په اړه یې امریکایی کانګریس ته وکړي، د نورو عسکرو، تجهیزاتو او پیسو د زیاتولو غوښتنې یې وکړي، مګر د ټرمپ حکومت او د ناټو مشرانو یې هیڅ پر خبره غوږ کښینښود. له دې نه ښکاري چې یرغلګر نور په افغانستان کې له خپلو ګوډاګیانو سره مطلق منافقت او دوه مخه پالیسي پرمخ وړي، په رواني لحاظ هغوی ته د جګړې روحیه ورکوي، د دروغو ژمنې



ورسره کوي، د اوږده جنګ لپاره یې پر شا ټپوي خو په حقیقت کې نه وربانديي باور لري او نه یې اضافي مرستو ته زړه ښه کوي.

همدا وجه ده چې نیکولسن یې د کابل اداري د ګوډاګیانو لپاره پرګوته کشمیر ورته جوړوي او ترشا یې امریکایي حکومت او نور ائتلافیان پر خبرو هیڅ غوږ نه نیسي، تر دې چې د ګډ سري اداري یو مشریا وزیر تر اوسه په دې نه دي توانیدلي چې د ټرمپ په دیدار ځان مشرف کړي او له هغه څخه د پخوانیو هغو په څیر ډالري مرستي ترلاسه کړي.

متاسفانه چې د کابل اداري سرټمبه واکداران، د نیمګړي قدرت او ډالرو وړي چارواکي بیا هم د همدې دوه مخه یرغلګرو بادارنو په قومنده زموږ ملت د اور پر سره تبې کښینولی دی. چې دا چاره به یې د خدای له عذابه او د ملت له حساب کتابه هیڅکله ونه ژغوري. انشاءالله

پاتي.....!

د جګړې عاملين طالبان دي

که اشغالګر!!

خليل- عزم

اشرف غني د خپل ناکاره او مفسد پارلمان دنوي کال د کاري پيل په پرانيستونکي ناسته کې ووئيل چې د جګړې عاملين طالبان دي نه امريکايان!!!

هغه دځان لپاره داخبره داستدلال په ډول وړاندې کړه چې طالبان جګړه کوي اوامريکايان يې مقابله کوي؛ دده په خبره نو ځکه امريکايان په هوايي بمبارياو ډرون برید ونو کې ملکي اوولسي وګړي وژني.

ناترسه مفکر داخبره سپينه نکړه چې دملکي اوبې دفاع ولس اوپه خاص ډول د (ښځو، ماشومانو اوسپين ږيرو) بياځه جرم دی چې دده بادارانيې په ډيره بيدردی وژني؟

دمفکرپه فکر جګړه طالبان کوي، نوچې جګړه هغوئ کوي نو دا ملکي خلک بيا ولې امريکايان وژني، ستاپه دې برخه کې کوم مکلفيت دی، طالبان خوپه واضح ډول ستادښمنان دي اومرګ يې ته دامريکايانو په لاس جائزبولي من حيث يوولسمشر! دملکي خلکو مرګ ژوبله دخپلو بادارانوپه لاس په کوم دليل توجيه اوروابولي اوکه يې روا بولي نوبيادانيمه خواپاچايي په چاکوي؟

يادې وي چې اشرف غني په داسې حال کې دپارلمان کاري کال غونډې ته ويناکوله چې دوه ورځې وړاندې امريکايانوپه فراه، زابل، تخار اوورد ګوکې په ۲۴ ساعتونو کې لږتر لږه ۷۰ کسه ملکي افغانان په خپلو وينو کې ولمبول، په کروندو، جونګړو اوجوماتونو کې يې په توپونو اوله الوتکو يې مخامخ په بمونو ووېشتل؟

له اشرف غني څخه دړومبي خبرې چې د جګړې عاملين طالبان دی وضاحت داسې غواړو:

دنړۍ دوهم مفکر صيب! دروغ به نه وايي صفا صفا خبره به کوي، تاخو دری نيمې لسيزې وړاندې افغانستان په داسې حال کې پريښود اودامريکا اوکليسا غيږې ته دي پناه وروړه چې سره تاړاک اوکمونيستي خپسکي

افغانستان لاندي کړی وو ،بیادې بیرته دافغانستان په پاکه خاوره هغه مهال قدم کیښود چې امریکا او کلیسا دافغانستان نیولو او اشغال لپاره نیږدي یو نیم لک تنه پوځیان له خپل ټول قوت او جنګي ماشین سره افغانستان ته راوستل

ته ووایه مفکر صیب چې ته په خپله اراده راغلي که دامریکا او کلیسا په پریکړه او قومنده، زمونږ خو ۱۶ کاله مخکې داخبره هیڅرې هم ترغوږ نشوه چې کوم افغاني پلاوي او قومي جرګي تاته حال او بلنه درکړي وي چې ته افغانستان ته تشریف راوړه افغانستان له تاپرته دارام او سوکالی ساه نشي اخیستلای ؟

مفکر صیب ته اوستاپه څیر نور هغه مفکرین! چې امریکا دخپلو ګټو او څټو لپاره ساتلي قول اوعمل یې له دین او افغاني غیرت څخه ورمنځلي او خالي کړی وو ایا دامریکا دپلو عسکرو په ځیر له پنتاګون څخه په پوځي الوتکو کې افغانستان ته رانه وړل شول؟

په بله کومه لار او الوتکه کې که راغلی وي هغه ته ووایه !

اوبیا چې ستا بادار دلته راغی دلته یې جګړه پیل کړه که ګلان ورول یې شروع کړل، د "بی باون" الوتکو، فاسفورس بمونو ،ډرون توغندیو او نورو زهریله وسلو تمرینات او استعمال چاپه مظلومو افغانانو پیل او ترسره کړ؟

دبګرام، ګوانتانامو، کندهار او نورو ښکاره اوپټو جیلخانو کې دوه میلونه افغانان چا شکنجه اوورېږول؟

دعظیم الشان قران زرګونه نسخي چاپه بګرام او نورو امریکایي اډو کې وسوځولې؟

سوونه جوماتونه او دیني مدرسي چا بمبار او له ځمکې سره هموارې کړلې؟

او دافغاني عفت او عصمت سپکاوي چا هره شپه اوورځ په وحشي چاپو اوتالاشیو کې پایمالاوه؟

نو که ته جعلي اوپردی پال مفکر نه یې نو اوس قضاوت ته وکړه چې امریکایان او دناټو بې رحمه لښکري چې له افغانانو سره په خپل کور او خپله خاوره کې دغه ډول کړني او چلند کوي چې قلم اوژبه یې له یادولو اولیکلو شرمیږي ستاڅه فکر دی چې افغانان دي ورته لاس ترزني کښیني او هیڅ دي نه ورته وایي؟

افغانانو خو دتیرو ۱۶ کلونو په اوږدو کې یوائې اویوائې له خپلو دیني اقدارو اوملي ارزښتونو دفاع کړي هغه هم په تش لاس او دسر په بیه

ایا ته کوم تضمین افغانانو ته ورکولای شي چې که طالب او مجاهد وسله په ځمکه کیږدي اوله خپلې دفاع هم خدای ناخواسته لاس په سر شي ستاپه داټول رژیم او دارو دسته کې دومره قوت او جرءت شته چې امریکایانو ته ووایی په فلانی سیمه او جای کې مو ولې جنایت وکړ ملکي خلک مو ووژل او دهغوئ دعفت سپکاوی مو وکړ؟!!

مفکر صیب کله چې تاسي او امریکایانو په ګډه اسلامي امارت په ۲۰۰۱ کال کې سقوط کړ او طالبان کورونو ته ولاړل په شمال کې دولس زره تنه طالبان چې ستا داول مرستیال لاسوته ولویدل داووایه چې له هغو اسیرانو سره کومه ډول معامله وشوه سم نیم یې په کانټنرو کې لولپه اوغلبیل غلبیل نشول ، دغه رازهغه طالبان چې په خپلو کورونو ناست ول اوعادي ژوند یې پیل کړی وو امریکایې جواسیسو سه ورسره وکړل ایا یو یې امریکایانو ته ورونښودل او تربګرام او ګوانتاناموپې ونه رسول؟

اوس ته ووایه چې دجګړې عاملین طالبان وو اودي که تاسي او امریکایان؟

دامریکادولسمشر[بوش] اودهغه ددفاع وزیر[رمزپیلډ] هغه مانوري دي له یاده وتلي چې ویل یې طالبان پرته له مرګ او زندان بله لار اوچاره نلري!!!

همدا ته مفکر ویلای شي چې دجګړې دختمولو لپاره تا کوم داسې ګام تردې دمه اخیستی چې دجګړې دبندید وخواته ګامزن ووسي، حکمتیارستاسي دنابودي اوشرمیدلي سولې په خاطر له هرڅه نه تیرشوپه مقابل کې موڅه ورسره وکړل ؟ له امریکایانو سره دامنیتي ترون لاسلیک ددې معنانلري چې دلسو راتلونکو کلونو په خاطر دې په افغانستان کې خونړۍ جګړه روانه وي؟

په دي سربیره ستا په دوري کې دناټو ځومره ناستي دافغانستان په باب ترسره شوي ویلای شي چې په کومې یوې کې یې دجګړې دختمیدو لپاره کومه داسې ماده اوبند ځای پرځای شوی ترڅوله طالبانو وپوښتل شي چې جګړې ته دکومو عواملو له مخې دوام ورکوي ؟

له افغاني غرور او اسلامي تشخص څخه خلاص او خالي مفکره ! هسي دافغانانو په زخمونو مالګي مه دوړه وه، ستا برنامه اومفکوره دا نده چې افغانستان سوله اوروغه ورځ وویني ، بلکې ترهغو چې په افغانستان اوسیمه کې امریکایي ګټې اوشیطاني هوسونه نه وي براورده شوي ته بهه ارومرو دغه روانه جګړه تودې اوشعله وره ورته ساتي اواوږده پوکی به ورته وهي !!

الف لام

طالب او عسکر

داسلام دخواړه دین هره شعبه دومره خوړه اوجلا جالبیت لري، چې څومره یوځوک ددین په یوه څانګه کې ډېر دخیل شي هومره ورته هماغه شعبه دبلې په پرتله ډېره مهمه اومرکزي ښکاري، همدالامل دی چې داعي دجهاد برخې ته په هماغه سترګه نه ګوري څومره چې ددعوت شعبه ورته مهمه برېښي، مجاهدته ددعوت برخه همداسې وي، دغه رازد ذکر، تصوف، صدقات، صله رحمي او نورې برخې . ولې بیاهم دجهاد دسنګر فضا څه بل ډول حالت لري،کوم خوند اونشاط چې د دین په دې برخه کې شته په یقین سره ویلی شو، چې ددین په نورو شعبوکې به نه وي اوداهغه چاته ښه معلومیدای شي چې ددین له ټولو شعبوسره یې څه ناڅه تړاو لرلی وي.

همدا دجهاد دخواړه سنګر زړه راښکونکې فضا اودهیوادپه زړه پورې موسم و، په مخابره کې دملي اردو یوعسکر اویوطالب مجاهدسره رخ شول، له یوې لنډې مکالمې وروسته د دواړو ترمنځ په دې اتفاق راغی چې یوبل ته به قناعت ورکوو او دابه سره معلوموو چې څوک په حق اوڅوک ناحقه دی؟

په رښتیا هم چې له مجاهدینو سره په سنګرکې د مشرانوطالبانو اومسؤلینو موجودیت ډېر ګټور دی، ددوی تجربې دهغوی دمحبوبیت اوکامیابۍ لپاره ډېرې اړینې دي.

دطالب اوعسکر محاوره په دې ډول پیل شوه :

طالب : ستا سواد په څومره حد کې،دی چې ټولې علمي اوسیاسي پوښتنې ځوابولی شې ؟

عسکر: بس مکتب به مې هم ویلی او په ديني علومو کې هم معلومات لرم .

طالب : ډېره ښه ده، اول به په دې خبره سره اتفاق شو چې يودبل خبرې ته به غوږ نيسو کنځل اوناوړه الفاظ به نه کاروو سمه ده ؟

عسکر : ښځي جوړه ده .

طالب : په دې به هم راسره اتفاق کوې چې له موضوع به هم دباندې نه وزو!

عسکر: چې ته له موضوع ونه وزې! زه نه وزم .

طالب : ښه نو ته به هم يوه مدعا لرې! زه يې هم لرم اودهغې لپاره جنګېږم، زما مدعا داده چې زه په حقه يم دحق لپاره جنګېږم اوته په باطله يې! ته څه وايې اوستا مدعا څه ده ؟!

عسکر: نه! بلکې ته په باطله يې زه په حقه يم اوزما مرګ شهادت دی .

طالب : ښه ! که ماخپله مدعا ثابته کړه اوستاباطله شوه بيابه څه کوو ؟!

عسکر: که تا زه په باطله کړم اوماته دې قناعت راکړ بالکل درته تسليم يم خپل صف پرېږدم اوله تاسره درېږم .

طالب : داسې به ونه کړې ؟!!

عسکر: زه يې کوم! خوکه ستامدعاباطله شوه ته به څه کوې ؟!

طالب : له راسره وسلې سره به درشم اوستاترقوماندې لاندې به وجنګېږم! خوچې ته په خپله مدعا څومره باورې يې ؟

عسکر : دمرګ ترحده!

طالب : ته خپله مدعا څنګه په حق بولې ؟!

عسکر: زه له وطن څخه دفاع کوم اوله خپلې خاورې څخه په دفاع کې شهيديم .

طالب : خاوره له چا څخه ساتې ؟!!

عسکر: له پرديو اوپنجابيانو څخه .

طالب : له تاسره په جنګ کې طالب مخامخ دی که پنجابی ؟ رښتيا به وايې !؟

عسکر: خوهمدا طالبان پاکستان راليږي اوپنجابيان وسلې ورکوي!

طالب : تاکوم پنجابی پخپله ليدلی په جنګ کې ؟

عسکر: مانه دی ليدلی خوډېر ځايه ليدل شوي اونيول شوي .

طالب : طالب پاکستانی دی که افغانی ؟

عسکر: هغوی افغانان دي، خو دپاکستان په اختيارکې دي.

طالب : ښه ستاټوله جګړه دهمدې لپاره ده چې ته دافغانستان خاوره له پاکستانه ساتې ؟!!

عسکر: هو! بالکل دهمدې لپاره.

طالب: ښه نو له امريکايانو يې ولې نه ساتې هغوی خو هم پردي دي اودلته په خپل زور راغلي؟

عسکر: هغوی خو بېرته ځي

طالب : ښه نو طالبان ولې له تاسې افغانانو سره دپنجابیانو په خاطر جنګ کوي، دهغوی ګټه څه ده ؟؟

عسکر : پیسې ورکوي او غلط تبلیغ ورته کوي.

طالب : داپیسې او مادیات چې دی پرې یوځل ووژل شي، له مرګه وروسته به یې څه کوي ؟

عسکر: ښه نو دځه دپاره یې ځان مرګ ته ورکړی ؟!

طالب : دیوې عقیدې له مخې جنګ کوي!

عسکر : څه ډول عقیده ؟؟

طالب : داسلامي عقیدې له مخې اوداسلام لپاره !

عسکر : ولې مونږ کافران یو ؟

طالب : نه !مسلمانان یئ،خوکفارداسلام په ضد کار درځځه اخلي او زما دهدف پروړاندې خنډ یاست.

عسکر : هو کنه ! ستا دهدف پروړاندې خنډ یم ځکه مې مرګ روابولې !!

طالب : هو! ځکه زما هدف داسلام حاکمیت دی، که ته نه خفه کیږې یوه بله خبره به درته وکړم

عسکر : کومه خبر؟

طالب : دافغانستان اردو کله هم دخاورې دخپلواکۍ لپاره جنګېدلې ؟ خوتل داشغال په وړاندې په خدمت کې پاته شوې !

عسکر : دا خوته وایې ! ته راشه دخاورې لپاره ځنګه قرباني ورکوي ؟

طالب : زه یې درته ثابتوم، همدا اردو وه له یوه نیم سرتېرې او صاحب منصب پرته چې کله کله به یې تاریخ جوړکړ، چې هغوی به هېر هم نه شي، نور ه خو ټوله یو وار دروسانو په خدمت کې شوه او اوس دامریکایانو په خدمت کې ده ، همدا ملایان اوطالبان دي چې تل یې خاوره له پردو ساتلې.

عسکر : له موضوع ونه وتو ؟

طالب : نه ! ان شاءالله،

عسکر : ته خپله مدعا ځنګه حقه بولې اوزما باطله په نظر درځي ؟

طالب : ددې لپاره به یوځه وخت راکوې او غوږ به راته نیسې!

عسکر: سمه ده، خو خبره چې اوږده نه شي !

طالب : نه! ډېره یې نه اوږدوم، وعده خو مو په سرکې سره کړې وه، چې خبرې به په سړه سینه سره اورو که ځنګه ؟

عسکر : هو! بالکل، ښه نو وایه خپله مدعا ثابته کړه !

طالب : زه مسلمان او افغان یم دقرآن دحاکمیت لپاره جنګېږم اومرګ مې په دې نیت له

شک پرته شهادت دی، او ستامرګ ماته ځکه روا دی چې ته مې په دې هدف کې خنډ یې، ستادقربانۍ اومرګ ثمره یواځې اویواځې ددیمکراسۍ حاکمیت دی اوبس، دخاورې دعوه دې ځکه سمه نه ده، چې خاوره سړی له خارجي یرغلګرو ساتي نه له خپلو خلکو! اوښه پوهېږې چې دلته خارجیان ځومره دي، څه ډول راغلي، او واک له چاسره دی ؟؟

عسکر: داسلام مخه چانیولې، ټول خلک خپل عبادتونه کوي، چې ته یې یواځې په ځان کې ولې منحصربولې ؟!

طالب : عسکرجانه! داسلام مخه اوس تانیولې! سرخلاص کړه!

عسکر: ماځنګه نیولې ؟! ماته قناعت راکړه!

طالب : زما اوستاجنګ په دې دی چې زه وایم دسرخبره دې قرآن شي، نه وضعي اساسي قانون اوته وایې چې نه! دسرخبره دې ددیمکراسي وي .

عسکر: زه دیمکراسي څه کوم، زه دخپلې خاورې دفاع ته راوتلی یم .

طالب : دخاورې دفاع له داسې چاکوې چې هغه دهمدې خاورې بچی دی، دقرآن حاکمیت غواړي، اوداسې چاته یې سپارې چې نه په وینه درګډېږي نه په دین ؟!! تاته فکر اونوم دخاورې درکول کیږي، خو قرباني دداسې هدف یې چې له قرآن سره په ټکرکې ده.

عسکر: زه هم نه شم ډاډه کېدلی چې ته دبل دګټو قرباني نه یې !

طالب : داخبره به بیا درته ثابته کړم، دتېرې خبرې دتکمیل لپاره زه تاته یوچیلنج درکوم !

عسکر: هغه څنګه ؟

طالب : هغه داسې چې زه دټولو طالبانو او امارت له لوري ډاډ درکولای شم چې که چېرته دسرخبره قرآن شي او نوروضعي قوانین دهغه په رڼاکې اعلان شي ، له جنګه لاس اخلو اوهیڅ چوکۍ نه غواړو، تاسې کولای شئ داخبره مو په حکومت ومنئ ؟

آیا ددې دومره لویې غمیزې دحل لپاره که داومنل شي کوم زیان به ولري؟! قطع نظر ددې چې مسلمانان یو اوبایـد همداسې وشي، که ستا حکومت داخبره اعلان کړي اوعملاً همداسې وکړي په هماغه ورځ یې همدا یرغلګر چې ته یې دوستان بولې له منځه وړي، که داحکومت خپلواک وي اوخپل اختیار لري، خو دا اعلان دې وکړي څه خبره ده!

عسکر : ښه نو چې تاته قدرت په لاس درشي ددې حکومت داټول تشکیل ټوله اردو اوټول عسکر به وژنې تاته یې مرګ روا دی ؟

طالب : نه! ماته چې قدرت په لاس راغی اودحکومت په ټولو ادارو دکفارو دقانون په ځای قرآن اواسلامي احکام فوق شول، نو بیا دهمدې ملي اردو! پولیسو، امنیت، ... ټولو حکم بدلیږي او

مرګ يې ماته نه شي روا کېدلی، زمونږ له تاسې سره شخصي دښمني نه شته، يواځې په همدې خبره سره جنګيږو چې مونږ وايو قرآن او اسلامي احکام دې دنظام په سرکې ځای ونيسي۔ او تاسې وايئ چې نه بشري قانون دې وي، ديمکراسي دې وي.

عسکر : په دې خبره دې زما زړه سپين نه کړچې ته دپاکستان سړی نه يې ؟

طالب : اول به دا درته ووايم چې له پاکستان سره دښمني ولې ترامريکايانو زياته ده؟ چې زمونږ ددين اوخاورې دواړو دښمنان دي ؟ بيا داچې ما ولې دپاکستان بولې ؟!

عسکر : پاکستان، هيڅکله زمونږ دخاورې دوست کېدلی نه شي، تاځکه دپاکستان کس بولم چې ته اومشران دې ټول په پاکستان کې اوسيږئ، له هماغه ځايه راځئ اودلته جنګيږئ،که جهاد وي نو خو هماغه نظام هم دکفر په قانون دی هلته ولې جهاد نه کوئ ؟

طالب : داسمه ده چې مشران به پاکستان کې وي لکه داستارهبران چې دروسانو په وخت کې په پاکستان کې وو، او داهم درسره منم چې پاکستان زمونږ په مشرانو کې يونيم پرې ايښی له دې وجې يې نه دی پرې ايښی چې هغوی په افغانستان کې داسلامي نظام ارمانجن دي،شايد هدف يې په افغانستان کې ناکراري وي، بلکې دهغوی نظام ستاترنظام هم ډېر غير شرعي دی، خبره داده چې زه په دې مکلف يم چې دهغه نظام اعاده وکړم چې داسلام دښمنانو په زور له منځه وړی او دپاکستان خاوره زمونږ يواځې دهجرت خاوره ده چې زمونږ مشران او نور افغانان پکې دمجبوريت شپې تېروي اوبله خبره داده چې له تاسره خو دلته په سنګرکې زه پروت يم او زما دادی شپږکاله کيږي چې پاکستان مې ليدلی هم نه دی.

عسکر : بسه نو چې داسې ده، راځه سوله راسره وکړه او راسره يوځای شه !

طالب : په حکومت دې داخبرې ومنه چې مادرته وکړې، ته ووايه! په دې خبروکې کوم نقصان شته ؟

عسکر : نه !

طالب : ته پوهيږې چې دافغانستان خلک ټول مسلمانان دي، نو بياولې دې نظام اسلامي نه وي، ولې په غرب پلوې ديمکراسي دومره ټينګ دي چې تاهم له ماسره دهمدې هدف لپاره جنګوي؟ اوس ته ووايه ! ستاحکومت دپردیو دلاس حکومت نه دی ؟ زما مبارزه په حقه نه ده ؟ دخاورې داستقلال لپاره ته جنګېږې که زه ؟ ستامرګ دخاورې لپاره قرباني ده اوکه دپردو راغلو داهدافو لپاره ؟؟!!

بیاهم امریکایي جنایت

او بیا هم د هغوي د ځواکونو د زیاتوالی هرکلی!

احمد مختار

یوځلې بیا امریکایي ځواکونو په فراه او تخار کې پر ولسي خلکو بمباری کړې، چې له امله یې په دواړو ولایتونو کې په لسګونو ولسي کسان چې اکثریت یې ښځې او ماشومان دي ،په بي رحمانه ډول په شهادت رسول شوي.

د امریکایي یرغلګرو لخوا دا خونړۍ فاجعه په داسې حال کې رامنځته کیږي، چې د امریکي د سنا جرګې د امنیتي چارو مسؤل سناتورجان مکین د امریکا له نوي ولسمشر دونلد ټرمپ څخه غوښتي ،چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو شمیر زیات کړي، تر څو افغانستان یوځل بیا له ګډوډۍ سره مخ نشي .

د کابل مزدور رژیم چار واکي چې خپله بقاء یواځي د بهرني اشغال په سیوري کې ویني ،د امریکایي سناتورد دې غوښتنې هرکلی کړی او په افغانستان کې یې د امریکایي یرغلګرو شتون د هیواد د امنیت او ثبات لپاره اړین بللی.

د کابل رژیم مزدور چارواکي په داسې حال کې په افغانستان کې د امریکایي یرغلګرو شتون د هیواد د امنیت لپاره ګټور بولي، چې دهمدې یرغلګرو لخوا تقریبا هره ورځ پر ولسي خلکو بمباري کیږي او د دوي د وحشیانه بمبارېو په ترڅ کې په لسګونو ملکي کسان وژل کیږي.

که د بیلګې په توګه که مونږ یواځې د حوت د میاشتې ۱۴ ورځ را واخلو ،د دې ورځې په ۲۴ ساعتونو کې امریکایي هوایي قواوو او د هغوي داخلي ملاتړو د هیواد په بیلا بیلو برخو کې په لسګونو ولسي خلګ چې په هغوي کې ډیری ښځې او ماشومان دي د بمبارېو او نورو بریدونو په ترڅ کې وژلي.

مونږ غواړو دلته په لږ تفصیل سره هغه وحشیانه پیښې ذکرو کړو، کومې چې په یوه

ورځ کې وحشي یرغلګرو او د هغوي ملاتړو د افغان مسلمان ولس پرخلاف ترسره کړې :

۱- د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د الګۍ بازار ته څیرمه د ملخیلو په کلي یرغلګرو بمبار کړی، په دغه بمبار کې ۲ میرمنې او ۹ تنه نارینه ولسي وګړي شهیدان او ۲ ماشومان ژوبل شو ي دي.

۲ د تخار ولایت د درقد ولسوالۍ په قمګذر سیمه کې د یرغلګرو په ډرون حمله کې د ۲ ماشومانو په شمول ۵ تنه ولسي وګړي شهیدان او ۷ تنه ژوبل شوي، په دې برید کې د ولسي خلګو کورونو ته هم زیان رسیدلی دی.

۳ـ د فراه ولایت د فراه رود ولسوالۍ په ژړ اخندزاده، تپه سعادت، تودنک، سپانزي او بازار ته څېرمه غټ کلي کې د دښمن په هوایي او توپچي بریدونو کې ۱۵ تنه ولسي وګړي شهیدان او ۲۳ تنه ټپیان شوي دي.

۴ـ د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ د عربانو سیمې د کنجغتو په غره کې هغه دری تنه ښکاریان چې یاد غره ته د ښکار لپاره تللي وه په بیرحمانه ډول په شهادت رسولي.

په پورتنیو ۴ پیښو کې په ۲۴ ساعتونو کې د امریکایي یرغلګرو لخوا ۶۶ تنه ولسي وګړي شهیدان او ژوبل شوي ، که په اوسط ډول مونږ دا ارقام په ورځ کې ۲۰ تنه حساب کړو نو په یوه کال کې به دې یرغلګرو له لاسه زمونږ ۷۲۰۰ کسان شهیدان او ژوبل شوي وي.

د رژیم مزدور چارواکي د اشغالګرو لخوا د خپلو هیواد والو د مظلومانه شهادت همدا هیښوونکي ارقام په سترګو ګوري او کله ناکله د هغوي په شهادت د تمساح اوښکې هم تویه وي مګر بیاهم د خپلو ګټو لپاره په افغانستان کې د اجنبي اشغالګرو شتون د افغانستان د امنیت او ثبات لپاره ګټور بولي.

اصلا د رژيم چارواکو ته خپل ولس او هيواد اهميت نه لري ، بلکې هغوی ته تر هرڅه وړاندې د هغوی د اجنبي بادارانو مصالح مهم دي کوم چې دوئ يې واک ته رسولي او پر افغانانو تحميل کړي.

که ريښتياهم د همدې اجنبيانو شتون د افغانستان د امنيت لامل واى نو کم تر کمه خو به په کابل کې هغوی يوه ورځ له محافظتي ديوالونو او زرهي نقليه وسائطو پرته ژوند کولى شواى ؟

که د هيواد نور ۳۳ ولايتونه بلکل شاته پريږدو او يوائې د کابل ښارامنيتي وضعيت را واخلو نو وبه وينو چې هلته چې د ټول هيواد په کچه د خارجي ځواکونو پوځي او استخباراتي شتون ډير دى تر بل هر ځاى د نا امنۍ او بې ثباتي کچه لوړه ده.

هلته هره ورځ د نامعلومو او غير مسؤلو وسله والو لخوا کابل ښاريان ځورول کيږي ،اولادونه يې اختطاف کيږي، مالونه يې غلا کيږي او ملکيتونه يې غصب کيږي .

دا تشې ادعاوې نه ؛ بلکې خپله هغه واقعيتونه دي چې خپله د رژيم چارواکي ، پارلماني وکيلان او د جنايي ارګانونو مسؤلين ورباندي اعتراف لري.

که د رژيم له چارواکو وپوښتل شي چې ايا په کابل کې ميشت بهرني ځواکونه چې تاسو يې وجود د هيواد د امنيت او ثبات لامل بولي کوم امنيت او ثبات دغه ښارته راوستى؟

مونږ ستاسي د دولت مشر ، ستاسي د کابينې غړيو ، ستاسې د پارلمان وکيلانو ، ستاسي د سنا استازيو ، ستاسي ټولو امنيتي او دفاعي ارګانونو چارواکو ته دا چلينج درکوو چې که ريښتيا تاسو د همدې اجنبيانو په وجود کې فقط په کابل کې ځان خوندي احساسوئ نو فقط د يوه ساعت لپاره له خپلو محصنو مرکزنو اوزرهي موټرونو څخه راووځي چې تاسو له کوم برخليک سره مخ کيږئ ؟

طبيعي خبره ده چې زمونږ دې چلينج ته به د رژيم د هرچارواکي ځواب منفي وي.

نو داچې تاسو د هيواد د لومړي نمبر چاراکو په حيث په خوندي کابل کې د يوه ساعت لپاره ځان محفوظ نه ګڼئ نو بيامو د دې اجنبي بادارانو شتون په افغانستان کې د کوم امنيت او ثبات لامل دى؟

شهید ملا عبد السلام

د سرښندنې ، اخلاص او شهامت سمبول!

شاهد (غزنیوال)

د هغه مبارک حدیث په یوه برخه کې چې صحیحینو له حضرت ابوهریره نه روایت کړی داسې راغلی :

تجدون الناس معادن ...

تاسو به د خلګو په منځ کې داسې کسان ومومئ لکه معادن ...

محدثین کرام د دې حدیث شریف په شرح کې لیکي چې د انسانانو مثال هم د معادنو په څیردي ، لکه په هغو کې چې د سرو او سپینو زرو قیمتي فلزاتو په شمول نورقیمتي او غیر قیمتي فلزات پیدا کیږي د انسانانو په منځ کې هم ډیر د لوړو او غوره اخلاقو څښتنان وي خو د همدې لوړو اخلاقو لرونکو ترڅنګ بیا ځینې د ناسمو اخلاقو لرونکي انسانان هم وي.

همداشان معادن چې تر څو یې تفحص او استخراج نه وي شوی د هغوي ماهیت او نوعیت نشي ــ پیژندل کیدای ، انساني استعدادونه هم داسې دی ترڅو چې هغه په کار ونه لویږي او د کارونو په اجراء کې تري تجربه و نشي د هغه ذهني او فکري ظرفیت نشي خفي پاتي وي.

همدا لامل دی چې د استعدادونو ، اخلاقي امتیازونو او فطري مواهبو له لحاظه انسانان یو له بله ډیر توپیر لري.

شهید ملا عبدالسلام (بریالی) یو د هغو اشخاصو له جملې څخه وه چې الله تعالی

نیکو اخلاقو او مطلوبو مواهبو یوه مجموعه باندې لورولې وه.

نومورې نهایت نیک اخلاقه ، بامروتـه ، باشـهامته ، بـاتقوی ، مهـذب او مینـه نـاک انسان و، سره له دې چې نومورې پـه پـوځي لحاظ یو منل شوي تکړه قومنـدان او پـوځي شخصیت و خو تعامل یې له هرچـا سره لـه عاطفي، خواخوږي او مینې ډک و.

نومورې یـواځي جنګـي قومنـدان نـه ، بلکې په مدرسه کې یو استاد، به مسجد کـې داعـي، پـر ممـبر ښـه خطیـب، پـه ولسي- مناسباتو کې یومنـل شـوی مـلي او ټـولنیز شخصیت و.

هرچا چې ورسره له نیـږدي وخـت تیـر کړی هغوی د ده مرحوم لـه لـوړو اخلاقـو، علمـي اسـتعداد، پـوځي مهـارت ، تقـوی ، اخلاص او صداقت څخه ښه خبر دي.

یوملګري چې له شـهید مـلا عبدالسـلام سره په محبس کې بندي و د نومورې د زهـد او پاکي په اړه وایي:

((مرحـوم مـلا عبدالسـلام شـهید د ځانګړو اخلاقو او تقوی نمونه و.

یومهال یې ماته ویل که ته تر ما مخکي خـلاص شـوي زمـا یـو ورور دی ، د عسـلو دکانداري کوي ، هغه ته به دیرش زره روپـۍ قرض ورکړي چې خپـل کـار بانـدې وچلـوي خدای مهربان دی زه چې لـه زندانـه خـلاص شم که خدای کول لومړی کار به مـي سـتا د قرض اداء کول وي.

همدا ملګری وایي چې هماغه ورور چې ده ورته د کور دسر پرستي هیلـه لرلـه هغـه هم د ده د اسارت په مهال شهید خو دی یـې له شهادته ناخبره وه ...))

سبحان الله !

شهید ملا عبدالسلام تر اسـارت وړانـدې هم د کندوز په ځیر د یوه ترټولو غني ولایـت باصـلاحیته مسـؤل و خـو لـه دې سره سره نومورې د خپل کور او اولادونو نفقه بیاهم د خپل ورور په شخصي او د دیـرش زره روپـو په تجارت پوره کوله خو دا یې نه خوښـه ول چې له بیت المال څخه خپله نفقه پوره کړي.

واقعا چې شهید ملا عبدالسلام په پـاکي او تقوا کې یوه داسې نمونه و چې سـړي تـه به یې په لیدو سره د صحابه کرامو رضـی الله عنهم د پاک ژوند بیلګې وریادیدلې.

شهید ملا عبدالسلام لکه په تقوی او غوره اخلاقو کې چې نمونه و همداشان په غیرت ، شهامت او سر ښندنه کې هم شهره آفاق و.

دا د نومورې د جهادي ژوند عادت و چې د ده له لوري د هر پلان شوي پوځي پلان په تنفیذ کې به شخصا په خپله شریک و او که به هرځومره جنګي وضعیت وخیم و دی به بیاهم په خپله شخصا د مجاهدینو په لومړي صف کې ولاړو.

د جګړې او محاربې په جریان کې به لومړنی شخص دی و چې په مخکیني سنګر کې به ناست او ژبه به یې د الله په ذکر لمده وه ، او د جګړې تر ختمیدو وروسته به آخرنی سړی دی و چې له سنګره را پورته کیده.

د جګړې په حالت کې به یې د دښمن پر اسیرانو او زخمیانو ډیر شفقت کاوه ، تردې چې په کندوز په ولایت کې چې د جګړو په ترڅ کې څومره اسیران نیول شوی هغوی یې ټول د ولسي مخورو په سپارش بیرته خوشي کړي دي.

شهید ملا عبدالسلام لومړنی شخص و چې په کندوز ولایت کې یې په جګړه کې د نیول شویو بندیانو د پریښودلو تعامل ترویج کړ، او په څو کرته یې په جګړو کې د دښمن نیول شوي افراد له قیده خلاص کړل.

شهید ملا عبدالسلام یو جامع شخصیت، یو نوښتګر مشر، یو بې ریا مجاهد او یو پارسا صفته قائد و ، د غه مختصره لیکنه د نومورې د ټولو صفتونو، حمیده اخلاقو او جهادي کارنامو د تشریح حوصله نه لري ، غوره بولو چې د نومورې په اړه دا لیکنه د حضرت مصلح الدین سعدي شیرازي په لاندې بیت پایته ورسوو:

نه حسن است غایتي دارد ، نه سعدي را سخن پایان ، بمیرد تشنه مستسقي و دریا همچنان باقي

اسلامي امت

د افرادي قوت پر لور !!

(شاهد)

دخوښۍ ځای دی چې راتلونکیو څو لسیزوکې به دمسلمانانو شمیر له کفارو نه زیات شي او دنړۍ مسلمانان به د افرادي قوت په نسبت له نامسلمانو څخه زیات طاقت ولري ،داچې هره ورځ مړینه او شهادتونه دمسلمانانو میلمانه وي او اسلامي هیوادونه دډیرو نامشروعو او تپل شویو مړینو کوربه توب کوي بوګنونکې او له اندیښنو نه ډکه ده ، خوچې ددې بې خرته مرګ ژوبلې سره سره بیا هم دمسلمانانو شمیر به په راتلونکیو کلونوکې له کفارو څخه زیات شي، یو امید بخښونکې زیری دی .

دنړۍ نامسلمان هیوادونه مخصوصاً اروپایان (یهود او نصاری)ډیر وخت پدې هڅو بوخت دي، چې په یوه نه یوه بهانه دمسلمانانو دنسل دکموالې کوششونه ګړندي کړي او دافرادي قوت له حیثه یې تعداد کم کړي، خو هغه څه چې څښتن تعالی کوي، هغه بیا دانسان دپریکړو او تصمیمونونه مافوق وي ،دوئ زیات کوشش وکړاو اوس یې هم کوي، چې دمسلمانانو افرادي قوت ددوئ داولادونو دنه زیږیدو او دزیاتو اولادونودکمولوپه پلمه راکم کړي ،کله د(پیچکاریواو مصنوعي درملوپه ذریعه دمنصوبه بندی ترعنوان لاندې یې خلک داولاد کمولوته وهڅول ،کله ورته دمیډیا له لارې دتبلیغاتوکولوپه ذریعه چې (وړوکی خاندن زندګي اسان)،کله اروپایي هیوادونوته دسفرپه کولوپه وخت کې دکمواولادونوموروپلارته ډیره اسانتیاورکول اوهم یې دنورو جهتونوله لارې خپلې هڅې جارې وساتلې ترڅودولسونوهنیتونه دې، ته چمتوکړي، چې کم اولاد له ډیر اودلاد څخه ډیرګټور او داسان ژوندتضمین ورکوي ،چې دې ټولو پروژوباندې دوئ بې خرته لګښتونه هم وکړل، دنړۍ حکومتونه یې هم دې تشویق کړل، چې دې پروسه کې بشپړکوشش وکړي

او دمسلمانانو شمیر کم کړي ،خو ددې ټولو کوششو او هڅو سربیره بیا هم دوئ ونه توانیدل، چې خپل شوم هدف کې کامیاب شي او دمسلمانانو شمیر کم کړي .

دنړۍ ددې نامسلمانو هیوادونو دا ډول هڅې داسلام دارشاداتو سره البته (دځینو استثنایي مواردو) نه پرته په ټکر کې دي، چې بې ضرورته اوله سختې اړتیا پرته دې یوه مسلمانه میرمن له ډیرو اولادونو منعه شي او یو یا دوه اولاده دي ولري ، چې زه دلته څو داسې روایات دمسئلې دوضاحت لپاره رانقلوم ، چې دې سره دنکاح اصل روح او غایه څرګنده شي او پدې پوه شو ، چې داولاد ډیروالی دنکاح مقصددی او که یوازې جنسي غریزه اشباع کول ،په (الغرة المنفية فی تحقيق بعض مسائل الامام ابي حنيفة په ۱جلد ۱۲۷مخ) کې دا روایات لیکلې دي ،داسلام لارښود حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم پکې دنکاح په باب څومره ډیر ترکیز کړی او دنکاح دترکیز پایله یې ډیر اولادونه اودخپل امت دکثرت لپاره تلقي کړي ده، لکه چې فرمایي :

النكاح سنتي فمن رغب عن سنتي فليس مني.

وعن أنس رضي الله عنه قال كان النبي صلى الله عليه وسلم يأمر بالباءة وينهى عنه التبتل نهيا شديدا ويقول تزوجوا الودود الولود فإني مكاثر بكم الأنبياء يوم القيامة رواه أحمد في مسنده/

وعن أبي ذر رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال لعاكف بن بسر: هل لك زوجة قال لا ولا جارية قال لا قال وأنت موسر قال وأنا موسر قال إذن أنت من إخوان الشياطين إن من سنتنا النكاح شراركم عزابكم وأرذل موتاكم عزابم أخرجه أحمد رحمه الله في مسنده /

وروى ابن شيء فقال يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج ومن لم يستطع فعليه بالصوم فإنه له وجاء (الغرة المنيفة فی تحقيق بعض مسائل الامام ابي حنيفة ج:۱ ص:۱۲۷) .

همداسې نور روایات هم شته، چې په نکاح تاکید کوي او ډیرو اولادونو لپاره نکاح ضروري بولي ،نه یوازې داچې جنسي قوه پرې اشباع شي، بلکې عمده هدف پکې دادی، چې درسول الله صلی الله علیه وسلم امت ډیر شي او دنورو په منځ کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته افتخار شي، لکه د(سنن ابن ماجه) دې روایت کې چې هم دا

موضوع ډيره ښه روښانه شوي ،که څه هم دضعف جرحه پرې شوي ،خو ولې محدثين يې دنورو شواهدو له مخې قوي بولې لکه چې فرمايي : عن عائشة قالت

قال رسول الله صلى الله عليه و سلم (النكاح من سنتي . فمن لم يعمل بسنتي فليس مني . وتزوجوا فإني مكاثر بكم الأمم . ومن كان ذا طول فلينكح ومن لم فعليه بالصيام . فإن الصوم له وجاء) في الزوائد إسناده ضعيف لاتفاقهم على ضعف عيسى بن ميمون المديني لكن له شاهد صحيح).

له بده مرغه چې ځينې اسلامي هيوادونه په شعوري يا غيرشعوري ډول دغرب ددې نسل کمونې له پروسې سره همغاړې او دتحقق لپاره يې هلې ځلې کوي، خو ددې ټولو کوششونو سربيره بيا هم په کمال قوت ندې توانيدلې، چې په کوم يوه اسلامي هيواد کې کومه بيلګه ددې پروسې دمثبتو نتايجو وښيي اودنسل کمونې بلکې نس کشۍ کومه بيلګه دې اسلامي هيوادونو کې وښيي، چې ولسونو يې بدرګه کړي وي، بلکې برعکس دوئ نور هم هڅيدلې، چې خپل اولاد دغربي هيوادونو په اصطلاح دمترقي انسانانو په پرتله لا پسې زيات کړي ،حتى دوئ غربيان هم اوس دې نتيجې ته رسيدلې، چې خپل اولادونه زيات تولد کړي، ترڅو له چينايانو سره په عسکري او وګړنيزو ډګرونو کې سيالي وکړي،چينايان چې دنړۍ په انسانانو کې يې دوګړو دشمير ډيروالې ساري نه ليدل کيږي ،لويديځ دې ته اړشوی، چې نور دخپلو وضعي قوانينو دتعديلاتو په رنا کې دټولنې افراد ډير کړي ،نو اسلامي هيوادونوته ددوئ دا نسخه چې وګړې يې کم شي، له بشپړې ناکامۍ سره مخ ده او آن ددوئ ځيرنې دا په زباد رسوي، چې راتلونکې کې به مسلمانان دنړۍ لوی اکثريت تشکيلوي او په (۲۰۷۰ز)کال کې به دمسلمانانو تعداد تربل هرچا زيات وي .

نړيوالو مطبوعاتو پدې اړه يوه تازه ځيرنه خپره کړي چې د (Pew Research Center)ځيرنيزمرکزهمدې حقيقت باندې تاکيد کړی او دمسلمانانولپاره يې يوه ښه خوشخبري خپره کړي ده،چې نن په دنيا کې د عيسايانو تعداد ډير دی؛ خو په ۲۰۷۰ کې به د مسلمانانو تعداد د بل هر مذهب تر پيروانو زيات وي.

پيو څېړنيز مرکز (Pew Research Center)د دنيا تر ټولو زيات مقبول مذهب) تر عنوان لاندې تحقيقونو په پايله کې څرګنده کړې، چې په نړۍ کې اسلام يوازينی

پراخېدونکی مذهب دی، چې منونکي يې تر ۲۰۱۰ عيسوي کال پورې ۱.۶ بيليونه وو، چې د دنيا د ابادۍ (۲۳) سلنه جوړوي، او د عيسائيت د پيروانو شمېر (۲.۲) بيلونه وو، چې د (۳۱) سلنه ابادي تشکيلوي.

د پيو څېړنيز مرکز په اساس په راتلونکو (۵۳) کلونو کې به د مسلمانانو په ابادي کې (۹) سلنه زياتوالی ممکن دی، په (۲۰۷۰) کې به مسلمانان له عيسايانو زيات شي او په (۲۱۰۰) کې به يې د ابادۍ سلنه (۳۴.۹) ته پورته شي چې پيروان به يې په دنيا کې د بل هر مذهب په مقابل کې زيات وي.

نوموړې مرکز د خپل تحقيق له مخې ادعا کوي، چې مسلمانان د بل هر مذهب له پيروانو زيات اولادونه لري، دوی وايي اوسطاً مسلماني ميرمنې (۳.۱) اولادونه لويوي، په داسې حال کې چې د بل هر مذهب پيروانې ميرمنې اوسطاً (۳.۲) اولادونه زېږوي، د راپور له قراره د مهاجرت يا نقل مکاني له امله هم د مسلمانانو په ابادۍ کې زياتوالی راځي او په ځانګړې ډول په شمالي امريکا او اروپا کې د مسلمانو ابادي په خورا تيزي سره زياتېږي.

په راپور کې ويل شوي چې د دنيا (۶۲) سلنه مسلمانانو په اندونيسيا، هندوستان، پاکستان، بنګلديش، ايران او ترکيه کې اوسېږي او په (۲۰۵۰) کې به هندوستان د اندونيزيا په نسبت د مسلمانانو تر ټولو زياته ابادي ولري.

راپور ليکي: تېر کال په امريکا کې د مسلمانانو ابادي (۳.۳) ميليونه وه، چې د امريکا د ټولې ابادۍ (۱) سلنه جوړوي او ډير امکان شته چې په (۲۰۵۰) کې به د مسلمانانو ابادي (۲.۱) نوره هم زياته شي.

پورتنۍ څېړنه چې دلويديځوالو هيوادونو کې په زړونو کې شوي، پخپله ددوئ دهغو پلانونو دناکاميدو ردعمل دی، چې دوئ دمسلمانو هيوادونو په باره کې لري اوزيار باسي چې اسلامي هيوادونه دافرادي طاقت او وګړيزشميرله مخې ضعيف او ددوئ دټولنيز زور اوبه کړي، کله يې دجګړو په لمبو سوځوي، کله يې دمصنوعي درملنوپه ذريعه او کله بيا ورته نورې لارې ګودرې ګورې، ترڅويې وګړې کم کړي او دوئ پرې خپل راج وچلوي، خو هغه چې دخالق پريکړه ده، هغه بيا ددوئ ټول داتصاميم سبوتاژ او دادی راتلونکې نړۍ دمسلمانانو دډيرلوی اکثريت دسلطنت او واکمنۍ ددورې وړاندوينه کوي. انشاءالله تعالی!

منفوره او وحشت خپرونکې جګړه!

بشیر

زمونږ په هېواد او ولس داستعمار لخوا تپل شوې جګړې دومره پېچلې او مغلقه بڼه مندلې چې اوس پخپله امریکایانوته هم تري دوتلو لار او ګود نه ښکاري

دامریکا دلوپوړو پوځي جنرالانو څخه نیولي تر سیاسیونو ، پوهانو او لیکوالو ټول په افغانستان کې روانه جګړه دامریکا په ګټو په وړاندي ګواښ او زیان بولي او دامریکا متحده ایالاتو له حکومت په کلکه غواړي چې نور باید ددغې جګړې دپای ته رسولو لپاره هڅې وکړي نه یې دغځولو او پراخو لپاره

دامریکایې لیکوالو او پوهانو په نظر : په افغانستان کې دجنګ لپاره دامریکا دحکومت لخوا ورکول کیدونکي لګښتونه بې ځایه او بې ګټې دي،او یو دبې نظمه اوبې کفایته حکومت د ملاتړ لپاره ورکول یې هسې عبث دي

په وروستیو کې دګوډاګي اشرف غني لخوا دټرمپ نه دنورو او همکاریو غوښتنې په باب امریکایان وایي: بس دی نور دوی ستړي شول ترڅومونږ(امریکا) له یوداسې حکومت سره مرسته او همکاري کوو چې هغه په هیڅ صورت دجګړې ګټلو توان نلري

دامریکا لوی شمیر سیاسیون او لیکوال له خپل حکومت داغواړي چې دامریکایې ځواکونو ویستلو لپاره له شته فرصتونو په کاراخستلوسره دي سملاسي په دغه بې مفهومه او منفوره جګړه کې خپل پوځي حضور پای ته ورسوي

دسټمپ چاپمان په نوم لیکوال پخپله نوې لیکنه کې لیکلي:څنګه چې دټرمپ دوروستیو څرګندونو بریښي چې هغه غواړي افغانستان کې جنګ پای ته ورسوي دلیکوال په نظر هغه باید ضرور داسې وکړي او له افغانستانه ټول امریکایې عسکر وباسي ځکه مونږ هلته دبري چانس نلرو، او دادی په دې تمه تمه مو هلته ډېر وخت تیر کړلیکن څه مو ترلاسه نکړل لیکوال وړاندې وایي:که رښتیا وایو مونږ افغان جګړه بایللې!که په دومره وخت کې مونږ بری ترلاسه نکړ نوبیا به یې کله ترلاسه کوو؟

افغانستان کې دامریکا او ناټو قومندان جنرال نیکسن لخوا دنورو عسکرو غوښتنې په اړه دامریکا سیاسیونو او لیکوالو غبرګون ښودلی هغوی وایي: دځوزره عسکرو په لیږلو سره جګړه ګټل یواځي خیال دی! که مونږ رښتیا غواړو چې جګړه اوګټو نوبیا افغانستان ته باید ښه ډېر عسکر ور ولیږو او که دا نه کوو

دامریکا یې منابعو په وینا: تراوسه امریکا په افغانستان او عراق کې په جنګونوځه باندې څلور تریلیونه ډالر لګولي چې تیره پنجشنبه ټرمپ خپله دامریکا کانګریس ته وویل : چې دا دومره ډېرې پیسې چې مونږ پرې امریکا دوه ځله جوړولی شوله

ضروربایدروان حالت پای ته ورسوو او هلته نور پاتې نشو.

بل پلو په افغانستان کې هم دامریکایانو ظالمانه پوځي شتون او دهغو بد اخلاقیو اوبې لاریو پرضد چې دوی په افغاني ټولنه کې زیږولي دافغانانو ترمنځ ترهه او ناکرارې خوره کړې تردې پورې چې یوشمیر هغه خلک هم اوس دامریکایانو دبداخلاقیو او بې لاریو څخه سرټکوي څوک چې په دیرغل په پیل کې دامریکا یانو سره ملـه ول او اوس هم دلاسپوڅي رژیم لوپوړي چارواکي دي

هغوی کرار: کرار دې نتیجې ته رسیدلې یرغلګر امریکایان دافغان ولس ننګ ،غیرت ،ناموس او ابروته غله دي او تري دبیان دازادی او دیمکراسی په بدل کې حیا، عزت ناموس او غیرت تروړي

په دې اړه د غلام پارلمان دیوتن وکیل عبید الله بارکزي وروستی څرګنونې تازه ثبوت دی چې نوموړي دخلکو یوې غونډېته دوینا پر مهال کړې

هغه اعتراف کوي چې : په بل هیڅ وخت کې افغانان دومره ذلیل، خوار او بې پته شوي نه وو څومره چې نن شول ، امریکایان لګیادي له افغانانو څخه دبیان دازادی او دیمکراسی په بدل کې ننګ. ناموس، حیا او پت اخلي!!

ښاغلی بارکزي ناستو خلکوته پخپلو سترګو د یوې لیدلې واقعې نه هم پرده پورته کړې او وایي:

یو وخت دلوی کندهار له وکیلانو سره یو امریکایي جنرال سره مجلس درلود ،دی هم دوکیل په توګه دغه مجلس کې ګډون لاره، یو وخت دلمانځه لپاره ولاړشوم زوږ او شور مې تر ترغوږو شو،ګورم چې اویا اتیا لوڅې افغان پیغلې امریکایانو سره یوځای ولیبال کوي!!

دبارکزي په وینا بې شمیره انجونې هم دا واس په پې ارټیانو کې دامریکایانو سره شپه و ورځ کار کوي او دکار په بدل کې خپل عزت او حیا پلوري...

دا ديـو وکيـل دسـترګو ليـدلی حـال دی خدای خبرنور به کوم حال وي، امريکـايې اډوتـه ډلې ډلې پيغلې تلل خو له هيڅا پټ ندي!

چـې رښـتياهم د هغـو افغانـانو لپـاره داد شرم او خجالت ځای دی چې هغـوی دځـو ډالرو پـه بـدل کـې خپلـه حيـا، ننـګ او نـاموس پلوري

طبعې ده هرهغه څوک چې ځان ته مسلمان او افغان وايي هغه به دامريکايې يرغلګرو له بـدا خلاقيو نه کرکه او نفرت لري او پـر ضـد بـه يـې دجهاد هوډ لري او کوم خلـک چـې دامريکايـانو نه کرکه اونفرت نلري دامريکايانو په جنـايتو نـو او بد اخلاقيو سترګې پټوي يا په مقابـل کـې يـې غبر ګون او پاځون نکـوي هغـوی اصـلاً دايـمان ، اسـلام او افغانيـت لـه دايـرې وتلـې دکفـارو او امريکايانو اخلاقي دايرې ته ننوتي دهغوی نه پـه افغاني ننګ او حيا دغيرت تمه هسې ده

ديتـه پـه کتـو هېـواد کـې مجاهـدين دامريکايانو ترځنګ هغه افغاني الاصل امريکايان هم دخپلو تندريزو بريدونو نښه ګرځـوي ځنګـه چې نور يرغلګر ګرځوي

دافغانستان ترځنګ دامريکا پوځي شـتون دټولې منطقې دامنيت او ثبات لپاره پـه ناسـور بدل شوی، لهـه کلـه نـه چـې امريکـا افغانسـتان اشـغال کـړی ورسره هـم مهـال پـه سـيمه کـې دمسلمانانو ژوند او امنيت له ګواښـونو سره مـخ شـوی او ورسره ټولـه منطقـه کـې دجنګونـو او مرګونو لمبې بلې شوې

نـن ورځ دپاکسـتان او افغانسـتان شـته ستونزې او ناخوالې دهمدې امريکـايې يرغـل او پوځي شتون زيږنده دي: که هر کلـه امريکـا لـه افغانستانه ووته په هم هغه ورځ به اوسنۍ ټـولې ناخوالې پای وومي

نـو ددې خـبرې شـديده اړتيـا ده چـې دافغانانو په ګډون دسيمې ټول خلک دامريکا پـه ضـد پورتـه شي او ديتـه يـې اړکـړي چـې هغـه سـملاسي لـه افغانسـتانه خپـل عسـکر وبـاسي دافغانانو او دمنطقې دخلکـو ازادې او خپلـواکې او مني

پـه خاصـه توګـه افغـان ولـس دي دا درک کړي چې هېواد کې روان جهاد او مبارزه دتـاريخ يوداسـې سـتر او مهـم پـړاو دی چـې دافغانـانو ننګ، ناموس او حيا ژغوري ، دين ايمان او اسلام خونـدي کـوي ، دوی ورسره پـه سر اومـال ودريـږي او خـدای مکـړه کـه روان جهـادي وضعيت ټکان وخـوړو يـا ناکامـه شـو پـه افغـان ولس هغه ناخوالې راشي چې دوی يې تراوسه

د اسرائیلو نوی اعلان

او د آزاد فلسطیني دولت په وړاندې پراته خنډونه!

شهیدزوی

څو ورځې وړاندې غاصب اسرائیلي دولت اعلان وکړ چې په قبضه کړې لویدیځی ټرانګې کې به د یهودي ناقلینو لپاره نور ۲۵۰۰ کورونه جوړ کړي .

په تېرو ۲۰ کلونو کې د ا ړومبی ځل دی چې غاصب اسرائیلي دولت په قبضه شوې کومې سیمې کې د دومره زیاتو کورونو د جوړولو اعلان کوي، له دې وړاندې یې په رسمي توګه کله د دومره زیاتو کورونو د جوړولو اعلان ندی کړی .

د اسرائیلو لومړي وزیر بن یامین نتن یاهو ویلي دي چې دا پرېکړه یې د یهودي ناقلینو لپاره د ځا یونو د کمښت پر بنسټ کړیده .

په امریکا کې ټرمپ ولسمشر- کېدو نه پس دا دوهم اعلان دی چې لویدیځې قبضه شوې ټرانګې کې د یهودي ناقلینو لپاره د نویو مېشت ځایونو په اړه یې د اسرائیلو دولت کوي.

ټرمپ نه یواځې دا چې د نویو یهودي مېشت ځایونو د جوړولو په اړه یې د اسرائیلي دولت د اقداماتو نه خپل حمایت ښکاره کړی وبلکې اسرائیلو ته یې د نوي سفیر په صفت داسی تن واستولو چې په قبضه شویو فلسطیني سیمو کې د یهودو لپاره د نویو مېنو د جوړولو سخت حامي دي.

ټرمپ به دخپل انتخاباتي کمپاین پر مهال ښه په جهر د اسرائیلو نه خپل حمایت ښکاره کاوه او ویل به یې چې د ولسمشر کېدو نه پس به بیت المقدس د اسرائیلو د پلازمېنې په صفت ومني نو ځکه اوس اسرائیل دې ته ډېر هیله مند دي چې امریکا به بیت المقدس د اسرائیلو د پلازمېنې په صفت ومني او خپل سفارت به ورته ورمنتقل کړي.

اسرائیل ټرمپ خپل ډېر نېږدې دوست ګڼي او فکر کوي چې لږ تر لږه دده په شتون کې به په نړۍ کې د ازاد فلسطینی دولت غوښتنه تر ډېره حده کمزوری شي .

د ټرمپ د ولسمشرۍ کېدو سره سم د اسرائیلو د ښوونې وزیر ویلی و چې د ټرمپ د

ولسمشر کېدو نه پس به د ازاد فلسطنی دولت لپاره د نړیوالې ټولنې سیاسي عزم له منځه ولاړ شي، اوس اسرائیلو ته دا ښه موکه په لاس ورغلې ده چې د دوه ازادو هېوادونو د وجود فکر د خلکو د ذهنونو نه وباسي ، د ده په وینا د ازاد فلسطیني دولت وخت اوس تېر شویدی.

رښتیا دا ده چې د ټرمپ بریالیتوب غاصب صهیونستي دولت ډېر ښکرورکړیدی .

د اسرائیلي دولت له لورې دفلسطینیانو په ځمکو کې د نویو مېشت ځایونو پر ضد چې دتېر ۲۰۱۶ م کال ددسمبر په ۲۳ مې نېټې د ملګرو ملتونو په امنیت شورى کې یوه طرحه د ۱۴ غړو په اتفاق له دې امله تصویب شوه چې امریکا ویټو نکړه نو ددې طرحې په تصویب په ښکاره اسرائیلي دولت ډېر ناهیلی ښکارېدلو او د هغو هېوادونو پر ضد یې خپله غصه هم ښکاره کړه چې دا طرحه یې د خپلې رایې په کارولو تصویب کړی وه ؛ د دې طرحې د تصویب نه پس د اسرائیلو دولت دنویو ودانیو کار ودرولی و خو چې کله ټرمپ په انتخاباتو کې بریالی او اسرائیلی دولت ته یو قوي ملا تړ ور په برخه شو نو د ټرمپ د لورې نه دوه ورځې پس یې په ختیځ بیت المقدس کې د نویو ودانیو د جوړولو اعلان وکړ.

د ای.ایف.پی په نوم د خبرې اژانس سره د مرکې پر مهال د بیت المقدس د ښاروال مرستیال ددې اعلان په اړه وویل چې اوس حالات بدل شویدی، مور ته د خپل دولت له لورې د ۵۶۶ نویو کورونو د جوړولو اجازه راکړل شوه، ددې کورونو د جووړولو کار د لومړي وزیر بن یامین نتن یاهو په غوښتنه ودرېدلی و، ځکه چې په امنیت شورى کې یې پرضدطرحه تصویب شوی وه.

هسې خو د صهیونستي دولت تر کنترول لاندې ټوله هغه سیمه چې نړۍ یې د اسرائیلو د هېواد په صفت پېژني د فلسطینی مسلمانانو ځمکه ده چې د نړۍ د ګودۍ ګودۍ نه راغلو یهودانو په ډېرې مکارۍ د فلسطیني مسلمانانو نه غصب کړیده خو نړۍ دغه سیمه غصب شوی سیمه نه ګڼي بلکې په ۱۹۸۰م کې دختیځ بیت المقدس نیول شوی سیمه او په ۱۹۶۷م کال کې چې د عربو او اسرائیلو د جنګ پر مهال د لویدیځې غاړې، د ګولان غرونه او د سینا دښته هغه سیمې دي چې نړۍ یې د اسرائیلو له لورې قبضه شوې سیمې بولي او پکې د نویو یهودی مېشت ځایو سره مخالفت ښکاره کوي او وایي چې دلته د نویو ودانیو جوړول د دوه ازادو هېوادونو د (ازاد فلسطین او اسرائیل) د هڅو په لار کې خنډ کېږي پدې قبضه شویو سیمو کې د سینا دښته په ۱۹۸۲م کې د مصر سره د ټرون له مخې بېرته مصر ته ورسپارل شویده او دلته د یهودو لپاره جوړې

شوې ټولې ودانۍ ورانې شـــوې وې، همـــدا راز د غـزې نـه هـم پـه ۲۰۰۵م کال کې اسرائیلی فوځونه ووتل او د یهـودي نـاقلینو لپـاره جـوړې کـړې ټـولې ودانۍ یې ړنګې کـړې خـو په لویدیځې غاړې ،ګولان او ختیځ بیت المقـدس کـې پـه مسلسـل ډول د یهودو لپاره مېشت ځایونه جـوړ وي او د ملګـرو ملتونو د اداري او نړیوالې ټولنې د مخالفـت سره سره هم له دې کار نه لاس په سر کېږي.

پدې سیمو کې تراوسه د یهودو لپاره ۱۴۰ کلی جـوړ شـویدي چـې پکـې کـابو ٦ سـوه زره یهودان ژوند کوي، دې آبادیو چې کومه ځمکـه نیولې ده دا د غرب اردن ۲ سلنه برخه ده خـو د دې کلـو د امنیـت پـه پلمـه چـې دلتـه راغـلي اسرائیلی فوځیانو کومې ځمکی لانـدې کړیـدي او د زراعـت لپـاره چـې دلتـه مېشـتو یهـودو تـه کومې ځمکی ځانګړی شـویدي هغـه بیـا ډېـرې زیاتی دي.

د اسرائیلی دولت له لورې دلته خلکو ته د زیاتو اسانتیاو برابرول هم دلته د زیاتو یهـودو د راتلو لامل شویدی خو یهود یواځې اسـانتیاو تـه نه ګوري بلکې پـه مـذهبي لحـاظ هـم دا ځمکـه دوې تـه ځـانګړی اهمیـت لـري او وایـي چـې دا هغه ځمکه ده چې خدای یې د دوئ سره وعـده کړیده نو ځکـه دلتـه مېشـت کېـدو تـه تـرجیح ورکوي.

فلسطینیانونړی ته په ډاګه کړیده چې پـه مقبوضه سـیمو کـې د یهـودي مېشـت ځـایونو د جوړولو دوام د ازاد فلسطینی دولـت د جوړېـدو پـه لار کـې ډېـر سـتر خنـډ دی نـو ځکـه یـې د اسرائیلـو سره د مـذاکراتو لپـاره همدادمېشـت ځایونوړنګول ترټولومهمګرځولی دی او تـر هغې مذاکراتو ته نـه تیـارېږي تـر څـو چـې اسرائیلي دولـت د دوئ ددې شرط منلـو تـه نـه وي تیـار شوی.

اسرائیلو د فلسطینی مسلمانانو دا شرط رد کړیدی او وایې چې مذاکراتوته د فلسطینیانو د چمتو کېدونه پس د یهودي مېشت ځـایونو پـه اړه خبرې کېدای شي.

اسرائیل د ډېرې مکـارۍ نـه کـار اخلـی او نړۍ ته داسې ښکاره کـوي چـې ګینـي پـه ټولـو

قبضه شویو سیمو کې د یهودو لپاره د حوړو شویو کورونو په باره کې خبرو اترو ته چمتو دي په داسې حال کې چې په ختیځ بیت المقدس کې د ودانیو په اړه اسرائیل هیڅکله هم مذاکراتو ته ندي چمتو اوداځکه چې اسرائیل ختیځ بیت المقدس دخپل هېواد دراتلونکي حتمي پلازمېنه ګڼي ؛ په ۱۹۸۰م کې چې ختیځ بیت المقدس اسرائیلو قبضه کړ نو سره له دې چې نړۍ د اسرائیلو دا قبضه جائز و نه ګڼله خو اسرائیلو له هماغې ورځې دا هڅې پیل کړې چې دې سیمې ته خپله پلازمېنه رامنتقل کړي.

اسرائیل چې ختیځ بیت المقدس نه یواځې دا چې د خپل هېواد نه جدا کېدونکې برخه یې ګڼي بلکه تر څنګ یې دا خواهش هم لري چې هېواد د پلازمېنه یې وګرځوي نو بیت المقدس کې د جوړ شویو نو یو ودانیو په اړه هیڅکله هم خبرو اترو ته نه چمتو کېږي.

نړیواله ټولنه ، د ملګرو ملتونو اداره او نړیوال محاکم د فلسطینیانو په ټولو قبضه شویو سیمو کې ودانې کول ناقانونه بولي، ددې اساس د۱۹۴۹م کال دجنیواکنونسیون دي، د جنیواکنونسیون کې ښه په روښانو ټکو ویل شویدي چې هیڅ یو هېواد په قبضه شوی خاورې کې خپلو اتباعو ته کورونه نه شي جوړولای .

اسرائیل دا نه مني او وایې چې داسیمې یې د دفاعي جنګ پر مهال تر خپل کنترول لاندې راوستی دي نو د کوم خپلواک هېواد برخه یې نشي منلای.

په قبضه شویو سیمو کې د اسرائیلو له لورې د نویو مېشت ځایونو د جوړولو د دوام پر ضد د ملګرو ملتونو د امنیت شورى کې هم ګڼې طرحې تصویب شویدي خو د اسرائیلو په سر چې د امریکا سورى دى نو ددې طرحو یې هیڅ پروا نده لرلې او نه به یې ولري .

نو دا خبره پر ځای ده چې دازاد فلسطیني دولت لپاره په نړیواله سطحه سیاسي هڅې ښه دي خو دا تمه نشي کېدای چې ګینې د سیاسي هڅو له لارې به فلسطیني مسلمانانو ته ازاد هېواد په برخه شي.

دآزادفلسطیني دولت دترلاسه کولولپاره ضروري دا ده چې د سیاسي هڅو تر څنګ ټول فلسطینیان د حماس تګ لاره غوره کړي ، په نظامي ډګر کې د ځان مظبوطولو لپاره پر ځان شپه او ورځ یوه او لږ تر لږه په پیاده جنګ کې ځانونه د اسرائیلي فوځونو سره د مقابلې جوګه کړي د اسرائیلو فوځیانو په څېر بزدل فوځیان په ټولی نړۍ کې نشته ، په ډګر کې د مسلمانانو ځوانانو د مقابلې توان نه لري، نو په لږ عسکري طاقت ښکاره کولو اسرائیل د ډېر څه منلو ته اړ ایستل کېدای شي .

زخمي افغان

اشرف غني

او د شريعت د تعميل لاپې!

اشرف غني د کب د مياشتې په نهمه نيټه د سرتيرو په نوم د ورځې په مناسبت يو لړ مراسمو ته د وينا په وخت په اسلامي شريعت د عمل کولو ځيګر وټکاوه او تر دې چې طالبانو ته يې هم چيلنج ورکړ. اشرف غني وويل چې مورږ شريعت عملي کړی دی او طالبان دې راشي له مورږ سره دې په شريعت کې مناظره وکړي.

اشرف غني!

بايد په دې پوه شې چې شريعت يوازې بې محتوا قول يا تش تبليغاتي شعار نه دی، چې د ستيج په سر بيا بيا ياد شي. شريعت يو کردار او عمل دی. طالبانو به په خوله لږ د شريعت دعوه کړې وي ،مګر په کردار کې خو دنيا شاهده ده، چې پيړۍ وروسته يې ددين شعائر، حدود او قصاص،مدرسه او جومات،ديني فکر او ديني صبغه يې راژوندی کړه او عملا يې اسلامي شريعت او سياست درست جهان ته وښود.

اما که تاسو او ستا حکومت د شريعت په ترازو کې واچوو، نو دا راته ووايه چې له رولا غني سره دې نکاح د کوم شريعت په اساس ترلې؟ آيا د قرآن له رويه د اهل کتابو عيسويانو له قبحې نه وې خبر او که په مسلمانانو کې د ښځو قحطي وه ،چې ته لاړې له يوې عيسوۍ سره دې نکاح وکړه؟

اشرف خانه!

دا راته ووايه،چې تا ډير عمر په څه کې صرف کړی؟ د اسلام په خدمت کې که د کفر په خدمت کې؟ په اسلامي هيوادونو کې که په کفري هيوادونو کې؟ په اسلامي ادارو کې که د امريکا او غربي کفر په پوهنتونونو او نورو ادارو کې؟

دا راته ووايه !چې ستا د څو فوټه اوږده بدن کومه برخه په شريعت برابره ده؟ فرانسوي ډيره که غړوندی نيکټايي؟ آيا د جنازې په لمانځه کې رکوع دې په شريعت د پوهيدنې دليل دی او که په دعاء کې لاسونه تر غوږو وړل؟

کله چې تاسو په شريعت ژبه تکوله، نو مخامخ درته امريکايي جنرال نيکولسن ناست و، دا راته ووايه چې د اسلام په وطن کې ددغه صليبي جنرال

برلاس موجودیت د کوم شریعت غوښتنه ده؟ آیا دا جنرال ذمي دی، مستأمن دی او که حربي؟ په شریعت کې ددغه جنرال او ورسره لسګونه زرو کافرو عسکرو شتون په دارالاسلام افغانستان کې څه حکم لري؟

تاسو د حکومت لخوا د شریعت د تعمیل او تطبیق لاپه هم وکړه، دا راته ووایه۱ چې له (ایشچي) سره ستا د لومړي مرستیال جنرال دوستم لواطت له شرعي لحاظه څرنګه ارزوئ؟ او دا چې د ګناهګار دوستم په عوض دې د هغه ساتونکي څارنوالی ته وغوښتل د یوه کس په جرم بل کس رانیول کوم شرعي دلیل لري؟

اشرف خانه! ته وایې زما محکمې شریعت عملي کوي. الله تعالی وایي که چا غلا وکړه لاس یې ورقطع کړئ. آیا ستا حکومت او محکمو تر اوسه د یوه غله او رهزن لاس ورقطع کړی دی؟ او که ته وایې چې بالکل غلا نه ده شوې. آیا په یوه زناکار او لواطت کار باندې دې حد جاري کړی دی؟؟

او که ته وایې چې زما په حکومت کې دا کارونه نشته، نو دا خبره دې بالکل دروغ ده.ځکه ستا په حکومت کې چې دغه بدفعلي موجودې دي، نو ښایي د افغانستان په تاریخ کې بل داسې شرمیدلی نظام نه وي راغلی. ددغسې بدفعلیو ښه مثال جنرال دوستم دی،دغه راز ستا د پوځ او امنیتي ادارو هغه بدکاره قومندانان چې هر یو د زنا او لواط په شنیعو اعمالو ککړ دي او نړیوالو رسنیو وربانديې مستند راپورونه جوړ کړي دي.

اشرف غني! ته چې د شریعت دعوه کوې، لږ خو دې د خپل فاسد رژیم د ظلم، غصب،رشوت، اداري فساد او اخلاقي ځوړتیا وضعیت ته هم نظر وکړه، چې هر کال په فساد کې لومړی درجه امتیاز خپلوي. که بل څوک د شریعت دعوه وکړي هم لا یو ګنجایش شاید ولري، نه پوهیږم تاسو په کوم مخ د شریعت د پیاده کولو ادعاء کوئ؟ آیا شرعي نظام همداسې فاسد، بدنام او غاصب وي چې حتی له کافرو رژیمونو په فساد کې نمبر وړي؟

نو اشرف غني په خلکو د ساده ګانو ګومان مه کوه چې په داسې بې معنی خبرو یې وغولوې!

شریعت د الله تعالی له لورې را لیږل شوی قانون او برحقه تګلاره ده، دغسې تګلاره کله هم له غربي دموکراسۍ او لیبرالیزم سره په یوه قالب کې نه شي ځایېدلی، شریعت یوازې ادعاء او د خولې خبره نه ده، بلکې یو ثابت او تلپاتې دستور دی، چې د انساني ژوند ټول اړخونه احتواء کوي. ستا د رژیم په شان په غربي لیبراله فلسفه ولاړ حکومت کله هم شرعي نظام نه شي بلل کیدای، بلکې ډموکراتیک نظام ورته ویل کیدای شي. دغسې نظام په مسلمان اولس د حاکمیت جواز نلري او باید پرمخې رانسکور شي، ځکه د اسلام په خاوره باید یوازې اسلام حکومت وکړي او بس.

به یاد فاتح کندز

شهید ملاعبدالسلام رحمه الله

سعید بدخشاني

مِنَ المُؤمِنینَ رِجالٌ صَدَقوا ما عاهَدُوا اللَّهَ عَلَیهِ ۖ فَمِنهُم مَن قَضیٰ نَحبَهُ وَمِنهُم مَن یَنتَظِرُ ۖ وَما بَدَّلوا تَبدیلًا﴿۲۳﴾سوره احزاب.

درمیان مؤمنان مردانی هستند که بر سر عهدی که با خدا بستند صادقانه ایستاده‌اند، بعضی پیمان خود را به آخر بردند (و در راه او شربت شهادت نوشیدند)، و بعضی دیگر در انتظارند،و هرگز تغییر و تبدیلی در عهد و پیمان خود ندادند.

صداقت در پیمان با خدا،راه حل همه مشکلات است،اگر امت اسلامی در هر برهه ای،در هر دوره ای دچار مشکلاتی شود که(تهاجم نظامی وفرهنگی غرب واتحادیون اش بر ممالک اسلامی وبخصوص بر حریم افغانستان مجاهد پرور، از بزرگ ترین دشواری ها محسوب می گردد)راه برون رفت وحل آن چیست؟

پاسخ کاملاً واضح است که :مِنَ المُؤمِنینَ رِجالٌ صَدَقوا ما عاهَدُوا اللَّهَ عَلَیهِ>وقتیکه پیمان با خدا ومعاهده ای که دلهای مؤمنین با خدا بسته اند صادقانه باشد،همه کارها پیش خواهد رفت،همه مشکلات بر طرف خواهد شد.البته زندگی موانع دارد،سختی ها دارد،باید راه را با همّت خود،با کوشش خود هموار کرده وبه سمت اهداف والای اسلامی خویش حرکت نمود.

یاران راستین پیامبر بزرگ اسلام،تابعین،تبع تابعین ودیگر ملتهایی که به اوج معنوّیت ورفاه وسعادت دارین رسیدند،این طور حرکت کردند.قرآن کریم به ما این چیزها را می آموزاند.

سلسله ایثارگری ها از سوی فرزندان پاک طینت اسلام در راه اعلاء کلمه الله وبر پای نظام شرعی تا به روز قیامت ادامه دارد،بطور مداوم شاگردان واقعی مکتب جهاد رسول معظم اسلام بخاطر تنفیذ احکام الهی به مبازه خستگی ناپذیر خود ادامه خواهند داد وهیچ طاغوت

وابرقدرتی سدّ راه این سیل خورشان شده نمیتواند.

شهادت هی مطلوب ومقصود مؤمن

نه مال غنیمت نه کشور کشایی.اقبال

واقعاً شهادت مجاهد نستوه وفرزند رشید اسلام الحاج ملا عبدالسلام رحمه الله قلوب ملت مجاهد افغان وراه روان وی را جریح دارساخت، رحلت آن مرد سنگر آن هم در شرایط نهایت حساس، بدون تردید یک صدمه بزرگ وغم انگیز است،زیرا به برکت مساعی بی دریغ وقربانی های مخلصانه ومدبرانه مرحوم ،اشغالگران کفری از آن شهر بیرون رانده شد واکثر اراضی اش به کنترول مجاهدین درآمد.

الحاج ملا عبدالسلام شهید،با وجود تمامی مصائب ومشقت ها یک روز هم از مبارزه در مقابل غربی ها وغلامان حلقه بگوش آنها دست نکشید وهمواره در جهت برچیدن بساط نامیون آمریکایها از مملکت رزمید حتی که برای دو بار ولایت استراتیژیک کندز درشمال کشور را فتح وپرچم پرافتخار اسلام را بر فراز دوایر دولتی در اهتزاز درآورد وبرای سایر مجاهدین در اطراف واکناف کشور درسی قهرمانی داد ولقب فاتح کندز را از آن خود کرد.

آری در مسیر جهاد ومبارزه شهادت،اسارت وجراحت یک امر حتمی است،البته همه ای اینها عاری از پاداش نخواهد بود،وبزرگترین آرزوی مجاهد فائز شدن به مقام شامخ شهادت میباشد.

کلام خداوند است که شهیدان زنده اند،در نزد پروردیگار شان رزق میخورند،ومطابق قول رسول خدا روح شهداء در جاغور پرندگان سبز ودر جنات نعیم سیاحت وعیش میکنند.

خوشا بحال کسانی که صمیمانه در برابر دشمنان اسلام ستیزیدن وهرگز از موقف ایمانی واسلامی خویش یک خطوه هم عقب نشینی ننمودند وبالآخره در راه دفاع از نوامیس اسلامی جان را بجان آفرین سپردند.

فاتح کندز الحاج ملا عبدالسلام رحمه الله بسیار انسان دلیر وپردل بود که در مهیب ترین شداید ومخاوف باز هم از خود مردانگی نشان داد وهیچ گاهی از دشمنان تا دندان مسلح نه تنها که نه هراسید وتهدید های مداوم از سوی کفار وجیره خوارانش نتوانست استقامت وپایداری وی را متزلزل وخدشه دار بسازد.سرانجام مرد جسور شهید ملا عبدالسلام در۸ ماه حوت ۱۳۹۵ به اثر حملات ناجوانمردانه طیاره بی پیلوت آمریکایان اشغالگر در دشت ارچی کندز به آرمان اصلی خویش ،بمقام عالی شهادت نائیل گردید.اناللّٰه وانا الیه راجعون.

گور خونین شهیدان بتو آواز دهد

شعلهء را که فروزان کرده خاموش مکن

ما به امید وفای تو گذشتیم ز جان

دوستان را مبر ازیاد وفراموش مکن

په ساړه فصل کي تاوده مورچلونه!

سید شریف

د اسلامي امارت اتلو مجاهدينو دژمي په ساړه فصل کي هم د ګرمو فصلونو په څېر خپل سنګرونه تاوده ساتلي، ،دښمن د ژمي د سړې هوا او اورښتونو څخه په استفاده ډېره هڅه وکړه چي له مجاهدينو څخه ځيني سيمي بيرته ونيسي،خو لله الحمد مجاهدينو نه يوازي داچي عقب نشيني نه ده کړې،بلکي دژمي په ساړه موسم کي يې دښمن ښه ټکولی،سيمي او پوستې يې ترې نيولي او په پراخه پيمانه غنيمتونه يې ترلاسه کړي دي.

د ژمي په راتګ سره دښمن په کندز،هلمند،ارزګان،فراه،فارياب،بغلان،پکتيا،کاپيسا او ..... ولايتونو کي په بيلابيلو نومونو عمليات اعلان او پيل کړل،حتی دکابل رژيم جنرالانو په وار- وار دعوه وکړه چي: (په يوه وخت کي يې ۱۷عمليات دوام لري)،خو دښمن دمتعددو عملياتو په پيل او اعلان سره هيڅ سوبه نه ده ترګوتو کړې،په هر ولايت او هره سيمه کي يې چي عمليات ترسره کړي،د غوڅي ماتي او لوی پيغور سره مواجه شوي دي.د بېلګې په توګه د ژمي په سړه هوا او اورښتونو کي دهلمند او کندز پوځي وضعيت ته اشاره کوو:

دښمن دهلمند مرکز لښکرګاه د محاصرې ماتولو ډيري هڅي وکړې،د يرغلګرو په هوايې او مځکنې ملاتړ يې دمجاهدينو پر سنګرونو پرله پسې شديدي حملې وکړې،په رسنيو کي يې د مجاهدينو دتلفاتو اوازې خپرې کړې،مګر واقعيت دادی چي مجاهدين په خورا لوړه روحيه او اتلولۍ سره له خپلو مورچلونو څخه دفاع کوي او هممهاله يې مرکز لښکرګاه کي ددښمن مهم مرکزونه تر بريدونو لاندي نيولي دي،دښمن نه يوازي داچي ځان له محاصرې نه دی ايستلی،بلکي په خپلو پټنځايونو کي هم ډډار له امله قرار نشي کولای.

په شمالي هلمند کي ستراتيژيکه ولسوالي (سنګين) چي دولسوالۍ دمرکز او بازار پرته نوري ټولي سيمي يې د مجاهدينو په واک کي

وې،مجاهدینو دژمي په ساړه فصل کي برید ورباندي وکړ،د ولسوالۍ دفاعي پوستې او بازار یې ونیو،دښمن ته یې د سر او تجهیزاتولوی زیان ورساوه.

همدارنګه دښمن دکندز ښار د هغو سیمو چي دمجاهدینو ترولکې لاندي دي او د دښت ارچي،امام صاحب،چهار درې ولسوالیو او نورو سیمو دنیولو ډیري هڅي وکړې،په مختلفو نومونو یې عملیات وکړل،خو هر ځل د پریکنده ماتي سره مخامخ شوي او دتیښتي لار یې غوره کړ ې ده.

په همدې ژمي کي دښمن په خپلو عملیاتو کي ډیر لوی زیان ولس ته ورساوه او لایې هم د وحشت لړۍ روانه ده،ددښمن په بمباریو،چاپو او د ثقیله وسلو په بریدونو کي په سلهاوو ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شول،کورونه،جوماتونه،پلونه او ښوونځي ویجاړ شول.

دکابل رژیم د پرله پسې چیغو او زاریو له امله اشغالګرو په هوایې بریدونو او شپنیو چاپو کي ډیروالی راوست،د یرغلګرو دبمباریو او چاپو دیو ځل بیا زیاتیدو له کبله ولس ته لوی لوی ځاني او مالي زیانونه واوښتل. دیرغلګرو په بمبار کي یوزاي روانه میاشت دهلمند په سنګین کي په درځنونو ولسي وګړي د ژوند له نعمته بې برخي شول،ګڼ کورونه او یو مس جد وران شو، د سنګین بازار ته څېرمه اشغالګرو دخپلو کرایې جګړه مارو دژغورني په موخه پر ولس میشتو سیمو بمبارۍ وکړې،په دې بمباریو کي لوی زیان ملکي هیوادوالو ته واوښت،آن د یوې شپې په هوایې حملو کي ۳۹تنه ولسي وګړي چي اکثریت یې ښځي او ماشومان وو ،شهیدان او ټپیان شول.

قهرمانو مجاهدینو د ژمي په ساړه فصل او اورښت کي هم دحق سنګرونه تاوده ساتلي او دباطل سمڅي یې تر اور لاندي نیولې دي،مجاهدینو له یو ې خوا دټولو مفتوحه سیمو دفاع کړې او له بله طرفه یې دهلمند په شان په ځینو نورو سیمو کي هم پر دښمن بریدونه جاري ساتلي،په مختلفو ولایتونو کي یې پراخي سیمي ددښمن له وجود څخه پاکي کړې او دسپین بیرغ په سیوري کي یې خلګو ته ارام ژوند برابر کړی دی

د جهـاد فقهي مسـائل

مفتي ابومحمدحقاني

(۳۶برخـــــــه)

کفارو سره دجګړې د اختتام اسباب:

اســـلام منل، جـــزیه ورکول، یا ســـوله!

دسولې دټرون دنقض اسباب !

دریم سبب :چې په قول اوفعل کې له مجاملې نه عدول وکړي ،یعنې له حسن سلوک ،نیک برخورد اوحسن معاملې نه پکې تجاوز رامینځته شي .

څلورم سبب: دمسلمانانو دامام لخوا دسولې دټرون نقض کول او هغو محاربینو ته چې سوله ورسره شوي وي، دسولې دنقض خبر ورولیږل شي ،داهغه وخت دی، چې دوخت امام دسولې دټرون نقض دسولې نه ډیر اصلح وګڼي، البته داداحنافو په نزد جایز ده او نور پکې کلام کوي .

ددریم سبب تفصیل :فقهاوو لیکلې چې دسولې دټرون له موجباتوڅخه ده، چې دسولې دواړه لورې (مسلمانان او کفار)یو له بل سره ښه سلوک وکړي ،هغه که قولاً وي که فعلاً وي ،او حسن سلوک یا مجامله دمسلمانانو په حصه کې دکفارو لپاره ډیره اغلظ ده او داحسن معاملـه دمسلمانانو لـه حقوقوڅخه ده ،نـوپر کفارو لازم دي، چې دمسلمانانودحقوقي اړخ په پام کې نیولوسره ددوئ په مورد کې له قبیحو اقوالو او افعالوڅخه ځان وساتي او پرځای یې پسندیده خبرې اونیک کردار ورسره وکړي، همداسې به مسلمانان له معاهدو کفارو سره حسن معاشره او ښه سلوک کوي اوددوئ په هکله دقبیحو اقوالواو افعالو څخه ځان وساتي ، ښې خبرې او ښه سلوک ورسره وکړي ،خوپه مسلمانانوباندې ددوئ په مورد کې دقول جمیل او فعل جمیل لزوم نشته، لکه څنګه چې ددې نه آیت کریمه نه داسې معلومیږي : { لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ/ سورة الصف / ۹ . }بیا که چیرته معاهدو کفارو له قول جمیل او فعل څخه تجاوز او عدول وکړ ،یعنې مخکې

به يې دمسلمانانوعزت او درناوی کاوه ،خو اوس يې ددوئ اهانت پيل کړ،مخکې به يې دمسلمانانوداستازو ضيافت او اکرام کاوه، خواوس يې داکار پريښود،مخکې به يې دمسلمانانودپاچايا امام دکتاب تعظيم کاوه، خواوس يې غورځاوه ،مخکې به يې په خطاب کې اضافه کوله، خو اوس يې پکې تنقيصات پيل کړل ،ددوئ داډول کړنې ددوو شکونو او اشتباهاتوڅخه ندي خالي :دا احتمال شته چې دوئ پدې کار سره غواړي، چې له مسلمانانوسره دسولې ټرون نقض کړي او هم ددې احتمال هم شته چې دنقض اراده يې نوي ،نو امام به ترې ددې مجاملې دترک پوښتنه وکړي ،که يې عذرمعقول وو،عذر به يې ومنې اودپخواپه شان به ورسره رفتاروکړي اودسولې ټرون به ورسره په خپل حال پاتي شي ، که يې عذر ونه وايه، نو بيرته به ورته دمجاملې خپلو زړو عادتونوته درجوع حکم وکړي ،نوکه چيرته يې رجوع وکړله، دسولې ټرون به ورسره په خپل ځای پاتي شي ،که نه دوئ ته له اطلاع ورکولو وروسته به ټرون ورسره نقض کړي، لکه امام الماوردي رح په حاوي کې داسې فرمايي :..... فَيَسْأَلُهُمُ الإِمَامُ عَنْهَا وَعَنِ السَّبَبِ فِيهَا ، فَإِنْ ذَكَرُوا عُذْرًا يَجُوزُ مِثْلُهُ قَبِلَهُ مِنْهُمْ وَكَانُوا عَلَى هُدْنَتِهِمْ ، وَإِنْ لَمْ يَذْكُرُوا عُذْرًا أَمَرَهُمْ بِالرُّجُوعِ إِلَى عَادَتِهِمْ مِنَ الْمُجَامَلَةِ فِي أَقْوَالِهِمْ وَأَفْعَالِهِمْ ، فَإِنْ عَادُوا أَقَامَ عَلَى هُدْنَتِهِمْ ، وَإِنْ لَمْ يَعُودُوا نَقَضَهَا بَعْدَ إِعْلامِهِمْ بِنَقْضِهَا /الحاوي للماروردي ١٨ / ٤٤٤ .).

دپيغمبرعليه السلام په شان کې ددوئ بې ادبي :

ددې خبرې په باب چې آياددوئ دا بې ادبي دسولې په ټرون اغيز کوي که نه، دفقهاوو ترمينځ اختلافي ده ،الله تعالى ،قرانکريم او حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ته يا نورو انبياوو ته په سپکو سپورو يا کنځلودجمهورو علماوو(حنابله ،مالکيان او شوافع علماء رح)په نزد له کفارو سره دسولې ټرون ماتيرې او داحنافو په نزد نه ماتيرې ،لکه دې عبارت : ((ذَهَبَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ (الْمَالِكِيَّةِ وَالشَّافِعِيَّةِ وَالْحَنَابِلَةِ) إِلَى أَنَّ مِمَّا يَنْتَقِضُ بِهِ الْعَهْدُ هُوَ سَبُّهُمُ اللَّهَ تَعَالَى أَوِ الْقُرْآنَ أَوِ الرَّسُولَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ نَبِيًّا مِنَ الأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلاَمُ مُجْمَعًا عَلَى نُبُوَّتِهِ عِنْدَنَا))(شرح الزرقاني ٣ / ١٤٧ ، وجواهر الأكليل ١ / ٢٦٩ ، وتحفة المحتاج ٩ / ٣٠٢ ، ومغني المحتاج ٤ / ٢٦٤ ، ومطالب أولي النهى ٢ / ٦٢٢.) .

او داحنافو علماوو په نزدپدې ډول خبرو سره يې دسولې عقد نه نقض کيږي ،ځکه پيغبر صلى الله عليه وسلم ته سپکې سپورې ويل له معاهدکافر کفر دی ،او کفرچې دسولې له ټرون سره مقارن وي، په ابتداءکې دسولې دټرون

لاسليک نه منعه کوي، نو کفر طارئ يې هم دبقاء په حال کې نه رفع کوي ، اوددې لپاره منصوصي سند هم شته ،لکه څنګه چې عروه روايت کوي :چې حضرت عايشه رضى الله تعالى عنها فرمايي : چې ديهودويو وفد رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى ،نودوئ وويل چې (السام عليک)نو زه پرې پوه شوم ،نوماورته وويل چې :عليکم السام واللعنة،نورسول الله صلى الله عليه وسلم مهلاً ياعايشة ! يقيناً الله تعالى په ټول کارکې رفق يا نرمي خوښوي،نوماورته وويل چې آيا تاوانه وريدل، چې دوئ څه وويل ؟نورسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ماورته وويل چې (عليک) .أخرجه البخاري (فتح الباري ١١ / ٤١ ، ٤٢ ــ) ، ومسلم (٤ / ١٧٠٦ ــ ط الحلبي) . صاحب دفتح القدير ليکي چې :اوشک نشته چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته دا ددوئ کنځلې وي ،نو کې چيرته پدې سره دسولې ټرون نقض کيدلای ،نو دوئ به يې وژلى وى ،ځکه دوئ دا وخت حربيان وو (فتح القدير ٤ / ٣٨١ ط الأميرية) .

همدا فوق الذکر مفهوم يا مطلب دامام شامي او فتح القدير په حواله الموسوعة الفقهية داسې رانقل کړي : وَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ إِلَى عَدَمِ انْتِقَاضِ عَقْدِ الْهُدْنَةِ بِسَبِّ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، لأَنَّ سَبَّ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُفْرٌ مِنَ الْكَافِرِ الْمُهَادِنِ ؛ وَالْكُفْرُ الْمُقَارِنُ لِعَقْدِ الْهُدْنَةِ لا يَمْنَعُ عَقْدَ الْهُدْنَةِ فِي الابْتِدَاءِ فَالْكُفْرُ الطَّارِئُ لا يَرْفَعُهُ فِي حَالِ الْبَقَاءِ (حاشية ابن عابدين ٣ / ٢٧٨ ، ٢٤٩ ، وفتح القدير ٤ / ٣٨١ ط الأميرية).

ردالمحتار على الدرالمختار ليکي چې : په سب النبى صلى الله عليه وسلم دسولې دمعاهدې عدم نقض پدې پورې مقيد او معلق دى ،چې دا معاهد کافر دسب النبى صلى الله عليه وسلم څرګند اعلان ونکړي ،يعنې په ډاګه دې مبارک صلى الله عليه وسلم پسې سپکې سپورې ونه وايي ،خو کې چيرته يې په ډاګه داسي جنايت وکړاو يا يې عادت وواو دهغو له دلې نه ووچې عقيده يې پرې نه لرله، نو کې ښځه هم وي ،بايد ووژل شي او همدې باندې فتوى هم ده او مفتى به خبره همدا ده، لکه چې داسې ليکي : وَقَيَّدَ الْحَنَفِيَّةُ عَدَمَ الانْتِقَاضِ بِمَا إِذَا لَمْ يُعْلِنِ الْمُهَادِنُ السَّبَّ ، أَمَّا إِذَا أَعْلَنَ بِالسَّبِّ أَوِ اعْتَادَهُ وَكَانَ مِمَّا لا يَعْتَقِدُهُ قُتِلَ وَلَوِ امْرَأَةً ، وَبِهِ يُفْتَى(ابن عابدين ٣ / ٢٧٨ ـ ٢٧٩ .)

نوربيا.....

د اسلام غزوات اوسرليا

بني قريظه غزا

ابوظهير

په خندق و احزاب غزا کې مشرکانو ته د شکست ورکولونه وروسته سهار لمانځه پسې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دصحابه وو سره يوځای مدينې منورې ته ستون شو، هم مجاهدينو او هم رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دځانو پورې ترلې وسلې خلاصې کړې ، ماسپښين مهال د لمانځه وخت ته نيږدې جبريل عليه السلام پګړۍ ترلې وه او په يو قچر سپور و راغی (زرقاني ۲ټوک ۱۲٦مخ) رسو الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مخاطب شو :تا خپله وسله خلاصه کړې؟ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: هو! جبريل امين وويلي:

ليکن فرښتو نه وسلې خلاصې کړې او نه بيرته تللې ،الله تعالی بنو قريظه په لوردروانيدو حکم کوي او زه بنوقريظه په لورروان يم او هغوی متزلزل کوم (البدايه والنهايه ۴ټوک ۱۱٦مخ، ابن هشام ۲ټوک ۱۴۵مخ)

حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي : بني قريظه او د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترمنځ (ديو بل خلاف دنه جنګيدو) لوظنامه (معاهده) وه، کله چې د قريشو لس زره کسيز لښکر راغی او په مدينه منوره يې حمله وکړه ، بنو قريظه هغه ماته کړه او درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلاف دقريشو سره يوځای شول ، په احزاب جنګ کې دقريشو د شکست وروسته بني قريظه خپلو کلا ګانو ته ننوتل جبريل امين دفرښتو يوې لويې ډلې سره يوځای راغی او رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ته يې عرض وکړ:

يار سو ل الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! بنو قريظه په لور ژر روان شئ!

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وو يل: زما ملګرې سترې دي! جبريل امين ويلي: تاسو فکر مه کړئ روان شئ زه همداوس ور زم هغوی ډاروم ، دايې وويل:او دفرښتو د ډلې سره دبني قريظه په لور روان شو، چې له امله يې بني غنم کوڅه ټولو دوړو او ګردونو ونيوه.

انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: بني غنم کوڅه کې دوړې او ګردونه دجبريل امين دسورلۍ او فرښتو په وجه پورته شول، زه اوس هم هغه منظر وينو يعنې کوم وخت چې ټوله کوڅه دوړو او ګردونو ونيوه (بخاري شريف)

دجبریل علیه السلام روانېدو وروسته رسول الله ﷺ حکم کړ:

مازیگر لمونځ دبنو قریظه پرته بل ځای مه کوئ.

لاره کې چې دمازیگر د لمانځه وخت راغی ځینوصحابه وو ویل چې بنو قریظه ته کله ورسوهلته به لمونځ کوو! اوځینو نورو ویل: مونږ دلته لمونځ کوو، ځکه درسول الله ﷺ هدف (د لمانځه قضاءکول) نه و، بلکې هدف یې تعجیل کول و، بیا چې کله رسول الله ﷺ دا جریان عرض کړای شو ، په دواړو یې ناراضایت ونه ښود (بخاري شریف) ځکه دهر لوري نیت په خیر و.

حافظ ابن قیم رحمه الله وایي: چاچې دحدیث دالفاظو په ظاهر عمل وکړ هغوی هم اجر ترلاسه کړ، اوکومو صحابه وو چې اجتهاد او استنباط وکړ هغوی ته هم اجر په برخه شو البته کومو خلکو چې دالفاظو ظاهر ته په پام کولو بنې قریظه ته درسیدو ځخه وړاندې لمونځ و نکړتردې چې دمازیگر وخت هم ووت، هغوی ته یو فضیلت په برخه شو یعنې په نبوي حکم دتعمیل اجر یې ترلاسه کړ او کوموصحابه وو چې د اجتهاد او استنباط نه په کار اخیستو دامعلومه کړه چې درسول الله ﷺ منشاء دا نه وه چې دمازیگر لمونځ دي قضاء شي بلکې هدف یې ژرروانیدل و، په دې وجه هغوی لمونځ په لاره کې اداء وکړاو په دې اړه د اجتهاد او استنباط کولو په وجه یې دوه فضیلتونه په برخه شول یو درسول الله ﷺ په حکم د عمل کولو په وجه او بل دمنځني لمانځه (صلوة وسطی) پخپل وخت اداء کولو په وجه (چې بې شمیره فضایل لري) ځنګه چې عظیم الشان قرآن وایي:

حَافِظوا عَلَى الصّلواتِ والصَّلاةِ الوُسطَى

او په حدیث کې شته چا نه چې د مازیگر لمونځ قضا شي دهغه اعمال حبط شول او داسې نور... دالفاظو په ظاهر عمل کوونکو باندې ناراضیت په دې وجه ونه ښود چې دهغوی نیت هم په خیر و، خو دهغو خلکو مرتبې ته نه رسي کومو چې داجتهاد او استنباط نه کار واخیست (فتح الباري ۷ټوک ۳۱٦مخ)

بیا رسول الله ﷺ علي رضي الله عنه نه داسلام بیرغ ورکړ او هلته واستاوه،کله چې علي رضي الله عنه بني قریظه ته ورسید، یهودو ښکاره کنځلې پیل کړې(چې دا هم یو نه ښونکی جرم دی)

لږ وروسته رسول الله ﷺ هم پخپله ورغی او بني قریظه یې کلابند کړل، کلابندې تر پنځویشت ورځو وغځیده ،دغه مهال دبنې قریظه سردار کعب بن اسد د قریظه قبیلې خلک را جمع کړل اوهغوی ته یې وویل:

زه تا سو ته درې خبرې وړاندې کوم ، تاسو پکې یوه غوره کړئ ځو دمصیبت نه نجات ومومئ :

لومړۍ خبره : په دې سړي (محمد ﷺ) ایمان راوړئ او ټول یې تابع او منونکي شئ!

فَوَ اللهِ لَقَد تَبَينَّ لَكُم اَنَّهُ لَنَبِيٌّ مُرسَلٌ وَ اَنَّهُ لَلَّذِی تَجِدُونَهُ فِی كِتَابِكُم فَتَأ مَنُونَ عَلَی دِمَائِكُم وَ اموَالِكُم وَابنَاءِ كُم ونِساءِ كُم

ژ: په خدای سوګند تاسو ته دا ښکاره او روښانه شوې چې بیشکه هغه الله جَلَّجَلَالُهُ نبی او رسول دی او په تحقیق سره هم هغه نبي دی کوم چې ستاسو په تورات کې لیکلی، که ایمان راوړئ ستاسې ځان، مال ، اولاد او ښځې ټول به خوندي شي.

بنې قریظه وویل: مونږ نه هغه منو او نه مونږ خپل دین پریږدو!

کعب هغوی ته وویل:

ښه چې نه یې منئ!

دوهمه خبره داده: خپل ماشومان او میرمنې قتل کړئ څو دهغو نه بې فکره شئ اوتورې واخلئ په پوره همت او زړورتیا دمحمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مقابله وکړئ! که ناکامه شوئ، دماشومانو او ښځو دغم اوفکر نه بې پیروا یئ! او که کامیاب شوئ نومیرمنې او ماشومان به بیا هم پیدا شي.

بنو قریظه وویل: د ماشومانو او میرمنو د وژلو وروسته به ژوند څه خوند ولري؟

کعب ویل:

ښه سمه ده دا هم مه منئ!

دریمه خبره: نن دخالې شپه ده، عجیبه نده چې محمد او ملګري یې غافل او ناخبر وي ، زمونږ لورته شاید په دې هم متوجه نه وي چې سبا ورځ یهودو ته محترمه ده، په دې وجه به هم حمله ونکړي ، راځئ دمسلمانانو ددې ناخبرئ نه په ګټه پورته کولو ناڅاپه پر هغوی خونړی برید وکړو.

بنو قریظه وویل: ایا تاته نده معلومه چې دهمدې ورځې دبې احترامۍ کولو په وجه زمونږ نیکونه شادوګان او خنزیران ګرځیدلي وو ولې ته مونږ ته ددې حکم کوي؟

غرض داچې هغوی (بنو قریظه) دکعب یوه خبره هم ونه منله

دابولبابه بن منذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نوم یو تن صحابي بنو قریظه سره حلیفانه اړیکي لرل، په دې وجه هغوی سره داهیله پیداشوه کیدای شي ابولبابه مونږ سره په دې وخت کې مرسته وکړای شي ، په دې هیله بنو قریظه له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وغوښتل چې ابو لبابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوی ته ور ولیږي، څو دوی ور سره مشوره وکړي ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابولبابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دورتلو اجازت ورکړ ، کله چې هغوی ابولبابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ولید، نو ټول راغونډ شول او ماشومان اولویان ټول ورته په ژړا شول ، په لیدو یې دابولبابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زړه هم راښک شو ، کله چې بنو قریظه له هغه دا وپوښتل:

مونږ درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم اومنو او دهغه په فیصله راضي شو ابولبابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل: هوا!غوره ده؛ خو دحلق طرف ته یې اشاره وکړه چې:

ذبحه به شئ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ستاسو دقتل اراده کړې

ابولبابه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دخپل ځای نه لا نه و پورته ، پوی شو چې ما دالله جَلَّ جَلَالُهُ او دهغه درسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره دخیانت ارتکاب وکړ ،نیغ دهغه ځای نه مسجد نبوي ته لاړ، او هلته ځان يې دیوې ستنې پورې وتاړه او سوګند يې وکړ چې څو الله جَلَّ جَلَالُهُ زما توبه قبوله نکړي ترهغې پورې به زه ددې ځای څخه نه ښورم او دالله تعالی سره يې وعده وکړه چې نوربه په بني قریظه کې قدم نه ږدي او په کوم ښار کې چې ما دالله او دهغه درسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره خیانت کړی هغه بیا هیڅکله نه ګورم، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې خبر شو ، وې فرمایل:

که نیغ ماته راغلی و، ما به ورته استغفار کړی و، خودا چې هم داسې تیر شوی زه يې پخپل لاس نه خلاصوم څو چې الله جَلَّ جَلَالُهُ توبه نازله نکړي (ابن هشام، ۲ټوک، ۱۴۶مخ،البدایه والنهایه ۴ټوک ۱۱۵مخ)

اخر بنو قریظه مجبور او دیته اماده شول چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته هر حکم کوي هغه منو، څنګه چې خزرج دبنو نضیر سره حلیفان وو، هم داسې اوس قیبه له بنو قریظه حلیف وه،په دې اوس قبیلې له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وغوښتل چې دخزرج په غوښتنه چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دبنو نضیر سره کومه معامله کړې هغسې معامله دي د بنو قریظه سره وکړي، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ور ته وویل:

ایا تاسو په دې راضي یئ چې ستاسو فیصله هم ستاسې یوسړی وکړي

هغوی ویل: یارسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سعدبن معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې هره فیصله وکړه هغه مونږ منو

سعد بن معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په خندق جنګ کې ټپي شوی و، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درملنې لپاره يې په مسجد کې خیمه لګولې وه څو له نیږدې څخه يې درملنه اوپوښتنه کوي ، په هغه پسې يې سړی واستاوه ، په خره سپور راغی، کله چې نیږدي راغی رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

قُومُوا اِلی سیدِکم

ژ: خپل سردار ته پورته شئ

سعد يې ښکته کړ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وفرمایل:

دې خلکو خپله فیصله تاته سپارلې

سعد وویل:

زه ددوی په اړه دافیصله کوم چې ددوی نه هغه کسان چې جنګیدونکي دي، هغوی دي قتل شي ، میرمني، ماشومان دي اسیران او غلامان او وینځې دي وګرځول شي او د دوی ټول مال او اسباب دي په مسلمانانو وویشل شي.

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: بیشکه تا دالله دحکم سره برابر فیصله وکړه.

بیا حضرت سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا دعاء وکړه:

یـا الله تاتـه معلومـه ده چـې ماتـه ددې نـه زیـات محبوب بل شـی نشـته چـې دهغه قـوم سره جهـاد وکـړم کوم قـوم چـې سـتا رسـول ﷺ تـه ددورغجـن نسبت کړی او هغه یې له حرم څخه ویستلی اي الله! گومـان کوم چې تا زمونږ او د هغوی ترمنځ جنگ پای ته ورسـاوه، بیا هم که دقریشو سره زمونږ جنگ پاته وې نـو ماتـه نـور ژوند هم راکړه څو ستا پـه لار کې جهـاد وکـړم، او کـه تـا جنـگ پـای تـه رسـولی وې بیا همدا زخم زمـا دشـهادت زریعه وگرځوي

څنگه چې دعاء یې ختم کړه وزخم یې روان شـو او په هغه ځای وفات شو اِنَّـا لله واِنا الیه راجعون

حضرت جـابر رضی الله عنه فرمایي: ما اوریدل چې رسول الله ﷺ فرمایل:

دسعد بن معاذ رضی الله عنه پـه مړینـه عـرش ولړزیـده (بخاري)

په یوبل روایت کې دي چې داسمان تـولې دروازې خلاصـې شـوې او داسمان فرښتې یې دروح په پورته وړو سره خوشالې شـوې (رواه الحـاکم، فتح الباري ، مناقب سعد بن معاذ)

او اویازده فرښتو یې په جنازه کې گډون وکـړ کـومې فرښـتې چـې ددینه وړاندې له اسمان څخه نه وې نازلې شوې (ذکره ابن عائذ ورواه البزاز واسناده جید، البدایه والنهایة ۴ټوک ۱۲۸مخ)

دیته په کتو یو انصاري په باره کې داشعر ووایه:

وَمَا اهتَزَ عَرشُ اللهِ مِن مَوتِ هَالِک

سَمِعنَا بِهِ اِلّا لِسَعدٍ اَبِی عمرو

(استیعاب لابن عبد البرؤ ۲ټوک ۳۲مخ، ترجمة سعدبن معاذ)

ژ: مونږ سیوا دسعد بن معاذ رضی الله عنه د بل مـړی پـه بـاره کـې نـدي اوریدلي چې دهغه په مرگ دخدای تعالی عرش لړزیدلی.

او بل دقبر څخه یـې خوشـبویې پورتـه شـوه(روض الانـف ۲ټـوک ۱۹۳مخ)

دهغه دفیصلې سره سم بني قریظه ونیـول شـول مـدینې منـورې تـه راوستل شول دانصارو دیوې میرمنې په کور کې بندیان شول او په بازار کې خندقونه وکندل شول، دوه درې تنه دهغه کورنه ویستل کېـدل او پـه هغـو خندقونو کې وژل کیدل حیي بن اخطب، او دبنی قریظه وو سردار کعـب بـن اسد هم ووژل شو.

حیي بن اخطب(دچا په وینا چې دبنو قریظـه سردار کعـب بـن اسـد درسول الله ﷺ سره کړی عهـد مـات کـړ) چـې کلـه درسـول الله ﷺ په وړاندې راوستل شوهغه درسـول الله ﷺ لورتـه وکتل وې ویل:

والله! خپل ځان تاسره په دښمنۍ کولو ملامت نه بولم لـیکن حـق داده چې خدای چا مرسته ونکړي ،هیڅوک دهغه سره مرستهنشي کولی

بیا یې خلکو په لور اوکتل وې ویلې:

خلکو! باک نده هغه سزا او مصیبت چې الله تعالی دبني اسرایلو لپاره لیکلې وه، هغه پوره شو.

حیي کیناست او په څټ ووهل شو. په میرمنو کې دیوې پرته بله هیڅ میرمن قتل نکړای شوه، دهغې جرم داوه چې دبام څخه دمیچنې پل په غورځولو سره یې خلادبن سوید رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شهید کړی و، ابن هشام وایي: دهغې میرمنې نوم بنانه و، او دحکم قرظي میرمن وه (عیون الاثر ۲ټوک ۷۸م)په ترمذی ، نسائي، او ابن حبان کې له حضرت جابر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت دی چې دهغوی شمیر څلور سوه وو، او دبنې قریظه قیدیان نجد او شام ته دفلورلو لپاره ولیږل شول او په بدل کې ترلاسه شویو پیسو باندې اسونه او وسلې وپیرل شوې اوکوم مالونه، څېزونه چې غنیمت شول هغه ټول په مسلمانانو وویشل شول (زرقاني ۲ټوک ۱۳۷م)

الله تعالی دبني قریظه واقعې په باره کې دا ایت نازل کړی:

وَاَنزَلَ الَّذِین ظَاهَرُو هُم مِن اَهلِ الکِتَابِ مِن صَیَاصِیهِم وَقَذَفَ فِی قُلُوبِهِم الرُّعبَ فَرِیقاً تَقتُلُونَ وَ تَأسِرُون فَرِیقاً وَ اَورَثَکُم اَرضَهُم وَ دِیَارَهُم وَ اَموَالَهُم وَ اَرضاً لَّم تَطَؤُ هَا وَ کَانَ اللهُ عَلی کُلِ شیءٍ قَدِیر(الاحزاب ۲۶ایت)

ژ: اوکومو اهل کتابو چې دهغوی سره کومک کړی و، الله تعالی هغوی دخپلو کلاګانو څخه لاندې وغورځول او دهغوی په زړونو کې یې ستاسې رعب واچاوه، یو ډله دهغو ی نه تاسو ووژل او یوه ډله مو بندیان کړل او الله تعالی تاسې وارثان کړئ دهغوی دزمکو ، دهغوی دکورونو، دهغوی دمالونو او دهغې زمکې په کومه چې تراوسه تاسو قدم ندی ایښی الله تعالی په هرڅه قادردی.

ځېرنه:

دبني قریظه په اړه دحضرت سعد بن معاذ فیصله عین دتورات سره برابره وه، په کوم چې د هغوی ایمان و، دتورات ، سفر استثناء شلم باب لسم ایت کې دي:

کله چې تاسې کوم ښارته دجګړې لپاره ولاړشئ نو لومړی دسولې پیغام ورکړئ : هغوی که صلحه اومني او تا لپاره دروازې خلاصې کړې نوټول خلک چې په هغه ښار کې میشت دي ستا خراج ګذاربه وي او ستا خدمت به کوي او که هغوی صلحه ونکړه او تاسره جنګ وکړي ته هغوی کلابند کړه او هرکله چې خداوند قدوس ستا خدای هغوی په قبضه درکړي نو بیا هلته هرسړی په توره ووژنئ خو میرمنې ، ماشومان، (یعنې ټول دڅان غلامان او وینزې کړئ) څاروي او نور مالونه ټول ځان ته واخلئ او دخپلو دښمنانو مالونه اخستل ستا خدای تاته درکړي خوریي (لکه قرآن پاک کې دي: فَکُلُوا مِّمَا غَنِمتُم حَلَالً طَیِباً)

ابولبابه I هغسي مسجد کې په ستنې پورې ځان ترلی و، یوائي لمانځه، او قضاء حاجت لپاره به یې خلاصاوه، نه یې څه خوړل او نه یې څه به څکل هم دایې ویل:

به هم داسې یم ترڅو یا مړ شم او یا الله تعالی زما توبه قبوله کړي.

شـــپږورځې وروســـته سهارمهال دهغـه دعـا قبولـه شوه ، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دحضرت اُمِ سلمة کور کې و، حضرت اُمِ سـلمة درسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پـه اجـازه پـه هغه زيـرى وکړ او مبـارکې يې ورکړه ، مسلمانانو ورغلل څـو خـلاص يـې کـړي خـو ابولبابه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل :

ما قسـم خـورلى څـو رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مـې پخپلو مبـارکو لاسـو خـلاص نکړي ترهغه ځان نه خلاصوم

کلـه چـې رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سهار لمانځه ته راغى پخپلو مبارکو لاسو يـې ابولبابه خلاص کړ.

ځېرنه:

ابولبابه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ باندې دنـدامت کيفيـت ختلـى و، او ځان يې پـه مسـجد کـې پـه ستنې پورې تړلى و، او سوګند يې کړى و چې:

څو زما توبه قبوله نشې او رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما پخپلـو مبارکولاسـو خـلاص نکړي ترهغه وخت پورې به ددې ستنې پورې تړلى يم

دعلماوو اوسيرت ليکونکو په وينا: دايو خاص حالت وي چې کله، کلـه يې الله تعالى دخپلو غوره بنده ګانو او مخلصـينو پـه زړونـو کـې اچـوي ، همدېته په اصطلاح کې[حال] ويل کېږي. کوم چې الله تعالى او دهغه رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښ کړى دابولبابه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په باره کې دا ايت نازل شو:

يَآ اَ يُّهَاالَّذين اَ منوا لَا تَخُونوا الله و الرَّ سُولَ وَ تَخُونُوا اَمَانَـاتِكُم وَ اَنـتُم تَعلَمُونَ(الانفال ۱۵۲ ايت)

او توبې په باره کې يط دا ايت نازل شو:

وَاٰخَرُونَ اعترَفوا بِذُنُوبِهِم خَلطُوا عَمَلاً صَـالِحاً وَّ اَخرسَـيِأً عَسَـى اللهُ اَن يَتُوبَ عَلَيهِم اِنَّ اللهَ غَفُورُ رَحِيم

په يوروايت ابولبابه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ شل ورځې په مسجد کې تړلـى و، کلـه چې دتوبې ايت نازل شو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله مسجد تـه لاړ او پـه هغه يې زيرى وکړ او بيا يې پخپلو مبارکو لاسونو هغه خلاص کړ.

ثقه سيرت ليکونکى او نومیالى شيخ الحـديث مولانـا محمـد ادريـس کاندهلوي رَحِمَهُ اللَّهُ ليکي:

معلومه شوه چې دمحبت په جوش کې ددغـه ډول حـالاتو او کيفيـاتو ښکاره کېدل عندالله او عند الرسول مستحسن او غوره دي چې تري انکار پـه هيڅ وجه مناسب ندى او هم ددغه ډول حالاتو او کيفياتو ښکاره کيدل عقـلاً دعشق او محبت دلوازموڅخه دي ، کوم خلک چې دصوفياوو دحال او وجـد څخه منکردي ، په هغوى ګمان داسې دى چې زړونه دمحبت له جوشه خالي دي کله چې انسان په جوش کې رازي هغه په هوش کـې نـه وي، تـر ديـګ لاندې چې کلـه اور زيـات شي ، زوښ راوړل دهغـه سره لازم دي پـه هـر صورت دوجد او حال نه انکار محال او ناممکن دى

سيرة المصطفى دوهمه برخه ۶۴۹مخ)

ليکنه : مصطفي احمدي

د هلمند د جهادي افق ځلانده ستوری،

شهید حافظ عبد المتین (فهیم)

هلمند د حماسو خاوره د باتورانو تاتوبی ، د جهاد نه تسخیریدونکی مورچل دی ، ددي خاوري هره لویشت د کفارو په وینه سره ده ، هلمندي زلمیو په روان جهاد کي د اتلولیو او قربانیو بي مثال تاریخ تر شا پریښود ، د صلیبي داړه مارانو په خلاف ددي جهاد پالي خاوري له هري بیدیاء ، هري ناوي هر کلي څخه اتلان را پورته شول د جهاد بیرغ یي اوچت کړ ، په ټینګ عزم ، قوي ایماني هوډ یي د یرغلګرو کفارو مقابله پیل کړه ،صلیبي زبر ځواکونه یي له شرمونکي ماتي سره مخ کړل او هلمند یي ددوی لپاره په جهنم بدل کړ ، دغو ګمنامو اتلانوپه خپلو وینو د امت راتلونکو نسلونو ته زرین تاریخ تر شاه پریښود .

د هلمند ددغو اتلانو له جملي څخه یو هم حافظ عبدالمتین (فهیم) تقبله الله دی په لاندي توګه یي لنډه پیژندنه او جهادي کارنامي له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوو .

پیدایښت ، د ژوند ابتدایي مراحل او زده کړه یي :

شهید حافظ عبدالمتین (فهیم)د حاجي عبدالخالق زوی د هلمند ولایت د سنګین ولسوالي د خانانو د کلي اوسیدونکي وو ، نوموړي په ۱۳۷۴ کال کال په یوه دینداره او او جهادپاله کورنۍ کي دنیا ته سترګي وغړولي .

ابتدایي دیني علوم یي په خپله سیمه کي له شریف مولوي صاحب څخه ولوستل ، په ۱۳

کلني کي الله تعالی د قران کريم د حفظ لـه سـتر سعادت څخه هم برخمن کړ ،د شـهادت تـر وختـه پوري يي د خپلـو دينـي زده کـړو سلسـله روانـه وساتله .

نوموړي د متفجره موادو ، د شپي د دوربين او ليزر لرونکـو وسـلو ښـه مسـلکي هـم وو ، د اسلامي امارت د خالد بن وليـد رضي الله تعـالی عنه په جهادي معسکر کي يـي دوه ځلـه نظـامي زده کړي کړي وي .

د صليبي يرغل په وړاندي د جهاد پيل يي :

کله چي په افغانستان امريکا او متحـدينو يـي وحشـيانه يرغـل وکـړ هغـه مهـال حـافظ عبـدالمتين د عمـر لـه لحاظـه خـورا کشـر وو ، د يرغل په لومړنيو کلونـو کـي يـي درسـونه ويـل وروسته يي په جهادي فعاليتونو کي فعاله برخـه اخستل پيل کړل ،د جهاد لومړنی قايد او مشر يي د سنګين ولسوالي وتلی جهادي قومندان شريـف مولـوي صـاحب وو ، شريـف مولـوي صـاحب د حـافظ عبـدالمتين د دينـي علومـو اسـتاد او روزونکي هم وو .

- جهادي کارنامي او خدمتونه :

حافظ عبدالمتين فهـيم تـه الله تعـالی خـورا لـوړ اسـتعداد او اخـلاص ور نصـيب کـړی وو ، نوموړي د خپل جهادي ژوند په لومړنيـو مراحلـو کـي لـه شريـف مولـوي صـاحب سره يـو ځـای د مجاهدينو لپاره د بـاروتو او انفجـاري توکـو پـه تيارولو او جهادي محاذونو تـه پـه رسـولو پيـل وکړ .

څه موده وروسته له خپل مجاهد مشر سره يو ځای د فدايي مجاهدينو رهـبري پيـل کړلـه ، د فدايي مجاهدينو رهبري او هدف ته رسول خـورا مهم او خطرناک کار دی ، د الله تعالی پـه فضـل سره د حافظ عبدالمتين (فهيم) په رهبري کي ټول فدايي عمليات په موفقانه ډول سرته ورسـيدل د بيلګي په توګه :

۱- د ګريشـک ولسـوالي د حيـدراباد پـه سيمه کي د نظم عامه پوليسو په کاروان فـدايي عمليات چي پکي د يوه تن مهم قومندان په ګـډو ن تر ۲۰ زيات اجير عسکر ووژل شول .

۲- پـه نـادعلي کـي د اجيـري اردو او امريکايانو په مشترکه قرارګاه برید، په دي برید کي د قرارګاه ډيره حصه تخريـب او د ګـډ دښـمن لسګونه عسکر ووژل شول .

۳- نـوزاد کـي د اجيـري اردو پـه قرارگـاه عمليات د موټر بم استشهادي برید چې پایله کې يې د قرارگاه دفاعي پوسته بشپړ تخریب او پکې میشت ګڼ شمیر اجیر عسکر ووژل شول .

۴- سنګین ولسوالي کي د کابل دګوډاګی اداري له لوري په اصطلاح د ذوالفقار د عملیـاتو په مهال د اجیري اردو په کاروان ځپونکی برید ، پـه دي بریـد کـي د اجیـري اردو لسـګونه عسـکر ووژل او ګڼ شـمیر نظامي وسـائط يـي له منځه ولاړل.



د پورتـه يـادو شویو عملیاتو صـحني د الاماره جهادي استوډیو له لـوري د عمـري لښـکر (۲) او هلمنـد پـه نـوم مسـتقل اصداراتو کي هم نشر شوي.

همدا رنګه حافظ عبدالمتین فهـیم د شـپې د دوربین تکړه مسلکي هم وو د سنګین ، کجکـي ، مارجي او ګریشک په جهادي عملیاتو کي يـي خورا اغیزمن رول ولوباوه .

په کجکي کي د عملیـاتو پـه مهـال حـافظ عبدالمتین برسیرن تپي هم شو .

شهادت :

حـافظ عبـدالمتین فهـیم د بـل هـر رښـتیني مجاهد په څیر دالله تعالی په لاره کـي د شـهادت خورا ارمانجن وو ، د ملګرو په مجلسونو کي بـه يـي د شـهادت یادونـه پـه خـورا حسرت او ارمـان سره کوله ، ما چـي لـه نیـږدي خـبري ورسره کولي یـا بـه مـي کلـه تلیفـوني اړیکـه ورسره نیوله نوموړي به له ډیرو خبرو سره دغه یادونه کوله چي که چیري الله تعالی زما ارمان پوره کړ او شهید شوم نو بیا دعاوي را پسي کوي .

د الله تعـالي د لاري دا تنکـی او نـه سـترې کیـدونکي مجاهـد پـه ۱۴۳۷ کـال کـي د روژي مبارکي څخه پنځه ورځي وړاندي د هلمند ولایت په ګریشک ولسوالي کي د اجیري اردو په ستره قرارګاه د برید په مهال په نس کي ژور تپي شـو،

دري ورځي وروسته د جهاد سنګر قهرمان مجاهد ، د فدايانو رهبر، د هلمند د جهادي اُقق ځلانده ستوری او اتل ځوان حافظ عبدالمتين له دي فاني نړۍ څخه د ابدي ژوند په لور رخصت شو او د شهادت جام يي په سر واړاوو . انا لله و انا اليه راجعون.

حافظ عبدالتمين ددوی د کورنی يوازينی شهيد نه وو بلکي ترده وړاندي يي يو بل مشر- ورور شهيد حافظ محمد نسيم چي د سنګين ولسوالي له تکړه او مشرانو مجاهدينو څخه شميرل کيده په ۲۰۱۲ کال کي د امريکايي يرغلګرو سره د نښتي په مهال د طيارو په بمبار کي کي شهيد شو .

- اولادونه يي :

شهيد حافظ عبدالمتين تقبله الله دوه اولادونه تر شاه پريښي دي يو يې زوی او يوه لور ده ، لور يې د ده تر شهادت دوه مياشتې وروسته زېږېدلې ده .

د حافظ عبدالمتين بيلګه ايز شخصيت :

شهيد حافظ عبدالمتين له کوچنيوالي څخه الله تعالی په نيکو اخلاقو ، ديانت ،تقوا او ښايسته ځوانی نازولی وو ، نومورې له هر لحاظه د يوه بيلګيز شخصيت څښتن وو ، په کم عمر کي الله تعالی له ډير غوره صفتونو څخه برخمن کړی وو ، د ملګرو خبرو ته به يي په ښه توګه غوږ نيوو ، الله تعالی د ژبي ښه فصاحت ور کړی وو کومه خبره يا موضوع چي به مخته راغله په ډيره ښه توګه به يي تشريح کړه ،کوم چا چي به يو ځل ورسره وليدلو ډير به ځني اغيزمن شوي وو .

نومورې خپلو ملګرو ته ځان دومره نيږدي کړی وو چي ټولو به داسي فکر کاوو چي صميمي ورور او د کورنۍ غړی يي دی ، د هر ملګري اړتيا او مشکل به يي په ډير ښه توګه تشيخصاوو او په حل کولو کي به يي کوښښ ورسره کاوو ، د يوه پوه او مخلص جهادي قايد په څير به يي له ملګرو سره چلند کاوو د هر ملګري پوښتنه به جلا جلا کوله ، که به يي کوم ملګري ټپي شو تر ټولو اول به يي خدمت ته ځان ور رساوو ، د زخميانو په انتقال او خپلو ملګرو ته به اکمال رسولو کي به يي ډيره هڅه کوله ، د زخميانو د خدمت په مهال يو ځل د لنډي مودي لپاره بندي هم شو .

د ملا عبدالسلام په اړه

د ذبیح الله مجاهد څو یادښتونه

ملا عبدالسلام د طالبانو له لوړي د کندز لپاره والي او فاتح نومول شوی وو او د طالبانو پر لاس د کندز دوه ځله سقوط هم د هغه تر قوماندې لاندې تر سره شوی.

نومورې د تیري یک شنبې په ورځ)کب ۸، ۱۳۹۵ل) وړاندې د امریکایي الوتکو په بمبار کې ووژل شو، طالبانو د هغه وژنه ومنل او وې ویل «ملا عبدالسلام اخند شهادت خپل تر ټولو لوی ارمان باله او په رحلت سره به یې نه تنها د طالبانو صف کمزوری نه شي بلکې سلګونه ځوانان به د قربانۍ دغه میدان ته راودانګي.»

د ذبیح الله مجاهد لیکنه:

د شهید ملا عبدالسلام بریالي څو یادښتونه / ذبیح الله مجاهد

شهید ملا عبدالسلام د افغانانو په تاریخ کې بیا نه تکراریږي، هغه د ابد لپاره لاړ، خو د خپل ژوند د میړانې، اخلاقو، دلسوزۍ، مینې او عاطفې یو لوی درس یې په میراث پریښود.

شهادت لوی فوض او وروستۍ بریا ده، داسې بریا چې بیا برګشت اوناکامۍ نه مني.

زمورږ ټول مشران که هغه شهیدان شوي دي او که ژوندي دي، الحمدلله د ویاړ ځخه ډکې کارنامې، ښه او سپیڅلي صفات، غیرت، ننګ او میړانه لري، خو ځینې په خاصو ځانګړنو نازول شوي وي.

تر مازدیګره:

شهید ملا عبدالسلام په خپل مسلمان ولس ډیر زړه سوی درلود.

یوه ورځ د کندز ولایت د مرکز اړوند کنم سیمې څخه یوه کلیوال راته شکایت وکړ چې زمورږ مسجد د کلي په مینځ کې دی، هره ورځ تر ۶۰ پورې ماشومان سبقونه په کې وایي، خو دا څو ورځې کیږي د مجاهدینو یو ګروپ راغلی زمورږ په مسجد کې بې اړولي، ماشومان مو له سبق څخه ووتل، او مسجد کورونو ته ډیر لنډ واټن لري، تورسرې مو د اوبو راوړلو

لپاره له کوره نشي وتلی، کـه تاسـو مـو غـړ تـر یوه مشره پورې ورسوئ.

مـا د کلیوالـو دغـه فریـاد لـه حـاجي ملاعبدالسلام اخند سره شریک کړ، ځـواب یـې راغـی چـې ترمـازدیګره بـه داکسـان بیـا هلتـه ځوک ونه ګوري.

سبا چې مې بیا په هغه کلې کې له خلکـو سره خبره وکړه، وایي مجاهدین مو لـه مسـجد څخه بار شول.

په وچ زور امامت:

کارپوهان کندز وړوکی افغانسـتان بـولي، ځکه دا یواځنی هغه ولایت دې چې د هیـواد د خـورو ورو ټولـو قومونـو او توکمونـو یـوه یـوه ټولکه په کې شته.

د دې وړکـي افغانسـتان لپـاره د اسـلامي امارت مسئول هـم همداسـې پـه فکـري لحـاظ افغانسـتان شـموله انسـان و، هغـه د قـوم او تـوکم پـه نامـه ځـوک نـه پیژنـدل، هغـه تـه مخلص او نیک انسان مهم و، هغسـې چـې الله تعـالی د برتریـو معیـار یـواځې تقـوا پـه ګوتـه کړې.

د علي اباد ولسوالۍ له یوکلي څخه یو آغا صاحب راته تلیفون وکړ چې موده کیږي زمـوږ دکلي د مسـجد ملاامـام لـه اکثریـت کـلي سره په مخالفت کې راغلی، لـه نیمایـي څخـه زیـات کلی لمونځ نه پسې کوي، په کراتو یې امام تـه ځواب ورکړی، خو هغه چون پښتون ده، د کـلي خلک چې اکثره له نورو قومونو سره تړاوو لري، د مجاهـدینو پـه نامـه ډاروي اوپـه وچ زور امامت ته دوام ورکوي.

عاجلـه مـې لـه ملاعبدالسـلام اخنـد سره موضوع شریکه کړه، هغه اطمنان راکـړ چـې زه به یې پوره پلټنه وکړم .

دوهمـه ورځ مـې معلومـات وکـړل وایـي ملاصاحب د طالبانو والـی صـاحب ورغوښـتی و، ترمابنامه یې له مسجد څخه کډه کړ.

کندز لومړی نمبر:

د ۲۰۰۹م کـال د کابـل اداري د انتخابـاتو ورځ وه، په ټول هیواد کې په دښمن کابو ۷۰۰ بریدونه ترسره شول، په دغو بریدونو کې تـر ۹۰ پورې یې تنها په کندز کـې تـرسره شـوي و، موږ چې بیګا د بریدونو راپور ترتیـب او خپـور کړ پـه کـې راغـلي و کنـدز د انتخابـاتو پـه ورځ لومړی او ننګرهار په دوهم نمبر بریالی شول.

کلـه چـې حـاجي ملاعبدالسـلام اخنـد د کندز مخکښ کیدو راپور لیدلی و، تماس یـې وکړ چې داسې به ولي ویل شوي وي؟ په نـورو ولایتونو کې هم مجاهدینو ښه کارونـه وکـړل، ستړي شول او قربانۍ یـې ورکـړې، داسـې نـه چې څوک مایوسه یا خپه شي، ما اطمنـان ورکـړ چـې نـه داکـار پـه خیراتـو کـې د سـبقت او تشویق لپاره شوی، مجاهـدین مـو دخپـل حـق مطـابق سـتایلي ان شـاءالله پـه چـا بـه نـه درنیږي، خو له میزاج څخه مې یې معلومه کـړه

چې دې کار دخپل عاجزانه او متواضع عادت له مخې خوند نه وو ورکړي.

شیخ صاحب به څه وایي؟

حاجي ملا عبدالسلام اخند په کندز کې له یوې پیښې سره مخ شو، مجاهدینو بې له دې چې حاجي ملا عبدالسلام اخند په جریان کې واچوي، یوکار یې ترسره کړ، هغه کار شرعا جایز و، خو د مشرتابه لخوا یې لا اجازه نه وه شوې.

حاجي ملا عبدالسلام اخند په ډیره وارخطایي سره موضوع راسره شریکه کړه، او دمشورې غوښتنه یې وکړه ؟

راته وایي په دې کارسره دومره خپه شوی یم چې په ټول امارت کې دادول له خپګان څخه ډکه ورځ نه ده راباندې راغلې، له ډیره غمه مې زړه خراب خراب کیږي، که شیخ صاحب یا خلیفه صاحب خبر شي څه به واي؟ بس دعاوې یې کولې چې الله تعالی خو دې معافي راته وکړي، ښکاره بې اطاعتي شوې ده.

ماورته وویل چې ان شاءالله مشکل به نه وي، داپیښه لکه څرنګه چې واقع شوې، هغسې له امیرالمؤمنین یا له خلیفه صاحب سره شریکه کړه ان شاءالله تا او ټولو مجاهدینوته به د بې اطاعتي د خطا معافي وکړي.

البته هغه داسې یوه حادثه وه چې پخپله ملاعبدالسلام اخند هیڅ رول نه په کې درلود؛ بلکې بې اختیاره او دده په ناخبرۍ کې پیښه شوې وه.

لنډه داچې الحاج ملا عبدالسلام اخند د تقوا، اخلاص، شجاعت او ښه اطاعت سمبول و.

شهادت یې افتخار او د ده لوی آرمان اوهیله وه، دی بریالی و او بریالی لاړ، انسان په دنیا کې د ازمویښت لپاره پیدا شوی او د ژوند کولو فرصت ورکړل شوی، کله که څوک د خپل ژوند په هره مرحله کې هغه آزمویښت په بریالیتوب ترسره کړي، بس نور یې الله تعالی ځانته غواړي اضافه یې ستړیا او ستومانۍ ته نه پریږدي، زما په ګمان ملا عبدالسلام اخند هم الله تعالی ته دخپل ستړي امتحان پارچه ډکه کړه، هغه بریالی وخوت، الله تعالی هغه نور د دنیا په غمکشیو ونه لوریږد، نو یې دخپلو نعمتونو خواته وغوښت، په ویاړ سره یې د شهادت پګړۍ ور په سر کړه او نور یې له فانۍ او ستومانه دنیاګۍ څخه د فردوس اعلی لورته پورته کړ . نحسبه کذالک والله حسیبه

الله تعالی دې زمور پاتې مشران راته تر ډیره ژوندي لري، امارت ته یې نعم البدل ورکړي، الله تعالی مودي لکه د ملاعبدالسلام اخند غوندې اخلاص، میړانه، زړورتوب ، له الله تعالی او د هغه له دین سره ریښتوني مینه را په نصیب کړي.امین یاربَ العلمین

(نن ټکی آسیانه په مننه)

سوم حوت

حماسه‌ی جاودان!

نویسنده: انعام الله رحمانی

افغانستان بر لبه‌ی پرت‌گاه قرار گرفته... چهره‌ی کابل دگرگون گشته... سپاه شکست‌ناپذیرِ شوروی از راهِ زمین و هوا بالای آزادگانِ ذلت‌ناپذیر آذر می‌افروزد و آتش می‌بارد... آه! دهکده‌ای که سال‌هایِ سال، خورشید آزادی در آن می‌تابید و مرغان خوش‌آهنگ از قله‌ی درختانِ سایه‌دار نغمه‌های شادی سر می‌دادند امروز به ماتمکده‌ی دل‌آزار و غصّه‌افزایی مبدَّل گشته است...

خنده‌های خورشید بر لبانش خشکیده... ستاره‌های آسمانِ بختِ این ملَّت از چشمک‌زدن بازاِستادند... مرغانِ خوش‌نوای درختانِ سایه‌دار به رگبار بسته شدند و دگر آوازی از آن‌ها به گوش نمی‌رسد... تمام فصل‌های سال یک‌رنگ‌اند و چهره‌ی واحدی دارند...

آری؛ همه سرخ‌رنگ‌اند و گلگون‌قباء... مردم همه در میانِ کوره‌داغ‌های وحشت‌زا و اضطراب‌آفرینِ استبداد و استعمار زندگی به‌سر می‌برند... فصلِ بهار با همه خوبی‌ها و نشاط‌آفرینی‌هایش دیار مارا پدرود گفته... همه‌جا سرخ‌رنگ می‌نماید و حتّی لاله‌های دشت و دمن و کوهسار پای‌گاه‌اش را به شهداء سپرده است تا همه‌جا را با رنگ سرخ مزیَّن سازند... شعرای دردآشنایِ میهن با سروده‌های دردمندانه‌ای‌شان بهار را به عقب‌نشینی فرا می‌خوانند و می‌گویند:

گویید به نوروز که امسال نیاید
در کشورِ خونین‌کفنان ره نگشاید
بلبل به چمن نغمه‌ی شادی نسراید
ماتم‌زدگان را لبِ پرخنده نشاید
خون می‌دمد از خاک شهیدانِ وطن وای
ای وای وطن، وای وطن، وای!

غـرش هواپیماهـا و تانک‌هـای شـوروی و صـدای راکـت‌هـایِ قـاره‌پیمایِ آن، خـواب را بـر دیگران حرام ساخته‌بود... پرچمِ داس و چکش بـر پشـتِ دروازه‌هـا جلـبِ توجـه می‌کـرد... جـلّادانِ بی‌رحم و استقبال‌گرانِ اسـتعمار منادیـانِ آزادی را روانه‌ی سیه‌چال‌ها کرده بودنـد و عـدّه‌ای را بـه بـه رگبار سیاه بستند.

در چنـان روزگـارِ عجیـب، مردمـان بـه سـه دسـته تقسـیم شـده‌بودند. دسـته‌ی اول؛ ناعاقبت‌اندیشـانی بودنـد کـه نـه‌تنها در برابـر آواز ظلـم مهـر سـکوت بـر لـب نهادنـد؛ بـل در برابـر پیکارگرانِ ظلم‌ستیز و زنجیرشکنانِ بادیانت سـنگر گزیدند... جبهه گرفتند و سر بریدند.

دسته‌ی دوم؛ مردمانی بودند که به مغاره‌هـا و گوشه‌های دور پناه بردند و در برابر غریو اسـتعمار به سکوتِ وحشت‌ناک توسُّل جستند. اما دسـته‌ی سوم؛ طلسم‌شـکنانی بودنـد کـه سـکوت در برابـر طغیان‌گری‌ها، آتش‌افروزی‌هـا و زنجیرافگنی‌هـا را داغِ ننگینی می‌دانستند بر جبینِ انسـانیَّت... این‌هـا با زبانِ حال می‌گفتند:

تو شاهینی، قفس بشکن، به پرواز آ و مستی کن
که بر آزاده‌گـان داغِ اسـارت سـخت ننگـین اسـت

الله اکبر!

این‌ها، هم خود می‌رزمیدند و هـم دیگـران را به میدانِ مبارَزه فرا می‌خواندنـد. علـماء راسـتین و روشـن‌فکرانِ متـدیِّن در پیشـاپیشِ ایـن رسـتاخیز بـزرگ قـرار داشـتند... رسـتاخیز بـزرگ و نجـات‌بخش... انقـلابِ اصـلاح‌طلبانه و استبدادستیزانه. اکثریّـتِ قیام‌کننـده‌گان را جوانـان تشکیل می‌دادنـد... نـه هـر جـوان؛ دانشـجویان و دانشـگاهیانِ مسـلمان و اسـارت‌ناپذیر ...دختـرانِ مسلمانی چون "ناهید"... جوانانِ مسلمانی چون: حبیـب‌الرحمن ... و هـزاران‌تنِ دیگـر.

***

الله اکبر!

امشب اما شبی‌ست متفـاوت‌تر از شـب‌هایِ دگـر... حماسـی‌تر، نشـاط‌آفرین‌تر و مانـدگارتر. امشب را باید شناخت... امشب را با حمَّاسـه‌های ماندگارش.

روزهـا و هفتـه‌ها و ماه‌هـا... خاموشـی و سـکوت... نـه نـه؛ هرگـز... سـکوت را بایـد شکست... قصرهای آسمان‌خراشِ خاموشی را بـه پـایین بایـد کشـید... طلسـم اسـتکبار را در هم‌کوبیدن و قفل‌های تزویر را شکستن باید. آخِر سکوت بس است... سکوت ذلـت‌آفرین اسـت... سـکوت ریسـمانِ اسـتعمار را درازتـر و تعمیـر

استبداد را بُلندتر می‌سازد...
سکوت را باید شکست!

الله اکبر!

شهرِ کابل فضای دیگری دارد... ستاره‌های آسمان... مهتاب... زمین و زمان همه نظاره‌گرانِ امشبِ کابل‌اند... همه با خبرند که امشب واقعه‌ی بزرگی در راه است... همه چشم‌به‌راهِ روی‌داد بزرگِ امشب‌اند. ستاره‌گانِ آسمان با هم زمزمه می‌کردند و می‌گفتند: در نیمه‌های امشب قافله‌های بزرگی از راهِ ما عبور خواهند کرد و بر ما سلام خواهند داد؛ قافله‌هایِ سترگی که همه چراغ به‌دست‌اند و پیراهنِ سرخ به‌تن دارند. فرشته‌گانِ الهی به هم می‌گفتند :امشب به استقبالِ مهمان‌هایِ تازه‌ای خواهیم نشست...

مهمان‌هایِ متفاوت‌تر از دیگران... هله برخیز! مهمانانِ امشب پیراهنِ گلنار به تن دارند و دارند به ما نزدیک می‌شوند... مهمانانِ امشب، برگزیده‌گانِ ویژه‌ی خداوند بزرگ‌اند.

الله اکبر!

قصرِ سکوت و خاموشی فروپاشید... نعره‌های بُلند و غرورآفرینِ الله اکبر توأم با صدای شمشیرها و سنگ‌ها و شیشه‌ها ایجادکننده‌ی هنگامه‌ی عجیبی بود... مردان و زنان، پیران و برنایان... و حتّی اهل هنود که اعتقادی به اسلام نداشتند... همه از خانه و کاشانه برون آمدند و نعره‌های الله اکبر سر می‌دهند... سنگِ غضب بر فرقِ استعمارگران می‌زنند و عمّالانِ سیاه‌قلبِ استبداد را به تمسخر می‌گیرند و با صدایِ رسا و بُلند می‌گویند:

به خاکِ ما چرا ای بی‌خدایان! پای بنهادید؟
به حالِ ما چرا ای داعیانِ صلح! افتادید؟
شما بنیان‌گذار جور و تزویرید و بیدادید
ستم‌کارید و آدم‌خوار و خون‌آشام و جلّادید

طیّاره‌های دشمن به پرواز درآمدند... صدایِ تانک‌ها و زره‌پوش‌هایِ دشمن زمین را تکان

می‌دهد و گوش‌ها را می‌آزارد؛ اما ندای الله اکبر صدایِ هواپیماهایِ مدهش و زره‌پوش‌های تکان‌دهنده را به چالش کشیده‌است... مردم از هر سو و کِناری به سوی جلّادانِ بی‌رحم و خداناباورانِ سفّاک هجوم آوردند و حمله‌ور شدند. کشته شدند و آویخته شدند!

سحر شد و افق خندید... نغمه‌های جان‌بخشِ الله اکبر از میانِ نعش‌های به خون‌طپیده‌ی کابل هنوز به گوش می‌رسید و آدمی را به جادّه‌ی آرامش رَه می‌نمود... آفتاب تابیدنش را به تعویق انداخته است ...ستاره‌های آسمانی از چشمک‌زدن بازإستادند... همه‌چیز عوض شده‌است؛ زمین و آسمان... همه‌چیز... و تاریخ!

تاریخ تمامی فراز و نشیب‌ها... افت‌وخیزها و بلند و پستی‌های امت‌ها و ملت‌ها را به نظّاره می‌نشیند و بر حافظه‌ی خود می‌سپارد... تاریخ حقایق امت‌ها را بر کرسیِ حافظه می‌نشاند و نسل‌های پسین از خلالِ مطالعه‌ی آن، به قضاوت و داوری می‌نشینند. تاریخ افغانستان هم، چیزهایی را به ذهن سپرده است؛ چیزهایی فراوانی را.

تاریخ به یاد دارد و به یاد می‌آورد... تاریخ را نمی‌توان مسخ کرد... تاریخ، تاریخ است. تاریخ می‌داند که، قدرت‌های اشغال‌گر و استعمارگر محکوم و روسیاه‌اند ...تاریخ می‌داند که، رقّاصان و پای‌کوبانِ محفلِ استبداد و استقبال‌گرانِ قدرت‌های استعماری محکومِ نسل‌های پسین‌اند...

تاریخ می‌داند که، ملت‌های آزاده و غیرت‌مند در برابر آواز کفر و استبداد مهر سکوت بر لب نمی‌نهند... قیام می‌کنند... می‌کشند و کشته می‌شوند. تاریخ می‌داند که، آزادی داده نمی‌شود؛ گرفته می‌شود. تاریخ می‌داند که، تانک‌ها و توپ‌ها تضمین‌کننده‌ی بقایِ قدرت‌های بیدادگر نیستند.

تاریخ می‌داند که، برای به‌دست‌آوردنِ آزادی شِعارهای تند و میان‌تهی کافی نیست؛ باید خون داد... باید کشت و کشته شد. کشتن و کشته‌شدن در میدانِ انقلاب اسلامی، هردو پیروزی‌اند و فلاح و رستگاری. تاریخ می‌داند که گاهی امت‌ها به‌جای آب به "خون" نیازمندی پیدا می‌کنند و نهال‌های انقلاب و خیزش توسّط خون آبیاری می‌شود.

تاریخ پیوسته به یاد دارد و به یاد می‌آورد و از یاد نمی‌برد!

په برما کې دظلم

او وحشت نوې څپه

حسن زوی

۴ میاشتې وړاندې چې دبرما د اراکان ولایت په شمال کې دروهنګیا مسلمانانو پرضد ددولت له لورې فوځي عملیات پیل شوي وو اوس فوځ اعلان وکړ چې دا عملیات یې پای ته ورسول.

په برما کې دمسلمانانو دقتل عام تاریخ ډېر پخوانی دی خو په ۲۰۱۲ م کال کې چې دبودایې دولت او بودایې ولس له لورې دمسلمانانو پرضد دظلم او وحشت کومه نوې لړۍ پیل او ترننه یې دوام وموند داپه تاریخ کې هغه بې سارې لړۍ ده چې باید ددې هېواد نه دمسلمانانو دنوم او نښې دختمولو په منظم پلان ونومول شي؛دا هر څه ځکه باید منظم پلان وګڼل شي چې دا بې له کوم سبب او موجبه پیل شویدي اوترننه جریان لري ؛ په ټول هېواد کې عموماً او په اراکان کې په ځانګړې ډول مسلمانان هیڅ دې ته نه پرېښودل کېږي چې دارام ساه واخلي او داطمینان کومه شپه تېره کړي.

دمسلمانانو پرضد فوځ اوسني عملیات دهمدې تسلسل یوه کړۍ ده؛کابو ۴ میاشتې دمخه ددولت فوځونه په ناڅاپي ډول ؛ له کوم موجب او سبب پرته په شمالي اراکان کې دمسلمانانو پرضد پدې پلمه د((ایریاکلیرنس آپریشنز)) په نوم فوځي عملیات پیل کړل چې دلته تروریستان شتون لري .

په اوسنو فوځي عملیاتو کې بودایې فوځیانو په سونو مسلمانان قتل کړل او تر ۷۰ زرو پورې دبرما نه دبنګله دیش پرلور هجرت کولو ته اړشول.

بنګله دیش ته درسېدلو مسلمانانو سره دخبرو اترو پراساس دملګرو ملتونو له لورې په چمتو کړي راپور کې راغلي دي چې دبرما فوځیان دبشر ضد سختو جرمونو مرتکب شویدي؛دتروریستانو په نوم یې بې ګناه زیات ځوانان وژلي دي اوپرمېرمنو یې ډله ایز جنسي- تېري کړیدي.

دملګرو ملتونو له لورې په خپور شوي راپور کې چې کومې خبرې راغلي دي دبرما دولت ترې انکار ونشو کړای نو ځکه یې دنړۍ په سترګو کې دخاورو وراچولو په موخه ددې خبرو دخپرنو او حقایقو معلومولو لپاره یو دولتي پلاوی ټاکلی دی.

مظلومو او بې چاره مسلمانانو پرضد اوسنی ظلم او وحشت دومره ستر دی چې پرضد یې پوپ فرانس هم اواز پورته کړ او ویې ویل چې روهنګیایې مسلمانان له دې املې وژل کېږي او وړاندې ظلمونه روان دي چې

دوئ خپل سقافت ژوندی او دخپلې عقیدې سره برابر ژوند تېرول غواړي .

همدا راز دبشر۔ دحقوقو نړیوال تنظیم ایمنستي انټرنیشنل هم د روهنګیا مسلمانانو پرضد دفوځ اوسني ظلمونه سخت غندلي دي او ویلې یې دي چې په اوسنو فوځي عملیاتو کې دفوځ په لاس بې ګناه مسلمانان وژل شویدي،زندانونو تــه وړل شویدي،ســخت ســکنجه شویدي ،پر مېرمنو جنسي تېري شویدي او ګڼ کورونه یې وران کړیدي.

ددې عملیاتو نه اغېزمن دبنګله دیش پرلور تللي مسلمانان دډېرو مشکلاتو سره دبنګلـه دیـش کـوکس نومي ښار ته رسېدلي دي.

دادبنګله ترټولو ستره او سیاحتي سیمه ده چې اراکان ته ترټولو نېږدې همدا سیمه ده ؛دبرمـا مسـلمانان برما ته نېږدي ګڼو هېوادونو ته کډه شـویدي خـو ترټولـو زیات یې په بنګله دیش کې دي؛داوسنو تللو مهـاجرینو نه لا دمخه پدې هېوادکې ۲۳۲ زره مهاجرین شتون لري چې زیاتره یې دکوکس ښار تـه ځېرمـه پـه کمپونـو کـې خوراډېر بدحالت کې شپې ورځې تېـروي؛دوئ دکمپونـو نـه بېـرون دهېـواد یـوې برخـې تـه هـم دتللـو اجـازه نـه لري؛دبنګله دیش دولت خپلو پولیسو او امنیتي ادارو ته حکم کـړی دی چې دبرمانـه راغلـی یـو مهـاجر دي هـم دهیواد په کوم ښارکې مېشت کېدلو یا کار کولـو تـه نـه پرېږدي.

په کمپونو کې مېشت دژوند دټولو اسانتیاو نه بې برخې دا مهاجرین دژونـدي پـاتې کېـدلو لپـاره دملګـرو ملتونو اداري له لورې دورکول کېدونکو خـوراکي مـوادو پرته بل هیڅ شی ته لاس رسـی نـه لـري؛بس دوئ دلتـه پدې خوشاله دي چې سرونه او عزت یې په امن کې دی خو له بده مرغه چې ژوندیې له دې امله بې اطمینانه دی چې ددوئ په اړه دبنګله دیش ارادې ښې ندي .

دبنګله دیش دولت اراده ښکاره کړیده چې دبرما نه راغلي ټول مهاجرین به دخلیج بنګـال ((تهینګرچـار)) نـومې جزیـرې تـه اسـتوي؛دا جزیـره دکـوکس نـه د۹ ساعتونو په فاصلې کې دمیګهناسیند پرخولې پرته ده؛دا دانسـانانو نـه خالي،شـاړه او دانسـاني ژونـد لپـاره داسـې نامساعده جزیـره ده چـې ډېـر سـیلابونه پکـې راځـي ؛ دبنګله دیش دولت دساحلي ولسوالیو ددولتـي مشرانو یـو تـیم جـوړ کړیـدی او ورتـه یـې حکـم کړیـدی چـې دکـوکس او دهېـواد نـورو سـیمو کـې راجسـتر شـوي او ناراجستر دټولو مهـاجرینو دانتقـالولو او پـه تهینګـر چـار جزیـرې کـې هـم دځـای پرځـای کولـو لپـاره پـلان جـوړ کړي.

یادې جزیرې تـه دروهنګیـا مسـلمانانو دانتقـالولو پلان پـه ۲۰۱۵ م کـال کـې دبنګلـه دیـش دولـت اعـلان کړیدی ؛سره له دي چې دمهـاجرینو مشرانو او دملګـرو ملتونو اداري دبنګله دیش دولـت نـه څـو ځلـې غوښـتې دي چې دې جزیرې ته دمهاجرینو دبوتللو دپلان نه دې لاس په سر شي ځکه چې دا جزیره دانسـانانو داوسـېدلو وړ نده خو دبرما دولت تراوسه ددوئ پـه غوښـتنې غـوږ ندی ګرولای او دخپل پلان په عملـي کولـو لاهـم کلـک ولاړ دي.

ای ایـف پـي نـومي اطلاعـاتي اژانـس تـه دنـوم نـه خپرولو په شرط یوبنګله دیشي چارواکي ویـلي دي چـې دبارانونو شپو ورځو کې دا جزیره تل اوبه لاندې کوي نو پـدې جزیـرې کـې دمهـاجرینو ځـای پرځـای کـول ډېـره خوفناکه او خطرناکه خبره ده .

ددې اندېښنو په جواب کې دبنګلـه دیـش دولـت ویـلي دي چـې دې جزیـرې کـې دولـت پـه سـونو زره

نیالګي کښوي چې پدې سره به دې جزیرې کې دسیلابونو خطرله منځه ولاړ.

هرځوک پوهیږي چې ددولت دا خبره بې حده کمزورې ده ځکه چې پدې کال کې تازه کرل شوي کوچني نیالګي په هیڅ صورت کې دسیلاب مخه نشي. نیولای،دانیالګي چې دسیلاب دمخنیوي وړ ګرځي لږ ترلږه لس کاله وخت به وغواړي.

ددې ترځنګ چې پدې جزیرې کې دسیلاب زیات حطرونه وي دا دسمندري غلو مشهور پټن ځای هم دی نو دکمزورو او بې وسلې مهاجرینو لپاره دا خطر څه دسیلاب دخطر نه کم ندي.

پدې تازه ورځو کې دملګرو ملتونو دادارې دپخواني سرمنشي کوفي عنان په مشرۍ کې یو درې کسیز پلاوی دمهاجرینو دمشکلاتو نه دځان خبرولو او دستونزو دحل لارې باندې دغور کولو په موخه کوکس ته راغلي و.

ددې ترځنګ چې په برما کې ددې مهاجرینو پرضد دترسره شویو دټولو ظلمونو نه دې مهاجرینو پرده پورته کړه نو په تهینګرچار جزیرې کې دمهاجرینو دمبشت کولو ددولتي پلان نه یې هم هغه خبر کړ خو تراوسه دملګرو ملتونوادارې دبنګله دیش دولت نه پدې اړه کومه غوښتنه نده کړې .

داوسنوپښتوپه اړه دملګروملتونو ادارې دبشردحقوقودځانګې له لورې په خپورشوي راپورکې راغلي دي چې د۲۰۱٦م داکتوبرپه ۱۰مې نېټې چې دبرما فوځ د((ایریا کلیرنس آپریشنز)) په نوم کوم فوځي عملیات پیل کړي وو اوتر ۴ میاشتوپې دوام وکړ په ترڅ کې یې دخپلومالونواوعزتونودساتنې په موخه تر۷۰ زروپورې روهنګیا مسلمانان دخپلوکورونو نه ګاونډي هېواد بنګله دیش ته په هجرت کولومجبورشویدي اودفوځ پولیسو اوعاموسله والوپه لاس په سونوعام وګړي وژل شویدي ؛ دفوځ اوپولیسوسره یوځای نادولتي بودایې وسلوالوهم پدې عملیاتوکې ګډون درلود؛ راپور کې راغلي دي چې دبې ګناه انسانانودوژلوترځنګ وسلوالوځواکونو پرګنومېرمنوجنسي تېري هم کړیدي .

راپور دعیني شاهدانو له خولولیکلي دي چې ۵فوځي افسرانوپریوې مېرمې جنسي تېری وکړ اودهغې ۸ میاشتنی کوچنی یې وواژه ؛ همداراز وسلوالو د٦کلونونه دکم عمرلرونکي ۳کوچنیان په تېروتیګوذبح کړیدي .

دملګروملتونوادارې دبشردحقوقوځانګې مشرزیدبن رعد الحسین ته چې دمسلمانانوپر ضددبرمادفوځ دظلم اووحشت دامعلومات ورانديدې کړای شول نوهغه احساساتي شو او ویې ویل چې داځومره لوی نفرت دی چې دمیندودغېرونه تي خوري کوچنیان اخستل کېږي ، وژل کېږي اوپه میندو یې جنسي تېري کېږي .

په برماکې دمسلمانانوپرضددتازه ظلم او وحشت پېښې په داسې حال کې رامنځته شوې چې په برماکې دمېرمن آنګ سان سوچي حاکمیت دی ؛ هغه سوچي ،چې دنوبل دامن مډال ورکړل شویدی اوپه هېوادکې ددیموکراسۍ داعادې اوددیکتاتورپرضد دمبارزې اتله ګڼل کېږي خو اوس دهمدې بشرپالی فوځونه ددې په حکم داسلام په جرم په لویه پیمانه بې ګناه خلک وژني نه ددې بشردوستي خرابېږي اونه یې هم دیموکراسۍ اودبشرحقوقوته ژمنتیا ماتېږي ؟!

محفوظ الرحمن رحمانی

مزدوران استعمار و تهاجم فرهنگی!

يـكي از راهكارهـاي تخريبـي اسـتعمار در جوامع اسلامي همانا بر چوكي نشـاندن افـراد بي بند و بار و ضد ارزشهاي اخلاقي و اسلامي است، اين كـار از يـك سـو دسـترسي اسـتعمار بـه رده هاي بالاي قدرت را تسـهيل مـي كنـد و از سـوي ديگر اين كار باعث خواهد شد تا رزايل اخلاقي و فرهنگ مستهجن غرب توسط اين اشـخاص در هماهنگي با آنها بطور تيوريزه و مـديريت شـده در ميـان جوامـع اسـلامي در كـمال راحتـي گسترش يابد و اگرم كسي بخواهـد در برابـر آن بيستند توسط اين مزدوران از سر راه برداشـته شود.

رزايـل كـه بنيـاد يـك جامعـه را از ريشـه خشـكانده و آنـرا بـه جامعـه ايـده ال بـراي مستعمرين جهت سمت و سو دادن تبـديل مـي كند، جامعـه كـه فاقـد ارزشـهاي معنـوي اسـت و فرورفته در گرداب فساد ديگـر تـوان ايسـتادن در برابر تهاجم فكري را نخواهد داشت، بلكه به اجسام متحرك مي ماننـد كـه بايـد كسي- آنها را وادار به تحرك كند .

ايـن ترفنـد و شـگرد را اسـتعمار غـرب تقريبـاً بعـد از سـقوط خلافـت عثمانـي در كشورهاي اسلامي در پـيش گرفـت، البتـه تـا آن زمانيكه خود

رسماً در شرق حضـور داشـت و زمـام امـور ايـن پهنـه وسـيع از زمـين را در انگشـتان اش داشت، موجوديت اين مزدوران چندان ملمـوس نبـود و فقـط در رده هـاي پايـاني نظـام هـاي استعماري ذليلانه مصروف خدمت بودند.

ايـن تـلاش ده هـا را در برگرفـت و تـا حـالا هم ادامـه دارد و شـكل هـاي آن بـا مـروز زمـان ظاهر عوض كردند ولي ماهيت و هدف آن هرگز مبدل نشده و در آينده هـم نخواهـد شـد، و تـا زمانيكـه مسـلمانان را كـاملاً بـا ديـن و فرهنـگ شان بيگانه نكننـد دسـت از ايـن كـار نخواهنـد كشيد.

سالها بگذشت و اين روند در غفلتِ تام مسلمانان همچنان ادامه دارد، استعمار وقتي توانست ملت هاي مسلمان را از دين و آيين شان جدا كنند و فرهنگ اصيل شان را تا حدودِ زياد در ذهن و فكر آنها نابود كند، شروع به صادر كردن فرهنگ خويش به اين سرزمين ها كردند، چون وقتي چيزي مي رود بايد چيزي ديگر جاي آنرا پر كند.

بزرگترين خدمت را در راستاي به كرسي نشاندن اين هدف استعماري همين مزدوران انجام دادن كه به قدرت رسيدن خود را مرهون آنها مي دانستند و تعهد كرده بودند تا به هر حرف و عمل كه از جانب آنها برايشان ديكته شود را در كمال امانت داري جامه عمل بپوشانند.

غرب استعمارگر تلاش كرد تا به كمك عوامل داخلي كشورهاي اسلامي را از محتواي فرهنگي اصيل اش تهي كند و حتي شخصيت انساني ما را هم انكار كند، غرب بوسيله عوامل تبليغاتي اش تبليغ و تلقين كرده كه شرق (كشورهاي اسلامي) هيچگاه آدمي نبوده و رهبري و آقاي پيراهنِ است كه از قديم آنرا به قامت غرب دوخته اند و اين سرنوشت كشورهاي اسلامي است كه هميش جيره خوار غرب باقي بمانند.

هجوم سيل آساي فرهنگ غربي متاسفانه باعث شد تا آخرين نشانه از شخصيت ما هم جارو شود به گوشه فراموشي سپرده شود و اين بود كه ما به موجودات بي اصل و ريشه، رام و آرام تبديل شديم كه به سهولت دوشيده مي شد و سواري مي داد.

همين است كه امروز در گردابِ غرق هستيم كه افتخار را در تقليد از غرب و پا ماندن جاي قدم هاي او ميدانيم، ما كه در اين جنگ بنا بر عدم مقاومت و ايستاده گي باخته ايم فكر مي كنيم كه عقل غرب از عقل ما، سليقه او از سليقه ما و در يك كلام اكثريت به سادگي پذيرفته اند كه غربي برتر است، پس بايد دنباله رو غرب بود و از تمامي كارهايش تقليد كرد، تقليد و بازهم تقليد و اين را راه رستگاري فكر مي كنند.

اما فرهنگ درخشان اسلامي چيزي نيست كه به اين آسانی به باد فراموشي سپرده شود و چهره درخشان آنرا خاكهاي آمده از گردباد هاي گنديده و متعفن غرب بطور كامل بپوشاند، همين است كه فكر مسلمانان گاه گاهي به سوي آن ميلان پيدا مي كند.

غرب كه در مكاري و حيله گري دستان ابليس را از پشت بسته است متوجه اين نقطه شده و با فراست دريافت كه بايد اين خلأ را كه هر لحظه امكان تبديل شدن به خطر باالقوه را دارد بايد پر كرد، او مي داند كه در صورت برگشت اين فرهنگ ميان مسلمانان و چنگ زدن امت به آن ديگر توان ادامه سيطره بر اين پهنه وسيع از زمين برای او مقدور نيست.

براي همين دست و آستين بالا زد و چاره انديشيد و چه چاره شيطاني كه به فكر او خطور

کرد، غرب مي دانست كه در اين سرزمين ها اثارِ از تمدن هاي گذشته بدست آمده است كه هيچ نمونه زنده از آن به جا نمانده جز ويرانهِ از كاخ ها ، ضروف شكسته و كتيبه هاي نوشتاري بي مفهوم.

بعد از درك اين موضوع غرب دسته دسته باستان شناسان را روانه كشورهاي اسلامي كرد و درحاليكه چهره هاي حق به جانب و دلسوزانهِ به خود گرفته بودند اين نشانه ها را از دل خاك بيرون كردند و به موزيم ها فرستادند، و بدين ترتيب سندِ اصالت براي ما دست و پا كردند، چنانچه خيلي ها ساده لوحانه خود را مديون آنها دانسته و مي گويند: به راستي كه اگر غربي ها نمي بودند ما كجا به چنين ارزشهاي پي مي برديم.

غربي هاي مكار در اين كار هم حيله و تلبيس داشتند و آن اينكه توانستند چيزي را به عنوان شخصيت و اصليت به ما معرفي كردند كه با وضيعت فعلي ما هيچ ارتباطِ نداشت، غرب با اين كار در پي چند هدف بود و است.

اول اينكه ما را از وسواس جهت يافتن شخصيت اصلي خويش منحرف كنند و همين چهره را كه او براي ما ارايه مي دهد و هيچ سود هم ندارد را بجاي چهره گمشده خويش بپذيريم.

هدف دوم و مهمتر اينكه غرب توانست با زنده كردن و گاه جعل افسانه هاي قومي و نژادي اتحاد مسلمين را كه خطر بزرگ براي اوست از هم بپاشد، تا باشد مسلمانان مصروف مشكلات و جنگ هاي بنام قوميت و نژاد شوند و او بتواند با خاطر آسوده به اشغال و غارت ثروت هاي شان بپردازد.

غرب توانست با تهاجم فرهنگي گسترده حضور و فكر منحرف خويش را در كشورهاي اسلامي تا جاي زياد نهادينه كند، كارِ كه هرگز نمي توانست آنرا تنها با اشغالگري مستقيم انجام دهد.

هدف دوم و مهمتر اينكه غرب توانست با زنده كردن و گاه جعل افسانه هاي قومي و نژادي اتحاد مسلمين را كه خطر بزرگ براي اوست از هم بپاشد، تا باشد مسلمانان مصروف مشكلات و جنگ هاي بنام قوميت و نژاد شوند و او بتواند با خاطر آسوده به اشغال و غارت ثروت هاي شان بپردازد.غرب توانست با تهاجم فرهنگي گسترده حضور و فكر منحرف خويش را در كشورهاي اسلامي تا جاي زياد نهادينه كند، كارِ كه هرگز نمي توانست آنرا تنها با اشغالگري مستقيم انجام دهد.

كشور كوچك و دور افتاده ما هم از تاثيرات مخرب اين تهاجم در امان نمانده ولي تا ۲۰ سال پيش بطور مستقيم در برابر اين هجوم قرار نداشت، اما بعد از سقوط طالبان و روي كار آمدن نظام جديد از همان آوان روي اين موضوع سرمايه گذاري هنگفتي صورت گرفت.

تهاجم فرهنگي دوشادوش تهاجم نظامي غرب وارد اين كشور شد و تلاش دارد تا داشته هاي اصيل فرهنگي اين ديار را همانند ديگر كشورهاي اسلامي نابوده كرده و فرهنگ مستهجن غرب را جاگزين آن بگرداند، امروز ما شاهد هستيم كه دستگاه هاي تلويزيون، راديو و ديگر وسايل اطلاعات جمعي مستقيما از جانب غرب حمايت و در راستاي زدودن فرهنگ و ارزشهاي اسلامي فعاليت دارند.

فعاليت هاي كه نسل جوان اين مملكت را هدف قرار داده و تلاش دارد تا از آنها انسانهاي بي بند و بار، عياش و بي هدفي بسازد كه تمامي هم و غم شان خلاصه شود در خوشگذراني، رقص و آواز و اينكه صبح بيدار شوند و شب بخوابند در حاليكه هيچ دستاورد نداشته و اندك زمان را پيرامون آنچه درکشور و جهان مي گذرد فكر نكنند.

اكثر جوانان امروزي ما در روزمره زدگي محض قرار دارند، چيزيكه آنها را از هدف ولاي اسلامي كه همانا تكاپو، تلاش، شناخت دشمن وحركت است باز داشته است، و اين چيزيست كه غرب دنبال آن است و تلاش دارد آنرا ميان نسل جوان مسلمان همگاني سازد.

جوانان امروزي ما متاسفانه به اثر تاثير پذيري از تهاجم بنياد بر افگن غرب با فرهنگ اصيل و ناب اسلامي خويش نا آشنا اند و حتي خيلي هايشان نمي دانند كه چنين فرهنگ وجود داشته است و آنها ميراث دار آن هستند، و چه ميراث داران كسل، تنبل و نا آگاهي!

جوانان كه بايد سنگردار فرهنگ و ارزشهاي خويش مي بودند امروز خيلي هايشان نا آگاهانه و اندك هم آگاهانه در سنگر دشمن قرار گرفته و نه اينكه اين فرهنگ وارداتي و بي ارزش را پذيرفته اند بلكه خود به مناديان بسوي آن مبدل گشته اند.

فرهنگ كه ارزشها را وارونه تعريف كرده و در پي از هم پاشيدن جامعه و از هم پاشيدن بنيادهاي خانواده است و هيچ برنامه براي ساختن انسان و رساندن او به كمال ندارد، فرهنگ كه هيچ جايگاهي براي اخلاق در او نيست وفقط توجه خويش را معطوف داشته است به زندگي كه از سر تا پاي آن غرق رد مادي گرايست و بس درحاليكه از معنويات اندك ترين اثري را شما در آن نخواهيد يافت.

فرهنگ كه امروز عده زياد از دانشمندان غربي خود به حقيقت آن پي برده و آنرا دشمن اخلاق و اجتماع مي دانند، آنها گفته هاي برتراند راسل، نيچه و ديگر بيلسوفان غربي را كه شالوده فرهنگ امروزي شان را تشكيل مي دهد خطرناكتر از بم هاي اتمي مي دانند كه امروز در زراتخانه ها وجود دارد.

جوانان كه بايد سنگردار فرهنگ و ارزشهاي خويش مي بودند امروز خيلي هايشان نا آگاهانه و اندك هم آگاهانه در سنگر دشمن قرار گرفته و نه اينكه اين فرهنگ وارداتي و بي ارزش را پذيرفته اند بلكه خود به مناديان بسوي آن مبدل گشته اند.فرهنگ كه ارزشها را وارونه تعريف كرده و در پي از هم پاشيدن

جامعه و از هم پاشيدن بنيادهاي خانواده است و هيچ برنامه براي ساختن انسان و رساندن او به كمال ندارد، فرهنگ كه هيچ جايگاهي براي اخلاق در او نيست وفقط توجه خويش را معطوف داشته است به زندگي كه از سر تا پاي آن غرق رد مادي گرايست و بس درحاليكه از معنويات اندك ترين اثري را شما در آن نخواهيد يافت.چنانچه دو دانشمند مشهور انگليسي- بنام هاي نايجل راجرز و مل تامپسون در مورد فساد گسترده و بي بند و باري اخلاقي در غرب مي نويسند: نرخ بالاي طلاق، فساد اخلاقي، برهم خوردن بنيادهاي خانواده و اجتماع در غرب محسول نظريات فيلسوفان همچون راسل است، كسيكه در زندگاني اشت دركنار چهار خانم داراي معشوقه هاي بيشمارِ بود و بعد از مدت دنبال فلسفه را رها كرد و مشغول عشقبازي با زنها و خوشگذراني شد، حتي يكبار وقتي با سوالي از يكي از دانشجويان دختر مبني بر اينكه چرا فلسفه صوري را رها كرده است مواجه شد دركمال بيشرمي پاسخ داد: چون فهميدم زمين زدن زن ها از اين كار خوش تر است.

راسل در جاي ديگر مي گويد: به نظر من زنا نبايد دليل طلاق باشد و روابط بيرون از ازدواج مشكلات درون ازدواجي را كاهش مي دهد.

حالا چگونه انسان مي تواند چنين فرهنگ را بپذيرد؟ فقط در يك صورت امكان دارد و آن اينكه از يك طرف به فرهنگ خويش نا آشنا باشي و از طرف ديگر شناختي كافي از فرهنگ وارداتي غرب نداشته باشي.

به رغم حملات گسترده، پي هم و شبانه روزي غرب جهت همگاني كردن اين فرهنگ با تمامي اجراي آن چه در كشور ما و ديگر كشورهاي اسلامي اما الحمدالله تا هنوز جوامع اسلامي تا به اين سرحد به گرداب آن سقوط نكرده اند، ولي اگر بيدار نشويم و در جهت شناساي دشمن و راهكارهاي او مطالعه و راه هاي مقابله با آن را جستجو نكيم به يقين كه سقوط از اين سرآشيبي تند هر آن ممكن است.

هغه نسل چې دنګو قصرونو او ښکلاوو پرې اغېز نه کاوه!

استاد محمد نعیم جلیلي

د فارس په سیمه کې یو تنکی ځوان چې یزدګرد نومیده واکمن ؤ، هغه ډېر مغرور او بې تجربې شخصیت ؤ، عمر یې تر شلو کلونو نه زیاتیده. د لښکر مشر رستم ته یې امر وکړ چې په چټکۍ سره د مسلمانانو چاره وکړي او هغوی له منځه یوسي، رستم یو مشر او هوښیار انسان ؤ او په جګړو کې یې خورا زیات مهارت درلود.

رستم پوهیده چې د مسلمانانو له منځه وړل او یا هغوی ته ماتې ورکول آسان کار ندی، په ټهره په موجوده ظروفو او حالاتو کې هغه د خپل مشر غوښتنه له یوې ورځې بلې ته غورځوله، خو پېښو او واقعاتو ورسره یاري ونکړه، ځکه چې مسلمانانو په قادسیه کې د تمیدو پر مهال د عراق په ښپرازه سیمو څو یرغلونه وکړل، ترڅوله یوې خوا د خپلو لښکرو لپاره لازم خوراکي توکي تیار کړي او له بله پلوه فارسیان جګړې ته وپاروي، په دې سره د یزدګرد دربار ته د دغه سیمو د تاجرانو او بزګرانو شکایتونه ورځ تربله زیاتېدل، او یزدګرد به په رستم فشار راوړ، او هغه به یې یرغل ته هڅاوه، کله چې په رستم فضا راتنګه شوه او د مسلمانانو سره یې د مقابلې څخه بله چاره ونه مونده، یو لك او شل زره لښکر یې چمتو کړ، چې نیم یې آس ځغلونکي وو، او لدې برسیره یولك او شل زره نور ورسره خادمان او کارکوونکي وو، یو زیات شمېر فیلان هم ورسره وو، هغه زړه نازړه روان و، آن تردې چې له مداین څخه تر قادسیې پورې لاره یې په څلورو میاشتو کې ووهله، په داسې حال کې چې ټوله مسافه یوسل او شپیته کیلو متره ده.

د مسلمانانو لومړی پلاوی:

رستم د مسلمانانو څخه د خبرواترو غوښتنه وکړه، حضرت سعد بن ابي وقاص، یوازې رِبْعِي بن عامر ورواستوه، رستم خپلو لښکرو ته امر وکړ چې د هیات د استقبال لپاره ځای جوړ کړي، هغوی په ډېر ښکلا او سینګار ځای جوړ کړ، ډېرې قیمتي غالۍ او فرشونه یې وغوړول، رستم هم په ډېر شان او شوکت خپل

ځان جوړ کړ، ګومان يې دا ؤ چې دا کار به په راغلي پلاوي اغېزه وکړي، خو خبره بل ډول شوه.

رِبْعِي راوښت، په خپله نېزه يې تکيه کړې وه، دا ټول فرشونه او غالۍ يې پرې وشلولې، کله چې رستم ته رانژدې شو، د هغه ساتونکي ترې راچاپير شول، رِبْعِي په ځمکه کښېناست اونېزه يې په قالينه ورښخه کړه.

هغوی ترې پوښتنه وکړه، چې دا کار دې ولې وکړ؟ رِبْعِي وويل: مونږ په دې ډول سينګارونو او ښکلاو باندې ناسته نه خوښوو.

رستم ورته وويل: تاسې د څه لپاره راغلي ياست؟

رِبْعِي وويل: الله تعالى مونږ دېته استولي يو چې انسانان د بندګانو له بندګۍ خلاص او د الله تعالى بندګۍ ته راوبلو، د دنيا له تنګسيايې د آخرت او دنيا پراختيا ته راوباسو، د اديانو له ظلم څخه يې د اسلام عدل ته راکاږو، مونږ يې خپل مخلوق ته د دې لپاره را استولي يو چې هغوی دې کار ته راوبلو، چاچې له مونږ څخه دا خبره ومنله، مونږ يې هم ترې منو، بېرته ترې ګرځو او په خپله خاوره يې په امن کې پرېږدو، او چاچې انکار وکړ، مونږ ورسره جګړه کوو تر څو چې د الله تعالى وعدې ته ورڅګرځو.

رستم وويل: د الله تعالى وعده څه ده؟

رِبْعِي وويل: څوك چې د انکار کونکو سره په جګړه کې مړشي، د هغه لپاره د جنت وعده ده او څوك چې ژوندی پاتې شي د هغه لپاره د بري او کاميابۍ وعده ده.

رستم وويل: ما ستاسو خبره واورېده، آيا داممکنه ده چې څه موده درنګ وکړئ ترڅو تاسې هم فکر وکړئ او مونږ هم فکر وکړو؟

هغه وويل: هو، خو څو ورځې، يوه که دوه؟

رستم وويل: نه، تر هغې چې مونږ د خپلو مشرانو او درايې خاوندانو سره مشوره وکړو.

رِبْعِي وويل: مونږ ته زمونږ رسول صلى الله عليه وسلم دا طريقه پرې ايښې ده او زمونږ مشرانو په دې عمل کړی دی چې له درې ورځو به زيات دښمن ته وخت نه ورکوئ، مونږ درې ورځې تاسې ته ګورو، خپله مشوره مو وکړئ او يو له درې لارو غوره کړئ:

يااسلام ومنئ، مونږ به تاسې په خپله خاوره او ځمکه کې پرېږدو.

يا جزيه ومنئ، په دې سره به هم مونږ له جګړې لاس واخلو، که چېرې بيا تاسې زمونږ مرستې ته اړتيا نه درلوده، زمونږ درسره کار نشته او که زمونږ مرستې ته مو اړتيا وه، مونږ له تاسې سره د دښمن په مقابل کې مرسته کوو.

او يا به په څلورمه ورځ ځان جګړې ته چمتو کړئ که په دې درې ورځو کې تاسې

جګړه پیل نکړئ، مونږ جګړه نه پیل کوو، او زه ستا لپاره د خپلو ټولو ملګرو په اړه ضامن یم.

رستم وویل: آیا ته یې مشر یې؟

رِبْعِي وویل: نه، خو مسلمانان ټول سره د یو جسد په شان دي، تر ټولو کمزوری شخص یې کولای شي چې چاته امان ورکړي.

رستم خپلو درباریانو او مشاورینو ته وکتل او ویې ویل: تاسې څه وایئ؟ آیا د دې شخص له خبرو څخه مو کله هم کومه څرګنده او روښانه او ډاډه او عزتمنه خبره اورېدلې ده؟ هغوی وویل: مونږ له الله څخه پناه غواړو چې د دې سړي خبرو ته میلان وکړئ او د دغه سپي خبروته خپل دین پرېږدئ د دې جامو ته نه ګورئ؟

رستم وویل: خوار شئ، جامو ته یې مه ګورئ، خبرو، نظر او سیرت ته یې وګورئ، عربان خو د جامو او خوراك پروا نه ساتي، او په خپل اصل او نسب ډېر ویاړي او د هغې ساتنه کوي.

رستم و نشو کولای چې خپل قوم په دې قانع کړي چې د مسلمانانو سره د جګړې څخه ډډه وکړي.

بیا رستم د بل پلاوي غوښتنه وکړه، سعد رضی الله عنه ورته حذیفه بن محصن واستوه، هغه هم د رِبْعِي په شان استازیتوب وکړ، بیا یې د درېیم پلاوي غوښتنه وکړه، دا ځل یې ورته مغیره بن شعبه واستوه، هغه په عربانو کې ډېر خوله ور او د قوي منطق څښتن ؤ، غښتلی بدن یې درلود او په فارسي ژبه هم ښه پوهیده.

کله چې د رستم خیمې ته ننوت، مخکې ولاړ، آن تردې چې د رستم سره په کټ کښیناست، فارسیان وغوریدل، او ورټوپ یې کړ، هغه یې راښکه.

مغیره وویل: غورېږئ مه! مونږ ته خو ستاسې په اړه هسې خوبونه روایت کېدل، خو زه تر تاسو بل بې عقله قوم نه وینم، مونږ عربان ټول سره یو شانته یو، یو د بل بندګي نه کوو، مګر که چېرې په جګړه کې ونیول شو، ما ګومان کاوه چې تاسې به هم یو له بل سره همداسې کړنچاره او خواخوږي لرئ، ښه دا وه چې تاسې زه خبر کړی وای چې ستاسې ځینې د ځینو نورو خدایان دي، او دا کار په تاسې نه کېږي، لدې کبله یې تاسې ته نشو سپارلی، زه خو په خپله تاسې ته نه یم راغلی، تاسې راغوښتی یم. زه نن پوه شوم چې ستاسې حالت مخ په ړنګېدو دی، او تاسې به مغلوبېږئ، او پاچاهي په دې عقلونو نه کېږي.

عوامو وویل: والله چې دې عربي خو سمې خبرې وکړې.

د مجلس مشرانو وویل: دې خو داسې خبرې وکړې چې زمونږ مریان یې ځان خوا ته راښکل.

همـدا خبـرې د رسـتم لخـوا د جګـړې د وروسـته کولـو لپـاره وروسـتی هلـې ځلـې وې، لـدې پرتـه ورسـره نـور څـه پـاتې نشـول، او د مسلمانانو سره د جګړې پرته ورته بله لار نه وه.

سعد بـن ابـي وقـاص په همـدې ورځـو کې د عرق النسا په نـاروغۍ اخته شـو، يـو ډول دانې پرې راوختې، چې له کبله يـې سـواري او ناسته نشوای کولای. د يوې کلا سر تـه وخـوت چې قديس نوميده، هلته يـې پـرې سينه واچولـه، او له پورته يې د خپل لښکر ځارنه کولـه. حضـرت خالد بن عرفطه يـې د جګړې د ډګـر قومانـدان وټاکه.

د قادسيې ورځې د ارمـاث ورځ (د ۱۵ هـ کال د شعبان ۱۳ (رسـتم د مخکې په شـان يـو ځـل بيـا مسـلمانانو تـه وليکـل چې يـا تاسې راپـورې وزئ او يـا بـه مـونږ درپـورې وزو. مسـلمانانو ورتـه ځـواب ورکـړ، چې دا ځـل بـه تاسې راپورې وزئ.

حضرت سعد خپل لښکر تـه اوامـر صـادر کـړل چـې (خپـل ځايونـه ټينـګ کـړئ او د ماسپښين تر لمانځه پـورې هـيڅ مـه خـوځېږئ. کله مو چې د ماسپښـين لمـونځ وکـړ زه تکبيـر وايـم، د لـومړي تکبيـر سـره تاسې هـم تکبيـر ووايئ، او د خپلـو ځپلـو وانـدې وتړئ،او ځـان چمتو کړئ. په دې پوه شئ چې ستاسې ځخه مخکې هېڅا ته هم تکبير نـه دی ښـودل شـوی. پوه شئ چې دا ستاسې دتاييـد او مرسـتې لپـاره درکړل شوی دی.

کله مې چې دوهم ځل تکبير ووايـه تاسې هم تکبير ووايئ، ځانونه چمتو کړئ او ستاسې ټول کارونه بايد سمبال شي. کله مې چې درښيم تکبير ووايه نو تاسې هم تکبير ووايـئ او آسـونه مو د مبارزې او ځغلولو لپاره چمتو کړئ او کله مې چې ځلورم تکبيـر ووايـه، خپلې ژامې پـرې ورټينګې کړئ او ټول يو ځای يرغـل وکـړئ تـر ځوله دښمن سـره ورګډ شـئ او دا الفـاظ وايـئ (لاحول ولا قوه الا بالله(

د آسـمان پـه لمنـو کـې تکبيرونـه پورتـه شول، تر درښيم تکبيره خبره ورسېده چې غالـب بـن عبدالـه الاسـدي د مبـارزې لپـاره ډګـر تـه ووت او دښمن يې مبارزې ته راوبلـه. د دښـمن له پلوه د هرمز په نامه يو شخص راووت چې د هغـوی لـه مشـرانو ځخـه ؤ. غالـب ورتـه هـيڅ فرصت ورنکړ او په يوه خرپ يې راځمـلاوه او په غېږ کې يې مسلمانانو ته بندې راوړ.

مسلمانانو لا د ځلـورم تکبيـر انتظـار کـاوه چې فارسـيانو نـابېره يرغـل وکـړ او د اسـلامي لښکر په زړه ېې حمله وکړه، هلته د بجيله قبيله وه چې په اسـلامي لښـکر کې تـر ټولـو غښـتلې وه، خوا تـه يـې دکنـده قبيلـه پرتـه وه او يـوازې همـــدې دواړو قبيلـــو د مســـلمانانو د لښـــکر ځلورمه برخه تشکيلوله، چې شمېره يـې ۸۰۰۰ تنو ته رسېده.

یرغل خورا سخت ؤ، فیلان په کې ډېر خطرناك وو او د مسلمانانو د لښکر آسونه یې وډار کړل.مسلمانان له آسونو راکوز شول او پیاده یې په جګړه پیل وکړه.

حضرت سعد د اسد قبیلې ته امر وکړ چې د بجیلې قبیلې مرسته وکړي.هغوی د بجیله قبیله ښې پلو ته پرته وه او د طلیحه بن خویلد قوم ؤ، شمېره یې درې زرو تنو ته رسېده. بنواسد قبیلې بې سارې مېړانه وښوده او په ډېره اتلولۍ سره یې دخپلو مسلمانانو ورونوڅخه دفاع وکړه، دغه ورځ داسد قبیلې لپاره خورا زیاته مرګونې ورځ وه او یوازې له همدوی څخه پنځه سوه مسلمانان شهیدان شول.

دمسلمانانو نور لښکر له ځایه ونه خوځېد، ترڅو چې حضرت سعد ځلورم تکبیر ووایه او د مسلمانانو لښکر په یو خرپ سره د دښمن په لښکر حمله وکړه. دمسلمانانو یوې ډلې وکولای شول چې د فیلانو په شاګانو پراته تابوتونه رانسکورکړي، د دې کار لپاره مسلمانانو دفیلانو هغه ملابندونه وشلول چې دغه تابوتونه پرې ترل شوي و، په دې سره په تابوتونو کې سپاره خلك هم ووژل شول.

د قادسیې د ورځې لومړۍ ورځ په همداسې ډول پای ته ورسېده چې کله به د مسلمانانو بری ؤ او کله د فارسیانو.

بي بي خنساء خپلو زامنو ته وصیت کوي: بي بي خنساء د ارماث په شپه خپل ځلور زامن راوغوښتل، هغوی ته یې وعظ وکړ او ویې ویل: (تاسې په خپله خوښه ایمان راوړی دی او دجهاد لار مو په خپله غوره کړې ده او تاسې په هغه ثواب او اجر ښه پوهېږئ چې الله تعالی مسلمانانو ته د کافرانو سره په جګړې کولو کې نغښتی دی.

په دې پوه شئ چې تلپاتې هستوګنځی له فاني کېدونکي کور څخه ډېر غوره دی. کله چې سهار شو — ان شاءالله- او تاسې روغ وئ نو دخپل دښمن جګړې ته ښه بصیرتمندانه ورودانګئ، او له الله تعالی څخه مرسته وغواړئ. کله مو چې ولیدل چې جګړه توده شوه، لمبې بلې شوې او اور ولګېد، نو تاسې یې منځ ته ورودانګئ، او ښه مېړانه وکړئ، په تلپاتې هستوګنځي کې به عزت او کرامت درپه برخه شي.

دغه د ایمان کانې دي چې په یو انسان کې بنسټیز بدلون راولي، همدا خنساء وه چې په جاهلیت کې یې ورور (صخر) له منځه تللی ؤ، د هغه په مړینه او غم کې یې یوه داسې قصیده ویلې وه چې تر اوسه یې شاعران یادوي. خو د اسلام راوړلو وروسته بیا خپل زامن د الله تعالی په لار کې جهاد او سرښندنې ته چمتو کوي.

د اسلامي تاریخ ګام په ګام- کتاب څخه

ګوښی که ټولنیز ژوند؟

سردار محمد دیندار خپل

ټولنیز ژوند یوه فطري پدیده ده چې ټول وګړي پرې اتفاق لري، کوم خلک چې له ټولنیز ژوند څخه ګوښې دي تل له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. دا ډول خلک د خلق الله له خدمت څخه هم لیرې دي، حال دا چې د خلکو خدمت کول عبادت دی او الله جل جلاله پرې ثواب او اجر ورکوي نو په دې اساس دا ډول خلک د هېڅا هم نه خوښېږي ځکه له ټولنې څخه لېرې دي او هېڅا ته یې هم خیر نه رسېږي.

یو عام فورمول دادی چې څه کوي نو د خپل ځان لپاره یې کوي، نه د چا په خیر کې کار لري او د نه چا په شر کې چې دا په ډاګه د قرآنکریم له دې آیت څخه سرغړونه ده چې الله تعالی فرمایي: {كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ } [آل عمران : ۱۱۰] ژباړه:او تاسې هغه غوره ډله یاست چې د انسانانو د لارښوونې او اصلاح له پاره منځ ته راوړل شوې ده، تاسې پر نېکۍ امر کوئ او له بدیو منعه، او پر الله ایمان لرئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: يَدُ اللَّهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ ژباړه: (د الله تعالی بلاکیف لاس ډلې (جماعت) سره دی)

حال دا چې انسان باید په ټولنه کې په ټولیزه توګه ژوند وکړي، ټولنې ته یې خیر ورسېږي، د خیر په چارو کې یو بل ته لاس ورکړي او د ټولنې یو مفید او ګټور عنصر وګرځي .

که چېرې انفرادي او ګوښی ژوند غوره وي نو الله جل جلاله ولې بیا آدم علیه السلام ته د ګډ ژوند ملګرې پیدا کړه؟ او بیا یې ولې د آدم علیه السلام اولاده په مختلفو پرګنو ووېشله؟ دا ځکه ترڅو یو بل سره وپېژني او په ټولنه کې سره ګډ ژوند غوره کړي، یو بل ته د همکارۍ لاسونه ورکړي، یو د بل لاسنیوی وکړي او د ژوندانه په هرارخیزه چارو کې یو بل سره مرسته او کومک وکړي. دا چې انسان ټولنیز ژوند ته اړتیا لري او له ټولنې څخه پرته یې ژوند نیمګړی دی، نو باید په دې باندې پوه شي چې څنګه ټولنیز ژوند غوره کړي.اوس خبره داده چې له ټولنې څخه پرته ژوند ګټه نلري نو په ټولنه کې څرنګه ژوند وکړو چې هم ځان ته ګټه ورسوو او هم مو ټولنه د خیر خوا ته روانه کړې وي؟ ځکه په ټولنه کې غوره انسان هغه دی چې نورو خلکو ته یې خیر ورسېږي. د اسلامي تاریخ اوږدو ته په پاملرنې سره دا خبره جوته ده چې د بشریت وروستي ناجي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په خپله ټولنه کې خپل ژوند څنګه پیل کړ؟

دا موضوع له هغه کیسې هم ښه څرګندېږي چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم، په پیغمبرۍ مبعوث شو او بي بي خدیجې رضی الله عنها ته یې وویل: زه په خپل ځان وېرېږم.

خدیجې رضی الله عنها ورته وویل: پر الله قسم تا به الله جل جلاله نه ضایع کوي، ځکه ته خپلوي پالې له بېوزلو او کمزورو سره مرسته کوې، د مېلمه عزت او درناوی کوې، او د حق په چارو کې ټینزي او بېړه کوې.

په ټولنه کې د خپل مرشد او پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ځېر ژوند کول پکار دي ترڅو ټولنې ته مفید او ګټور تمام شو نه دا چې د ټولنې په اوږو باندې بار شو!

همدا ډول د اسلام د لومړنۍ پېړۍ یو بله کیسه هم ددې ډول ښه بېلګه ده،کله چې د مکې مشرکینو حضرت صدیق اکبر ډېر په تنګ کړ او د مشرکینو له لوري یې ژوند تریخ شو او حبشې ته یې د هجرت تصمیم ونیو،کله چې د برک الغماد نومي ځای ته ورسید، هلته د عربو له یو مشر- مالک بن الدغنه سره مخامخ شو، ابن الدغنه ورڅخه پوښتنه وکړه چې چېرته ځې؟ صدیق اکبر له خپلې ارادې او عزم څخه خبر کړ.

ابن الدغنه وویل) :ای ابوبکره! ستا په ځېر خلک نشي وتلی، ته خو د کمزورو سره مرسته کوې، خپلوي پالې، تنګ لاسو سره مرسته کوې، مېلمه پالې او د حق په لار کې د حق ملاتړ یې)

اوس نوکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو صادق یار او صحابي صدیق اکبر ژوند ته پاملرنه وکړو نو دا به راته معلومه شي چې زمونږ اسلافو څه ډول ټولنیز ژوند درلود، خو که په مقابل کې یې خپل ټولنیز ژوند ته لږ تم شو، نو څه به وویونو؟

آیا رښتیا هم مونږ هماغه کړنې ترسره کوو، کومې چې زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ترسره کولې او همدارنګه د ټولنې ستر مخکښ صدیق اکبر په خپل ټولنیز ژوند کې ترسره کړې!

پرته له شکه ټولنه هغه وخت ښه او غوره ده چې وګړي یې لاندې صفتونه په خپلو ځانونو کې پیدا کړي:

غوره اخلاق، امانتداري، رښتینولي، خپلوي پالنه، له بېوزلو سره مرسته، مېلمه پالنه، له بدو او ناوړه عملونو څخه ځان ژغورل، زړورتیا، انصاف او عدل، حکمت، پاک لمنې، پرهیز ګاري، قناعت، نرمي، صبر، شکر، حیاء،په عهد او وعده وفاء، خاکساري او تواضع، ښېګڼه او احسان.

پورته ذکر شوي صفتونه هغه څه دي چې د ټولنیز ژوند سره تړلي دي او ټولنیز ژوند ته ښکلا ورکوي. الله تعالی دې زمونږ په ټولنه کې هم دغه یاد شوي صفتونه د ټولنې د وګړو د ښه ټولنیز ژوند لپاره پیدا کړي.

د سالې او غوره ټولنې په هیله

دننګرهار د زراعت او کانال مسؤل محترم مولوي عادل صیب سره مرکه :

زراعت، مالداري او د کانال پروژه د هیواد اقتصادي زیر بناء اوپه رغونه یې زمونږ اقتصاد د پرمختګ پر لـــور تللای شي!

پوښتنه :هیله ده لـه دود سره سم خپـل خـان لوستونکیو معرفي کړی؟

ځواب : الحمدالله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی!

نـوم مـې مولـوي عـادل او د ننګرهـار ولایـت د روداتـو ولسوالی.اوسیدونکی یـم ،دخپلـې زده کـړي پـه ارتباط به درته ووایم، چې له جامعه امـداد العلـوم څخـه فـارغ شـوی یـم اوبیـامې خپـل تحصـیل تـر لیسـانس او ماستری،پورې غځولی، چې لـه نیکـه مرغـه مـې دا بـری لیکونـه د جامعـة الاسـلامیة العالمیـه اسـلام آبـاد څخـه ترلاسه کړي دي او دخپل مسؤلیت په ارتبـاط بـه ووایـم ،چې اوسمهال دننګرهار د زراعت او کانال مسـولیت پـه غاړه لرم .

پوښتنه : له نیکه مرغه چې تاسو لوړې زده کـړي لـرئ ،آیـا ویـلای شـئ ،چـې څنګـه مـو پـه نـور و ترجیحاتوسربیره داسلامي امارت په محدوده کې جهاد ي او اداري خدمت انتخاب کړ ؟

ځـواب :رښـتیا هـم چـې دا کـار چـې مـا ،کړ،دیـوه غښتلې احساس پر بنیاد مې کـړی اوداسـلامي امـارت لیکـې چې له نیکانوخلکو نـه ډکـې دي او ددینـي علماوولخـوا اداره کیـږي او علـماء یـې قیـادت کـوي یقینـاً دا مـې خـان او نوروارونداوملګرو ته یو سعادت وباله ،که نه نور ې چارې هـم وي او نورې ګنې اداري هم وي ،خوما دالله جـل جلالـه درضـا لپاره دعلماوو صف دخپل خدمت لپاره غوره کړ،د افغانستان تـاریخ چـې وګـورې ،درتـه بـه جوتـه شي، چـې همـدې علماوو،طالبـانو او روحـانیونود افغانسـتان دخپلـواکی. او استقلال لپاره دیرغل په ټولوادوارو کې ډیرې سرښندنې کړي اوافغان مسلمان ولس ته یې ښیرازي راوړي ،نـو زه هـم ویـاړم چې ددې متبرک صف لاروی یم .

پوښـتنه :دافغانسـتان د اقتصـاد پـه رغیـدو او غورځیدوکې زراعت ،مالداري او دکانال پروژه څومره اغیز لـــرلاس شي او کـــه ښـــه پـــه دقـــت اوپاملرنـــه دجیولوجیکواقتضـاآتواو غوښـتنودپوره کیـدو سربیـره یـې داوبو،کود،پیوندکرهنه او نورومسلکي اړتیـاوې پـوره شي، نو ستاسو په نظر به یې حاصلات پرېخوا ډیر شي ؟

ځواب :د ننګرهار زراعـت او کانـال د هیـواد پـه کچه ډیره ستره او په زړه پورې پروژه ده، چـې د ولـس او هیوادوالو اقتصـادي او زراعتـي ګټـې ورسره تړلـې دي او ګانده کې هم ددې هیلـې شـته، چـې اسـلامي امـارت بـه ترخپلې وسې پـورې وکـړای شي، چـې دا پـروژې پـه پښـو ودروي.

خوله بده مرغه چې دانقلابي شرایطو لـه وجـه مالتـه باغونو ،نارنج باغونو اود زیتونو فارمونو ته ډیره صـدمه رسـیدلې وه او مخکنیـو جنګونـوکې یـې ډیرزیـان لیـدلای وو،زراعـت ،مالداري او کانال دیوې سیمې اقتصادي زیر بناء پـه رغیـدو او پرمختګ کې عمده رول لري، که مسؤلین ورته نـوره توجـه هـم وکړي ،نو شاید کرهنه یې مترقي شي ،دډیرو خلکو بلکـې زمـونږ دولس دښیرازی. سبب به شي .

پوښـتنه :د دې پروژودبیـا جـوړونې لپـاره موکـوم ډول کوټلې ګامونه پورته کړي دي که نه ؟

ځواب : هو ولي نه ،الحمدالله د فارمونو پالنـه او بیـا رغونه په ډیر ښه ډول سره په مفتوحـه علاقـو کـی دوام لـري،

چې زمونږ ځوريدلې ولس ورځخه عمده حاصلات اخلي ،همدا دکانال دځنګلاتو ،مثمرو او غير مثمرو ونو او نهالونوساتنه اوحفاظت هغه خدمات دي ،چې مونږ هلته ترسره کړي او نور به هم تر خپلې وسې پورې دکانال دسمسورتياو ښکلا هڅې ګرندی ساتو!

پوښتنه : د کانال پروژه چې ډير زيان يې هم ليدلی او قرار معلومات بعضې بوټي يې هم داوبو دنشتوالي په وجه وچ شوي هم دي اوس هم زمونږ د ولس د زراعت او مالداری په برخه کې د ستونزو حل کولو توان لري ؟

ځواب : هو ! دغه پروژه ،دسيمې د ولسونو او قومونو دهقانانواو کروندګرو لپاره په زراعتي ځمکو سربيره د مالداری او سرسبزی ښه مواقع لري، چې دهر موسمي کال اوهر فصل جريان کې ډير عوايد او حاصلات ورځخه تر لاسه کوي .

پوښتنه :آيا هغه شرکتونه يا زراعتي موسسات ، چې د زراعت په بخش کې کار کوي ،کله موددې پروژې دښيرازی لپاره تشويق کړي دي ترڅو د بزګرانو لپاره تخم ، کود او زراعتي اسباب تيار کړي ؟

ځوب : بلي! تقريباً دري يا څلور داسې شرکتونه وو ، چې د هقانانو سره به يې په زراعتي موادو کې مرستې کولې، چې هغوئ ته مو هم ځمکه واک کې ورکړې ده، ترڅو ددهقانانو لپاره سالم تخمونه او زراعتي مواد تهيه او د ولس او بزګرانو مشکل حل اوفصل کړي .

پوښتنه : د نويو ونو او بوټو د کښت لپاره مو پاملرنه کړي ده ؟

ځواب : الحمدالله پروسې کال مو هم ددويم فارم په ساحه کې تقريباً ددوه زره(۲۰۰۰) شاوخوا زيتون او وګليتيس بوټې کرلې او د راتلونکې لپاره هم انشاالله امادګي لرو، که ژوند راسره ياري وکړه .

پوښتنه :آيا دننګرهار دکانال او زراعت د بيارغونې اواحياء لپاره موکوم کاري پلانونه پام کې شته ؟

ځواب : لله الحمد د کانال د بيا رغونې لپاره مو ډير زيات زيار ايستلی او د کانال جوړونه د مؤسساتو او زراعت کميسونو له خوا د يوه شرکت سره په ګډه همکاري دوام لري، چې تر ډيره حده پورې پکې پرمختګ شوي .

پوښتنه : کوم فارمونه چې د اسلامي امارت په مفتوحه سيمو کې دي، د هغې دحفاظت لپاره څه ډول نظم او دسپلين لرئ که وضاحت پکې وکړئ ؟

ځواب : الحمدالله دښه نظم او ترتيب لپاره داسلامي امارت لخوا دکرهنې او زراعت په چارو کې دمحترم مولوي لطف الله صيب په مشری د زراعت کميسون په فعاليت بوخت دی ، دزراعت کميسون د هر ولايت او ولسوالی لپاره خپل خپل مسؤلين او مشران ټاکلې دي ، چې ددوئ ترشا زيات مجاهدين اوخصوصي ټيمونه فعال دي اود امارتي ځمکو،ځنګلاتواو نوروبنسټونو څخه په کلکه دفاع او ساتنه کوي .

پوښتنه :په آخر کې مجاهدينواو هيوادوالو ته څه پيغام لرئ؟

مجاهدينو ورونو ته خصوصاً او هيوادوالو عموماً د ا پيغام لرو، چې دخپل وطن او ولس په اخلاص سره خدمت وکړي او د اسلامي امارت ملا تړې شئ، ترڅو د دغه اشغال ګرو څخه چې زمونږ ملي شتمني يې لوټ کړي ،زمونږ زراعت او مالداري يې ويجاړه کړي او مونږته يې سيکولريزم ارمغان کړی ، ځانونه خلاص اوپای کې يوه مترقي او خپلواک افغانستان کې ديوه شرعي نظام پلي کيدوته لاره هواره شي !

د يو سوکاله او نيکمرغه اسلامی نظام په هيله !

جنګي جنايتونه
(فبروري)

سید سعید

د روان(۲۰۱۷،ز) کال د فبروري دمیاشتي په لومړۍ نیټه دخوست ولایت د صبریو ولسوالۍ په بازار کي داخلي عسکرویوماشوم په خپل دوکان کي شهید کړی او دنومورې دتره زوی یې ژوبل کړی دی.

د فبروري په ۲مه دننګرهارولایت سرخرودولسوالۍ په چمتلي سیمه کي اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملتیا دملکي خلکوپه کورونوچاپه وهلې، کورونه یې تلاشي کړي،خلګ یې وهلي او اووه تنه یې بندیان کړي دي.

د فبروري په ۲مه شمشاد ټلویزیون خبر ورکړ چي دپکتیکا د برمل ولسوالۍ په ټنډېرغۍسیمه کي سرحدي پولیسو یو ۱٦کلن هلک شهید کړ ی دی.

د فبروري په ٦مه دلغمانولایت دالینګار ولسوالۍ په میدانیو سیمه کي د داخلي عسکرو دهاوان په برید کي درې تنه ولسي- وګړي شهیدان شوي او څلور تنه ټپیان شوي دي.

د فبروري په ۵مه دننګرهارولایت چپرهارولسوالۍ په دولت زیو سیمه کي داشغالګرو دچورلکي په برید کي یو ملکي هیوادوال شهید شوی دی.

د فبروري په ۹مه دهلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ بازار ته نژدې دیرغلګرو په درنو بمباریو کي ولسي- خلګو ته لوی زیان رسیدلی،په یادشوي بمبار کي شپږ ویشت تنه ولسي- هیوادوال چي زیاتره یې ښځي او کوچنیان دي شهیدان شوي او دیارلس تنه ملکي وګړي ټپیان شوي دي،همداراز په دغه بمبار کي یو مسجد او دوه کورونه هم ویجاړ شوي دي.یرغلګرو او ګډ حکومت لومړی په دغه بمبار کي د ولسي- مرګ ژوبلي څخه انکار کاوه،خو وروسته یې ومنله چي په پیښه کي ملکي خلګو ته لوی تاوان اوښتی دی.

د فبروري په ۱۱مه دهلمند ولایت دسنګین ولسوالۍدحاجیامیناکادشې لېپرسیمه د یرغلګرو

په بمبار کي د يوې کورنۍ پنځه تنه غړي شهيدان شوي اواته تنه ژوبل شو ي دي.

دفبروي په ۱۲مه داروزګان ولايت دخاص اروزګان ولسوالۍ په شالۍ ناوه سيمه کي دګډ حکومت په بمبار کي پنځه تنه ملکي وګړي ټپيان شوي دي.

د فبروري په ۱۶مه دفارياب ولايت د شيرين تګاب ولسوالۍ په ګورزاد سيمه کي د داخلي عسکرو دتوپچي په ډزوکي يو ۷۵کلن سپين ږيری شهيد شوی او يو بل ولسي وګړی ژوبل شوی دی.

د فبروري په ۱۹مه د ننګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالۍ په هاشم خېلو سيمه کي يرغلګرو او کورنيو عسکرو چاپه وهلې،د کورونو دروازې يې ماتي کړې،خلګ يې وهلي، شتمنۍ يې ورځخه وړې، د سيد عارف په نوم يو ملکي وګړی يې شهيد کړی او شپږ تنه جومات کي ميشت تبليغيان او ځلور تنه کليوال يې بندیان کړي دي.

د فبروري په ۲۰مه د پکتيا ولايت د زرمت ولسوالۍ په نيکنام کلا سيمه کي دځايې عسکرو دتوپچي په ډزوکي يوه ماشومه شهيده شوې او ځلور تنه کوچنيان او ښځي ژوبل شوي دي.

د فبروري په ۲۱مه د سرپل په سنګچارک کي اربکيانو يو ملکي وګړی شهيد کړی او يو بل يې زخمي کړی دی.

د فبروري په ۲۲مه دکندز ولايت ددښت ارچي ولسوالۍ په مرکز ي سيمه کي دداخلي عسکرو ددیسي توپ په ډزوکي لس تنه ملکي وګړي شهيدان او ټپيان شوي دي.

د فبروري په ۲۲مه دزابل ولايت دنوبهار ولسوالۍ په بټخيلوسيمه کي يرغلګرو د چاپې پرمهال ځلور تنه ولسي وګړي بنديان کړي دي.

د فبروري په ۲۲مه د ننګرهار ولايت د غني خېلو ولسوالۍ په مربوطاتو کي اشغالګرو ځواکونو د کورنيو عسکرو په ملتياچاپه وهلې،دوه تنه ولسي وګړي يې ټپيان کړي او درې کسان يې بنديان کړي دي.

د فبروري په ۲۲مه دکاپيساولايت دالې سای ولسوالۍ په حسين خېل کلي کي دحکومتي ځواکونو دهاوان مرمۍ پر يو کور لګيدلې،په پيښه کي د ناوې په ګډون درې ميرمني شهيداني شوي او يو تن ټپي شوی دی.

د فبروري په ۲۳مه د فراه ولايت د فراه رود ولسوالۍ په بازار کي داخلي عسکرو شپږ دوکانونه او دوې باغچې ويجاړي کړي دي.

د فبروري په ۲۴مه دغزني ولايت دآب بند ولسوالۍ په خدوخيلو کلي کي اربکيانو يو ملکي

وګـــړی(فیضـــالله دځارنوالمحمـــد سرورزوی) شهید کړی دی.

د فـبروري پـه ۲۴مـه دکنـدوز ولایتـدمرکز اړونـد دلـوی کـنم پـه سیمه کي یرغلګرو د داخلي عسکرو په ملتیاد چاپې پـه مهـال ډزي کـړي چـي لـه املـه یـې ځلـور تنـې ښـځي ټپیاني شوي دي.

د فـبروري پـه ۲۵مـه دکنـدوز ولایـت مرکـز اړونددچبرمـه اوامـین ابادپـه سـیموکي یرغلګـرو ددا‌خلي سپیشل فورس عسکرو په ملتیادخلګو په کورونو چاپه وهلې، د کورنو دروازې یې پـه بمونـو الوزولي،ګڼ شمېر هیوادوال یـې وهـلي او تهدیـد کړي او دوه تنه یې له ځان سره دبندیانو په توګـه بیولي دي.

د فـبروري پـه ۲۵مـه دلغمانولایـت مرکـز مهترلام اړوند بسرام سیمه کـي دمولـوي حبیـب الرحمن پر لیسه د داخلي عسکرو د هاوان په په برید کي دوه زده کونکي شهیدان شوي او د یـوه ښوونکي په ګډون اووه تنه زده کونکي ژوبـل شـو ي دي.خلګـو دغـه پیښـه غنـدلې او دشـهیدانو جسـدونه یـې داحتجـاج پـه توګـه د والي ددفـتر مخي ته ایښي وو.

د فــبروري پــه ۲۵مــه دننګرهــار ولایــت دسرخرودولســوالی پــه کنکــرک ســیمه کــي اشغالګرو او داخلي عسکرو په ګډه چاپـه کـي یـو شمېر ملکـي خلـګ وهـلي او دوه تنـه یـې بنـدیان کړي دي.

د فـبروري پـه ۲٦مـه دزابـل ولایـت دخـاک افغان ولسوالی،دګرګ بازارته ځیرمه په پچک کلي کي د داخلي عسکرو په هوایې برید کي دوه تنـه ولسي هیوادوال شهیدان شو ي دي.

د فبروري پـه ۲٦مـه د کنـدز ولایـت د مرکـز مربـوط پـه بـز کنـدهاري سـیمه کـي یرغلګـرو دکورنیو عسکرو سره په ګډه چاپه کي یو ملا امام شهید کړی او یو شمېر ولسي وګړي یې اسـیران کړي دي.

مأخذونـــه :[بي بي سي راډیـــو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبریال ویبپاڼه ،لراوبر=،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

د مورچل ویاړی پسرلی راغلی

نظام کندهاري

حکیمي

ناقراره زړه

نـن زهیـر یـم نـن مـې مـه څېړی ملګـرو
نـن د ګـل غونـدې غـازي لـه دنیـا تللـــی

نـن د سـترې سـوبې سـتر فـاتح شـهید دی
هغـه سـتر انقـلابي لـه دنیـا تللـــــی

نـن مـې روح د چالـه غمـه نـا قـــرار دی
نـن سـکون مـې د زړګـي لـه دنیـا تللـــی

څـه پـه جګـو سـترګو ځـي د یـار دیـدار تـه
څـه پـه سـتره قربـانی لـه دنیـا تللـــی

چـه د رسـونه د ایثـار یـې تـرې زده کـړي
هـــا اسـتاد د حکیمـي لـه دنیـا تللـــی

د ګلشـن په لـور نسیـم ګرنـدی راغلـی
نـوي زیـري یـې راوړی مسـکی راغلـی

د شـپېلی نغمـې یـې ورو ورو رانـژدې شـوې
د دې پـوري غـره لـه سره شپـونکی راغـلی

صـف د زانـو اقتـداء ورپسـې وکـړه
دا دی بیـا هغـه امـام پسـرلی راغلـی

چینار شیـن د پانو شـال پـر ګودر خـور کړ
ځکه څنګ ته یـې نـن بیا شین منګی راغلی

غـوټی پـیغلي شـوې موسـم یـې د بښکلا شـو
و دیـدن تـه یـې بلبـل خنـدنـی راغلـی

هلـه! شنـې درې لـه خـوبه شـه راویـښـه
ستـا و غیـرې تـه ګلمخـی زلمـی راغلـی

ورکـوي چـې د عـبرت درس افلاطـون تـه
ای نظامـه! هغـه مسـت لېونـی راغلـی

مړې ډيوې

(پوهنمل محمد وارث)

ددې کلي ډيوې مړې دي
رڼا نشته دی تيارې دي

هره خوا ېې خاموشي ده
ګونګې شوې ترانې دي

له ګودره زګيروی خيژي
پرې مرګونې ننبانې دي

مازديګر هم مرور دی
له ژړا يې سترګې سرې دي

تقصير نشته د ګلانو
د غوټيو مرې پرې دي

دا د کوم ظالم له لاسه
چې پرې ډکې هديرې دي

د غيرت پدې ټاټوبي
نڅولې چا چړې دي

څه غدی ده راپريوتې
شاړې شوې چې حجرې دي

د شملو سرونه نشته
پرې انبار خاورې پرتې دي

دا د کوم شهيد مزار دی
چې تړې پاتې خاطرې دي

د غيرت مورچله وران شوې
لېلام شوې دې ديرې دي

له شپونکي پوښتنه وکړه
چې په برخه يې ميرې دي

زما کلي اور اخيستی
هره خوا يې سرې لمبې دي

دا حالات به وي ترکومه
د هر چا په زړه ګيلې دي

اوس سپرغی نه ستوري جوړ شوه
ټولې لارې مو رڼې دي

اميدونه را ټوکيږي
دا د ټولو تلوسې دي

تر منزله به رسيږو
لنډې شوې فاصلې دي

له تيارونه اوس راوځو
خپرې شوې پلوشې دي

نور ډاډه اوسه (وارثه)
مو سپيځلې ارادې دي

۲۰۱۷ زکال

د فبروري میاشتې جهادي خبرونه

د امیرالمـؤمنین هبة الله اخندزاده حفظه الله د فرمان سره سم
د هیـواد په ګنو ولایتونو کې د نیالګیو نهالولو پروسه عملي شوه!

ISLAMIC, JIHADY , EDUCATIONAL
AND CULTURAL MONTHLY JOURNAL

MORCHAL

د بشر د حقوقو مدعيان دې ځواب ووايي!!